# اصول السنۃ

# لرد البدعۃ

تالیف

امام المجاہدین قدوۃ المحدثین رئیس المفسرین محی السنۃ الغراء

ماحی البدعۃ الظلماء مرشد العلماء شیخ القرآن والحدیث مولانا محمد طاہر رحمہ اللہ

الناشر

مکتبۃ الیمان پنج پیر صوابی خیبر پختونخوا

Scanned by CamScanner

# عظیم الشان خوشخبری

## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیامیں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

### نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر ، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**WhatsApp:0320-1914145**

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے

# اصول السنة
# لرد البدعة

پښتو ترجمه

مصنف :

امام المجاهدين قدوة المحدثين رئيس المفسرين محي السنة الغراء
ماحي البدعة الظلماء مرشد العلماء شيخ القران والحديث
مولانا محمد طاهر رحمه الله الغافر

مترجم :

مفتي خالدالرحمن ( پنج پير )

الناشر

مكتبة اليمان

دارالقران پنج پير صوابي پاكستان

٠٣٤٦٦٤٥٤٣١٥٢

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے

ټول حقوق محفوظ دي

د كتاب نوم : اصول السنة لرد البدعة

مصنف : امام المجاهدين قدوة المحدثين
رئيس المفسرين محي السنة الغراء
ماحي البدعة الظلماء مرشد العلماء
شيخ القران والحديث
مولانا محمدطاهر رحمه الله

مترجم : مفتي خالد الرحمن ناصح ( پنج پير )

كمپوزر : مولوى نقيب الله حنيف
۰۳۰۰۵۸۷۵٤۲۵

الناشر : مكتبة اليمان پنج پير

د چاپ خاني : دار التوحيد والسنة پشاور

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



فهرست

د شیخ القرآن نور الله مرقده مختصر تعارف ............ ٦
مقدمة المؤلف ............ ١٦
رومبی حصه په تعریف او تقسیم د بدعت کښې ............ ١٩
تتمه ............ ٢٢
باب : په بیان د نقصاناتو د بدعت کښې ............ ٢٣
بدعت مستلزم دی خو امورو لره! ............ ٢٣
فصل په بیان د هغه امورو کښې چه د هغې نه بدعات پیدا کېږي ............ ٣٨
باب په باره د یرې کښې د خلاف د سنت نه او په باره د بدئ د بدعت الخ ٥١
فصل دی په بیان د دلائلو د مبتدعینو کښې ............ ٦٣
دویمه حصه رومبی قاعده ............ ٦٨
التفریع: تفریع کوو مونږ په ما سبق قاعدې باندې یو تبصره ............ ٧٧
دویمه قاعده ............ ٧٩
ثواب په اتباع کښې دی نه په ابتداع کښې تابعداري د پیغمبر ............ ٧٩
په دې قاعدې د یو خو مروج بدعاتو تفریع ............ ٩٠
دریمه قاعده په باره د اتباع کښې ............ ٩٠
تتمه ............ ٩٩
په مذکوره قاعدې باندې تفریع ............ ١٠١
خلورمه قاعده ............ ١٠٣
اقتداء د صحابه کرامو رضی الله عنهم دین دی ............ ١٠٣
په مذکوره قاعدې باندې تفریع ............ ١١٠

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے




پنځمه قاعده ........................................ ۱۱۰

هر يو نوى كار په دين كښې بدعت دى نو په دين كښې نوى كارونه الخ ۔ ۱۱۰

شپږمه قاعده ........................................ ۱۱۷

هر يو بدعت ګمراهي ده ........................................ ۱۱۷

خلاصه د بحث ........................................ ۱۲۱

په مذكوره قاعدې باندې تفريع ........................................ ۱۲۲

اوومه قاعده ........................................ ۱۲٤

په رائى عمل كول ګمراهي ده ........................................ ۱۲٤

په مذكور قاعدې باندې تفريع ........................................ ۱۳۰

اتمه قاعده قول او عمل د مشائخو دليل نه دى د دلائلو د شرع نه ........ ۱۳۱

په مذكوره قاعدې باندې تفريع ........................................ ۱۳۷

نهمه قاعده ........................................ ۱۳۹

عام كيدل د يو كارد هغې په جواز دليل نه دى ........................................ ۱۳۹

لسمه قاعده ........................................ ۱٤٥

ذكر كړى شوې قاعدې باندې تفريع ........................................ ۱۵۲

يولسمه قاعده ........................................ ۱۵۲

د مشتبه خبرونو پريښودل د دين حصه ده ........................................ ۱۵۲

يولسمې قاعدې باندې تفريع ........................................ ۱۵۹

دولسمه قاعده ........................................ ۱٦۱

ديارلسمه قاعده ........................................ ۱۷۱

استحباب يو شرعي حكم دى ........................................ ۱۷۱


Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



خوارلسمه قاعده............................................ ١٧٨
نیک عملو نه هغه دی چه شریعت جائز کړی وي.................. ١٧٨
پنځلسمه قاعده............................................ ١٨٥
شپاړلسمه قاعده............................................ ١٩٠
اوولسمه قاعده............................................ ١٩٨
په عباداتو کښې هئیت او مقدار مقرر کول او تخصیص (د زمان او مکان)
صرف د شارع حق دی............................................ ١٩٨
په اولسمه قاعده باندې تفریع............................................ ٢٠٥
اتلسمه قاعده............................................ ٢٠٦
د مطلق مقید کول په وصف او هیئت سره دا د ځان نه شریعت جوړول دي ٢٠٦
د احکامو دارومدار مقصود په وي او معروف په شان د مشروط وي ..٢١٣
په مذکوره قاعدې باندې تفریع............................................ ٢٢٣
شلمه قاعده............................................ ٢٢٤
خاتمه............................................ ٢٣٥
د رسمونو پرینبودل هم د دین حصه ده............................................ ٢٣٥

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بسم الله الرحمن الرحيم

## د شيخ القرآن نور الله مرقده مختصر تعارف

الحمد لله الذى لاياتى عليه نوم ولا نغاس ولا سنة ، الذى وفقنا لاشاعة التوحيد والسنة بالأقلام والألسنة ، والصلوة والسلام على نبيه المصطفى المجتبى أما بعد !

د كله نه چې دنيا وجود ته راغلى دہ نو په هر دور كې حق او باطل په ميدان كې يو بل سره مقابل وي كله د باطل وقتى او عارضى گټه وى نو كله حق غالب شى او خپل نه ختميدونكى اثرات په دنيا پرېږدي د حق تابعدار كله كله په بيان او دفاع دحق كې خپل ځانونه قربان كړي خو د هغوى په قربانۍ سره حق روكيږي نه بلكه نور هم مضبوط شى په هر دور كې حق پرست په مختلفو نومونو او لقبونو سره يادولى شى خو مقصد مرام او غرض د ټولو يو وي چې هغه د الله توحيد او سنت د پيغمبر خلقو ته رسول دى په دغه لړ كې يو نوم د قرآنى انقلاب د سرلسكر سلطان المناظرين رئيس المفسرين شيخ القرآن والحديث مولانا محمد طاهر پنج پيرى نور الله مرقده هم دى .

نباغلى په فرورى ١٩١٦ ء كې د خيبر پختونخواه د صوابى په سيمه پنج پير نومى كلى كې په يوه زميداره كورنۍ كې په هغه وخت كې ستركي اوغړولى چې د پښتنو په سيمه دشرك او بدعت ځادر غوړيدلى وو . باطل پرست موليان او ناكاره پيران د پښتنو په حونو ړنګولو كې امونخته وو . عجيبه دا وه چې دا هر څه د دين او آخرت په نوم كيدل نو پښتنو په دوى باندې خپل مال او جائيداد تالا كول د دنيا او آخرت د پرمخ تګ سبب

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کښلو ۔ ښاغلی شیخ القرآن هم د یتیم والی په دور کې دغې ظلمونو سره مخ شوی وو خو پښتانه وائی د نر څوی ژړا په زانګو کې پیژندې شی د هغه وخت نه یې ددی ظلمونو ختمولو کلکه اراده کړې وه ۔

شیخ القرآن رحمه الله تعالیٰ ابتدائی تعلیم د پلار په ژوند کې په خپل کلی او خوا او شا کې حاصل کړو ۔ بیا کوهاټ کوډئی باندئی ته مولانا حبیب شاه له چې په اصل کې د پنج پیر اوسیدونکی وو د اُصول فقه او میراث لوستلو د پاره لاړو او د هلته نه مولانا عبد اللطیف بیاری رحمه الله تعالیٰ سره لاړو چې هغه د ریاست دیر په جندول بیار کې اوسیدو لیکن په دغه وخت کې کربوغه شریف ته د خپل پیر د ملاقات دپاره تلی وو او هلته دیر وخت د پاتې کیدو اراده یې لرله ۔ ددی وجې نه شیخ القرآن رحمه الله تعالیٰ کربوغې ته لاړو اوهلته یې د مولانا عبد اللطیف رحمه الله تعالیٰ نه د منطق کتابونه اولوستل ۔

په دغه زمانه کې د ترنګزو حاجی صاحب رحمه الله تعالیٰ د انګریز خلاف د جهاد اعلان کړی وو ۔ مولانا عبد اللطیف چې د شیخ القرآن په ملکرتیا کې بیار ته واپس شو نو خپل مریدان یې د جهاد دپاره جمع کول شروع کړل ۔ چې انګریز خبر شو نو د دیر نواب ته یې ډیر رقم ورکړو چې مولانا عبد اللطیف او دوه دری نور ستر عالمان نظر بند کړی ۔مولانا عبد اللطیف سره مولانا حبیب شاه او شیخ القرآن هم خلور میاشتی نظر بند وو په دغه وخت کې د شیخ القرآن عمر څوارلس کاله وو ۔

د دیر نه چې رهائی ملاؤ شوه نو شیخ القرآن پیښور بهانه مانړي ته لاړو هلته یې د مولانا خان بهادر مارتونګ بابا رحمه الله تعالیٰ نه د منطق څنې

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کتابونه اولوستل -دی نه روستو په مکهډ شریف کې یې د مشهور منطقی مولانا محمد شاه رحمه الله تعالیٰ نه یو کاله پوری منطق او فلسفه اولوستل۔ دمدرسی د مهتمم د طرف نه ورته د کتب خانی د استفادی اجازت شوی وو نو شیخ القرآن به د جمعی شپه او ورځ د کتابونو په مطالعه کې تیروله۔ چې د مکهډ شریف درسی کال ختم شو نو شیخ القرآن په شعبان ۱۳۵۱ ت قریبا۱۹۳۲ء کې د مولانا حسین علی الوانی رحمه الله تعالیٰ درس ته حاضر شو او د دلته نه د شیخ القرآن په ژوند کې توحیدی او قرآنی انقلاب شروع شو۔ شیخ القرآن د مولانا حسین علی نه تفسیر، حدیث او د شاه ولی الله دهلوی رحمه الله تعالیٰ او شاه اسماعیل شهید رحمه الله تعالیٰ ځنې کتابونه اولوستل - دشپاړسو کالو په عمر کې د مولانا حسین علی په حکم غورغشتو ته د نصیر الدین غورغشتوی رحمه الله تعالیٰ په خدمت کې دوره حدیث لوستلو دپاره حاضر شو۔

د دوره حدیث لوستلو نه پس دوباره د خپل مرشد مولانا حسین علی په خدمت کې حاضر شو او د هغو نه یې کتب سته، هدایه، مکتوبات امام ربانی او رساله تحفه حسینیه اولوستل او مولانا حسین علی ورته د خپل طرف نه سند ورکړو۔ دی نه روستو مولانا حسین علی د خپل خط سره استاذ الکل جامع العلوم مولانا ولی الله انهی والا رحمه الله تعالیٰ له اولیږلو چې هلته یې منطق، فلسفه، ریاضی او باقی مانده فنون درس کړل۔

تقریبا شوال ۱۳۵۳ کې دیوبند ته لاړو۔ د دیوبند ناظم تعلیمات مولانا اعزاز علی رحمه الله تعالیٰ ترې ډیر اورږد امتحان واغستو او د شیخ القرآن د ذهانت نه ډیر متاثر شو۔هلته د مولانا حسین احمد مدنی رحمه الله تعالیٰ په

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



درس حدیث کې شامل شو. دی نه علاوه يې د مولانا اعزاز علی تقریرحماسه او تقریر متنبي په یواولس سوه صفحاتو کې اوليکل. شيخ القرآن په دیوبند کې د مازیګر په وخت کې معلقات، مقامات حریری، متنبي، حماسه، قاضی اوعلم طب اولوستل. په کال ۱۹۳۵ء کې د دارالعلوم د یوبند په امتحان کې په امتیازی شان سره کامیاب شو. د سند اغستلو نه روستو یوکال پوری د مولانا اعزاز علی په حکم ضلع بلند شهر ګلاونهی کې مدرس وو. دکال په ختمیدو يې د مولانا اعزاز علی نه وطن ته د واپسي اجازت واغستو. چې کله وطن ته واپس شو نو د مولانا حسین علی په لاس يې بیعت اوکړو.

مولانا حسین علی د خپل استاذ مولانا محمد مظهر نانوتوی رحمه الله تعالی په نوم باندې په میانوالی کې یوه مدرسه جوړه کړی وه چې د هغی څه مستقل عمارت هم نه وو بلکه د کرائي په کور کې به کار کولی شو. مولانا حسین علی شيخ القرآن هلته مدرس مقرر کړو. شيخ القرآن د دوو کلونو د سخت محنت او مشقت نه روستو دغه مدرسه په خپلو خپو اودروله. دغه مدرسه يې د سلطان علی جومات ته منتقل کړه چې نن هغه د حسيني فکر لوئی مرکز دے.

په کال ۱۹۳۷ء کې شيخ القرآن د بمبئي نه د بحری جهاز په ذریعه د حج په اراده باندې روان شو. په دغه زمانه کې امام انقلاب مولانا عبید الله سندهي رحمه الله تعالی په مکه کې اوسيدو، د هغو نه يې استفاده اوکړه. د حج په فراغت باندې شيخ القرآن په مدینه کې د دوه میاشتې د قیام کولو اراده اوکړه نو مولانا سندهي ورته دری خطونه ورکړل. یو خط د ترک د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سابقه قاضی القضاة په نوم وو۔دویم خط د مکتبه شیخ الاسلام د ناظم په نوم وو چي هغه په تاته د قلمی نسخو د مطالعی اجازت درکړی او دریم خط دمشهور محدث شیخ عمر بن حمدان الفاسی المغربی رحمه الله تعالی په نوم باندي - شیخ القرآن د شیخ عمر بن حمدان الفاسی نه د بخاری ځنی مقامات اولوستل او دحدیثو او فنونو سند او اجازت يې تری حاصل کړو۰

د حج په واپسے يې د میانوالی د تدریس نه استعفی ورکړه او خپل کلی پنج پیر ته واپس شو۰ په کال ١٩٣٨ء کې يې مولانا حسین علی پنج پیر ته راوبللو۰ د صوابی او دچهچه سل علماء يې راجمع کړی وو۰ مولانا حسین علی دری ورځی درس قرآن ورکړو او شیخ القرآن يې په دی علاقه خپل نائب اوټاکلو۰

شیخ القرآن د ډیر غور اوفکر نه پس په دی نتیجه رسیدلی وو چي پښتو معاشره کې د ملا د بې قدره کیدلو او بدعاتو ته د محتاج والی بنیادی وجه دا وه چي دمولیانو د معاش څه ذریعه نه وه نو دین يې د معاش د طلب ذریعه ګرځولی وه۰ شیخ القرآن د معاش د طلب د پاره د اوړو بومشین پنج پیر کې او بل د مستری محمد دین په شراکت کې په تورډهیری کې اولګوو دی سره سره به يې د امرتسر نه د چائ کاروبار هم کولو۰ دی علاوه يې په زیده کې په شراکت سره یو دکان هم کړی وو او هم په دغه دکان کي تري شاه منصور بابا د قرآن تفسیر لوستي وو چي د هغي ګواهان مشهور او معروف دي ۰ د ټرانسپورټ په لړ کي هم شیخ القرآن برخه اغستی وه یو ډانسن او څو ټرکونه يې چلیدل ،چي د هغی نه يې بعضی ١٩٦٥ء په جنګ د فوجی خدمت د پاره وقف کړی وو۰ لنډه دا چې شیخ القرآن د معاش په مد کې په خپلو اولاړ وو چاته محتاج نه وو۰

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شیخ القرآن د تعلیمی مساوات په فلسفه باندې کار بند وو نو څکه يې خپل ځان طالبانو ته په تدریس کې نه وو بند کړی بلکه هغې سره سره يې عمومی درس قرآن هم ورکولو ۰ د شیخ القرآن د درس پرانسته خو مولانا حسین علی ۱۹۳۸ء کې کړی وه ،خو تقریبا په ۱۹۴۷ء کې يې د دار القرآن په نوم د یوی عالمی جامعی بنیاد کیخودلو اومستقل درس قرآن يې په ۱۹۵۵ء کې شروع کړو۰

د شیخ القرآن د ژوند اکثره حصه په دعوت د توحید او سنت کې تیره شوی ده خو چې کله به د دعوت ماحول سازګار نه وو د خلقو مقاطعه به وه یا به حکومتی پابندی وه نو شیخ القرآن به تصنیف ته متوجه شو۰ په دغه لړ کې شیخ القرآن د خپل علمی سمندر قیمتی جواهر دنیا ته ښکاره کړل چې د هغې یو څو د لوستونکو د نظر وړاندی کوم۰

[۱] البصائر للمتوسلین باهل المقابر :د شرک په رد کې لیکل شوی دا کتاب دشیخ القرآن دتوحیدی فکر یو لوئی مظهر دے۔ په دی کتاب کې شیخ القرآن د مشرکینو دلائل د جولاګې د جالی غوندې کمزوری ښکاره کړی دی۰ مذکوره کتاب د قطر د حکومت د خوا نه په سرکاری خرچې سره د قطر حکومت په تقریظ د شیخ عبد الله انصاری سره شائع کړی وو۰د کتاب په اول کې د محترم شیخ خان بادشاه زید مجده " التقابل الاجمالی لاظهار غواية الغوی" په نوم باندې یوه رساله لکیدلی ده او دی سره يې په البصائر باندې حاشیه " ارشاد الناظر فیما افتری به الغوی الفاجر" هم لیکلې ده۰ پروفیسر صدیق الرحمن د کتاب اُردو ته ترجمه کړی ده هیله لرو چې دیر زر به شائع شی۰

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



[۲] نیل السائرین فی طبقات المفسرین :مذکوره کتاب د مفسرینو په طبقاتو لیکلی شوی دے او د هری طبقی خصوصیات پکښی خودلی شوی دی۰ د نبی علیه السلام نه تر شیخ القرآن پوری دهر مفسر د ژوند حالات د تفسیر نمونه او کمالات یا نقصانات یې هم ذکر کړی دی.مذکوره کتاب پروفیسر غلام ربانی عزیز اُردو ته ترجمه کړی دے.دغه مذکوره اُردو ترجمه د مولانا ډاکټر سراج الاسلام حنیف په تحقیق سره شائع شوي ده۰ نیل السائرین په تحقیق د محمود جیرة الله سره د بیروت نه هم شائع شوی دے۔

[۳] العرفان فی أصول القرآن :شیخ القرآن په دی کتاب کښ دتفسیر طریقه او چل خودلی دے او هغه قواعد او مبادی یې ذکر کړی دی چې په هغی سره د قرآن فهم او تفسیردبر زیات اسانیږی - بناغلی مولانا میر سمیع الحق صاحب په پښتو ژبه کښ ددی کتاب په غیر روایتی انداز کښ ډیر بهترین تسهیل کړی دے چې تسهیل العرفان فی أصول القرآن نوم باندې شائع شوی دے۔

[٤] سمط الدرر فی ربط الایات والسور :دا کتاب د شیخ القرآن د تفسیری نهج یو اجمالی شکل دے چې پکښې دسورتونو نزولی او عثمانی ترتیب ، ربطونه ، خلاصی او امتیازات وغیره ذکر دی. که ددی کتاب په تناظر کښ دقرآن تفسیر اولیکلی شی نو یقینی ده چې ډیر تفصیلی او سود مند به وی.ددی کتاب باره کښ به شیخ القرآن فرمائیل :

کاغذ پہ رکھ دیا ہے کلیجہ نکال کے     تحفہ ہے اُن کے لیے جو صاحب کمال کے

[٥] الانتصار لسنة سید الابرار :د مروجه بدعاتو په رد کښ په اُردو ژبه لیکلی شوی بے نظیر کتاب دے۔

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



[٦] النشاط عن حيلة الاسقاط :د مروجه حيله اسقاط په رد کې ليکلی شوی دا کتاب په ناآشنا علمی او تحقيقی بحثونو مشتمل دے.په دی کتاب باندې هم محترم شيخ خان بادشاه د "الانبساط" په نوم تفصيلی حاشيه ليکلی ده.ددی کتاب اُردو ترجمه نباغلی پروفيسر صديق الرحمٰن کړی ده او په ماهنامه التوحيد والسنة کې قسط وار شائع شوی ده.

[٧] ارشاد الأنام فی ترک الفاتحة خلف الامام : په مشهوره اختلافی فرعی مسئله " فاتحة خلف الامام " کې د حنفی مسلک په تائيد کې ليکلی شوی رساله ده.

[٨] حقيقت مودودی :د مودودی په حقيقت باندې مختصره او جامعه رساله ده ، چې په مختلفو مدونو کې يې د مودودی غلطے په گوته کړی دی.

[٩]الرسالة علی المصافحة بعد العيدين :د رسالی موضوع دنوم نه بخپله واضحه ده.يو ځل شائع شوی ده خو د دوباره چهاپ نوبت يې تر اوسه پوری نه دے راغلی.

[١٠] الرسالة البيضاء فی مسئلة الدعاء :په دعا کې د بعضی اختلافی جزئياتو په تحقيق مشتمله رساله ده.

[١١] اللمعان من خلاصة سور القرآن :په پښتو شعر کې دقرآن د سورتونو په نومونو او مختصرو خلاصو باندې مشتمله رساله ده.

[١٢] بقية الاثار من الحياة المستعار :دشيخ القرآن مختصر خود نوشت سوانح حيات دی.

[١٣] تفسير تيسير القرآن الكريم : دشيخ القرآن د تقاريرو نه جمع کړی دسورة الفاتحة تفسير دے کوم چې مولانا فضل الرحمٰن راشدی جمع کړی

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دے.

[١٤] ضياء النور لدحض البدع والفجور:د بدعاتو او رسوماتو په رد کې مدلل مکمل او مفصل تحقيقي قدم دے.د بدعاتو په رد کې داسې تحقيقي کتاب دے چې د سلفو د طرز تحقيق مقابله کوي.مذکوره کتاب د أصول السنة بسط او تفصيل دے.

[١٥] أصول السنة لرد البدعة :مذکوره کتاب د لوستونکو د سترګو وړاندې دے.اصل کتاب په عربي ژبه کې دے. مفتي خالد الرحمٰن ناصح د پنځ پير انتهائي د قدر وړ دے چې هغو ددې قيمتي کتاب ژباړه پښتو ته په کولو باندې په پښتون قام د غر نه لوئ احسان اوکړو. الله تعالىٰ دې ورته ددې بدله په دنيا او آخر دواړو ورکړي.ددې کتاب أردو ته ترجمه مولانا عبد البر سکر ګاهي رحمه الله تعالىٰ هم کړې ده او د دار التصنيف سعيديه اوګي نه شائع شوې ده.دا کتاب د ضياء النور متن يا خلاصه ده.د بدعاتو په رد کې قديم يا جديد ډير کتابونه ليکلې شوي دي ليکن د شيخ القرآن دا کتاب بې دخه مبالغې نه امتيازي شان لري.په نورو کتابونو کې د جزوي بدعاتو رد په کامل انداز شته خو داسې کلي قواعد پکې نشته چې د هغې په وجه د سنت او بدعت امتياز راشي او د بدعت عرفان حاصل شي.شيخ القرآن په دې کتاب کې ٢٢ قواعد کليه خودلي دي چې د هغې په مدد سره د هر دور د نوي او زړو بدعاتو پيژندګلو کيدې شي.شيخ القرآن هره قاعده په کتاب الله، سنت رسول صلى الله عليه وسلم ،اجماع ، قياس او په اقوالو د علماؤ باندې مبرهن کړې ده او بيا يې په هغې مروجه بدعات متفرع کړي دي.زما په خيال د بدعاتو په رد کې داسې انداز خپلول د شيخ القرآن داسې صدري

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



فکر دے چې د هغو نه مخکې چاته نه دے نصیب شوی.

دقرآنی بصائرو خورونکی ، د سنتو د انتصار مجاهد ، په اُصولو د سنت باندې کلک ، په ضیاء النور سره منور، د قرآنی عرفان په اعلیٰ مقام فائز ، چې د هغو قول او فعل ارشاد الانام وو ، د ژوند شپې او ورځې یې د توحیدی فکر په حقله پشان د سمط الدرر وی ، د بدعاتو زیلی شوی زړونو ته یې د سنت نشاط او بخلو او د ملت بیضاء سره یې مخ کړل ، دخپل ژوند دمرام په سر ته رسولو سره متصف په نیل السائرین وو ، زندگی یې تول په تولہ تیسیر القرآن الکریم اور مرشد الحیران وه.ډیر خُلنده ستوری شاګردان او کتابونه یې بقیة الأثار دی ، په دغه تولو صفتونو متصف دتوحیدی قافلی سر لښکر په کال ۱۹۸۷ء کې د فانی دنیا نه رخصت شو خو کارنامې یې د دنیا په تاریخ کې لمعان دی.د توحید په دعوت کې صابر او شاکر دلوئی رب ستائینه کونکی شیخ القرآن مرحوم دی الله د خطاګانو او لغزشونو نه طاهر کړی او الله تعالیٰ دی ورته د جنت طیب ژوندون نصیب کړی.الله تعالیٰ دی د شیخ القرآن لګولی شوی باغ اشاعة التوحید والسنة عامر ساتی او ددی هر رکن دی الله د الایمان یمان په اکمل صفت سره متصف کړی.

آمین ثم آمین یا رب العالمین

مفتي اکمل محمد سعید ادینوی

مدرس فی البلد المنیر

دار القرآن پنج پیر

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمة المؤلف

الحمد لله حق حمده ونشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له ونشهد ان سيدنا محمدا عبده ورسوله خاتم النبيين وشفيع المذنبين وخير خلقه بعثه هاديا ومبشراً ونذيراً وداعياً الى الله باذنه وسراجاً منيرا. وافترض على الناس طاعته وجعل ذالک شرطا فی صحة الايمان والنجاة عن النيران فقال ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ الاية

فلن يقبل من احد حتى يخضع لسنة ويرفض كل شريعة غير شريعته فرضينا بالله رباً وبالاسلام ديناً وبمحمد صلى الله عليه وسلم نبياً. اما بعد

مونږ په داسې زمانه کښې پيدا شو چې هغې کښې مضبوط شوی دی خواهشات گمراه کونکي او تدېن (غير دين ، دين گڼړل) په بدعاتو باندې او دين التبه شوی دی تر دې پورې چه سنت بدعت گرځيدلی دی او بدعت سنت او ته به اونه مومې يو تن چه خبره اوکړي په باره د ديکښې او نه هغه څوک چه امداد اوکړي د بل چا په ختمولو د ديکښې يا اشاره اوکړي رد او کراهت او تحريم د دېته . نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په سنتو باندې غيرت او وقار ختم شوی دی. پس زه سوال کوم د لوئ الله نه او امداد غواړم په بخښش د معاف کونکي چه ماته د خوږولو د توحيد او د سنت توفيق راکړي. ما د ډير وخت راسې جمع کړی وو څه اصول او قواعد د قران کريم او د سنت او د کتابونو دائمو نه چه په دې اصولو باندې هر يو بدعت رد کيږي . کيدی شي چه الله تعالى اوگرځوي دې لره بوهه دباره د هغه چا چه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سوچ کوي په ديکښ او چه شي دا وسيله او ذخيره او حاصلول د شفاعت. اي الله بچ کړې مالره په دين ستا اويه سنتو د نبي ستا د اختلاف نه په حق کښې. او د تابعداري د خواهشاتو نه او د لارې د گمراهۍ نه او د مشتبه کارونو نه او د کږوالي او د جګړو نه. ما نوم کېخوده ديته "اصول السنة لرد البدعة" مونږ به ثابتوؤ انشاءالله تعالى هر اصل او قاعده د قران نه او د احاديثو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه او د دې تائيد کښې به اقوال د ائمو ذکر کوو. بيا به تفريع کوؤ په دې باندې هغه بدعات گمراه کونکې زمونږ په زمانه او زمونږ په کلو کښې چه څه رنګې منطبق کيږي په دې باندې دا قاعده او غوځيږي په دې باندې جرې د هغه بدعاتو چه ځان نه جوړ کړې شوي دي. شايد چه الله تعالى اوګرځوي دې لره هدايت دپاره هغه چاچه اراده کوي د ځان بچ کولو د هر منکر نه او حجت به هغه چاچه واوريده او ځان يې غټ اوګڼړه او اوګرځيده د هغه چا نه چه وائي به ﴿لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ [الملک: ۱۰]

"که مونږ اوريدلې وى (د الله کتاب) يا هم پرې ځان پوهه کړې وى نه به وو مونږ دوزخيانو کښې"

﴿وَلَنْ تَرْضَىٰ عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾ [البقره ۱۲۰]

او هيڅ کله نه خوشحاليږي ستا نه يهوديان او نه نصارى تردې پورې چه نه تابع شې د دين ددوى. اوايه يقيناً هدايت د الله هم دغه هدايت دى (چه قران کښې بيان شو) او که تا تابعداري اوکړه د خواهشاتو د دوى پس د هغه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نه چه راغي تا ته د علم نه نو به وي تالره د طرفه د الله نه څوک دوست او نه امدادي.

زمونږ په ملکرو کښې يو ډله پيدا شوې ده چه د شرک رد کوي او رد د بدعت نه ځان ساتي ځکه چه د دوی په ديکښې سازوسامان د دنيا او نور کسان دي چه بدعاتو رد کوي ليکن ځان نه بچ کوي د اهل بدعت نه دې د پاره چه غصه نه شي دوی ته دغه بدعتيان او يريږي دوی د ملامتيا د ملامتونکي نه.

حالانکه حکم کړيدی مونږ ته الله تعالی په کلکوالي او استقامت باندی نو الله تعالی فرمايلي دي﴿فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴾[هود: ۱۱۲، ۱۱۳]

کلک اودرېږه لکه څنګه چه تاته حکم شويدی او څوک چه راګرځي تاسره او سرکشي مه کوئ او ميلان مه کوئ ظالمانو ته کني اوبه رسيږي تاسو ته اور او نه به وي تاسو لره سوا د الله نه څوک دوستان (امداديان) بيا به ستاسو امداد اونه کړې شي.

ما دا کتاب دوو حصو کښې تقسيم کړی دی. ړومبې حصه په بيان د تعريف د بدعت او د نقصاناتو د دې کښې او هغه څه چه پيدا کيږي ددې نه. او په باره د ترغيب کښې سنتو ته او فائدو د ديته.

او دويمه حصه په بيان د هغه اصولو کښې چه رد کوي هر بدعت لره او خاتمه په رد د رسمونو کښې ده.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دوهمه حصه په تعريف او تقسيم د بدعت کښې

د ائمه کرامو په دې خبره اتفاق دی چه دا (بدعت)نوی کار کول دی په دين کښې نو هر هغه څه چه نوی وي او دين نه شي ګڼړلی نو دا بدعت نه دی لکه جامې او آلات د دنيا يعنی کاروبارونه او خوراکونه کله چه ترينه شريعت منع نه وي کړي. او استعماليږي بدعت په معنی شرعی کښې چه ټول اقسام يې مذموم دی. او معنی لغوي په معنی د اظهار سره لکه په قول د عمر رضي الله عنه کښې "نعمت البدعة هذه"([1])

يعنی دا څه ښه اظهار دی.

د هغه کار چه پريخودی شوی وو د عارض د وجې نه.د معنی لغوي په اعتبار سره بدعت منقسم دی حسنه او سيئه ته. ([2]) او په اعتبار د معنی شرعی سره بدعت په يو څو قسمه دي.

١ : په عقيده کښې بدعت لکه قسمونه د شرک.

٢ : په قول کښې بدعت لکه اقوال شرکيه وظائف.

٣ : فعل کښې بدعت لکه کارونه د بدعتيانو په ميلاد، عرس او حيله اسقاط کښې.

٤ : په ترک (پريخودلو)کښې بدعت لکه افعال او اقوال د سنت چه پريخودل ئې دين ګڼړی او سستی؛ او د ضائع کولو د وجې نه پريخودی شوی وی يا دغه شان د نورو نفسانی خواهشاتو په وجه پريخودی شوی وی .نو دا

---

[1]- چه تراويح يې په جمع اوکړې نو دايې ونيلو وو.مترجم ناقلاً عن الشيخ محمد طيب طاهري مدظله.

[2]- كذافي مجالس الابرار ١٢٤ ، وترويح الجنان ١٦ ، وآكام النفائس ١٧

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



معصیت دی.

او بدعت اعتقادیه بعضې کفر دی او بعضې کفر نه دی لیکن دا لویٔ گناه دی د هر گناه کبیره نه حتی چه دقتل او زنا نه هم.نشته د پاسه ددې سوا د کفر نه. او بدعت فی العبادة اگرچه ددینه کم دی لیکن کول ئې نافرمانې او گمراهې ده خصوصاً کله چه ټکراوېږي د سنة مؤکده سره. او هر چه په عادت کښې بدعت دی نو په کولو کښې ئې نه نافرمانې شته او نه گمراهی خو پرېخودل ئې بهتر دی. او بدعت په عبادات بدنیئو محضۆ کښې ټول سیئه دی ځکه چه نه واقع کیدل د فعل په ابتداء کښې نه وو مگر د وجې د عدم حاجت نه دې ته یا د وجې د وجود د مانع نه یا د وجې د نه خبرداریٔ نه یا د وجې د وتکاسل(سستیٔ) نه یا د وجې د کراهت نه یا د وجې د عدم مشروعیت نه.

دا ږومبنیٔ دوه خبرې منتفی دی په عبادات بدنیه محضه کښې ځکه چه حاجت چه حاجت الله تعالی ته په عبادت سره نه ختمیږي.او پس د غالب کیدو د اسلام او د مسلمانانو پاتې نه شه د دینه مانع او دارنگه نه خبریدل د دینه او سستي کول هم منتفی دی . ځکه چه جائز نه دی چه دا گمان اوکړې شي په نبي عَلَیۡهِ‌السَّلَامُ او په ټولو صحابه کرامو باندی نو پاتې نه شو مگر کیدل د دې بدعت مکروهه غیر مشروعه.

بدعت اخص دی د فسق نه نو هر بدعت فسق دی او هر فسق بدعت نه دی. نو چاچې معصیت اوکه او عقیده ئې دا وه چه دا کار ناروا دی نو دا فسق دی. او که په دې عقیده ئې دا معصیت اوکه چه دا جائز دی نو بیا دا بدعت دی.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



هر هغه نوی کار کله چه او کړئ شي په التزام سره نه په دين کنړلو سره په دې حيثيت چه پرېخودونکې ئې بد او ناکاره کنړلې شي او کونکې ئې نبه شميرلې شي لکه هغه کارونه لازم کړې شوی د ماشوم په سنت ، واده او غم کښ يا ځان بچ کول د کار کسب کولو نه لکه چه دا موجود دی په اولاد د علماء کښ نو دا رسم او تکلف دی. حالانکه مونږ د تکلف نه منع کړی شوي يو او دا مونږ په "ضياء النور" کښ وضاحت سره ذکر کړيدي. او که دا کار کوئ او دين ئې کنړي نو دا بدعت دی .او بدعت حقيقيه هغه دی چه نه وي موجود په دې باندی دليل په قرآن او سنت کښ لکه وسائل شرکيه چه مشرکانو د ځان نه جوړ کړيدي. او اکثر شرک وي او بدعت وصفيه يا اضافيه ديته وائی چه اصل ئې قرآن او سنت کښ وي خو زيات کړی وي مبتدع په ديکښ تخصيص د خپل ځان نه لکه تخصيص د شپو او د ورځو د پاره د عباداتو او صدقاتو يا تخصيص د ځايونو او زمکو سوا د دريو جماتونو نه يا جوړول د هيئتونو لکه ذکر بالجهر او دائره جوړول دپاره ددې او هيئت د اجتماع د پاره د دعا پس د سنتو نه او دارنګه حد مقرر کول د امور شرعيو دپاره که تکميلاً وي يا تحسيناً يا لزوماً .او دا مونږ تفصيل سره ذکر کړيدی په "ضياء النور" کښ.

د بدعت دوه معنې دي يو لغوي او دا مطلقاً نوی کار ته وائی او معنی شرعی دا نوی کار ته وائی په دين کښ او تفصيل زمونږ کتاب ضياء النور : ١٠٣ کښ دي.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## تتمه

تخصیص او وخت او حد مقررول او دارنګه جوړول د هیئتنو دپاره د عباداتو که عبادت ګڼرلې شي نو دا بدعت دی او که داسې نه وي بلکه د عادت په طور یا اتفاق وغیره وي نو دا بدعت نه دی.او دارنګه فرق کول پکار دي په مینځ د بدعاتو او ذرائعو کښې چه ورته اسباب او مصالح مرسله هم وائي. دې ( ذرائعو) ته بدعات نه شي وئیلې څو پورې چې کونکې ئې دین نه ګڼرې. ذرائع معقوله المعنى نه وي([1]) او بدعات دغه شان نه دی ځکه چه دا عبادات ګڼرلې شي او عبادات معقولة المعنى نه دی. بدعت د مقاصدو نه وي بنه ګڼرې دې لره بدعتي دپاره د نزدیکت الله تعالى ته. او وسائل او مصالح مرسله داسې نه دی.مونږ واضح کړو فرق په مینځ د وسائلو او مصالح مرسلو او په مینځ د بدعاتو کښې.بدعات د باب د مقاصدو نه دی او مصالح د باب د وسائلو نه دی. بدعات معقولة المعنى نه وي او مصالح معقولة المعنى وي([2]).

---

[1] یعنی ددې معنی(مقصد) په عقل کښې راځی

[2] آکام النفاس ٦٧، وتحفة الاخبار ١٩٤، ومائة المسائل ٨٦ ، وجامع العلوم والحکم ٢٣٤

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## باب : په بیان د نقصاناتو د بدعت کښ بدعت مستلزم دی څو امورو لره!

رومبني یقیناً هر بدعت زیاتي دی په دین د الله تعالی کښ او د شارع په شریعت باندی نکته چیني کول دي. فرمائیلي دي الله تعالی ﴿ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ ﴾ [النساء: ۱۷۱]

ای اهل کتابو! زیاتي مه کوئ په خپل دین کښ:

سیوطي په الدرالمنثور کښ وائی" بدعت مه کوئ" او نقل دی د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه " ځان بچ کړئ د زیاتي نه په دین کښ بې شکه هلاک شوي وو هغه څوک چه ستاسو نه مخکښ وو په وجه د زیاتي کولو په دین کښ" رواه الامام احمد وابن ماجه والمستدرک(۱).

دویم یقیناً بدعتي تنقیص کونکي د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام دی ځکه چه دي ګمان کوي چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا خیر (کار د نیکی) پریخودی دی. حالانکه امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ وائی " چا چه یو نوی کار پیدا که په دې امت کښ چه سلفو نه وو کړی نو ده ګمان اوکه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام په رسالت کښ خیانت کړی دی. دې وجې نه الله تعالی خپل پیغمبر ته وائی ﴿ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ ﴾ [مائده:۳]

نو هغه څه چه په دغه وخت کښ دین نه وو نو هغه نن دین نه شي کیدی.

او بدعتي خلاف کونکی د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام دی. الله تعالی فرمائی﴿ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ ﴾ [النساء: ۱۱۵]

او چاچه خلاف اوکړو د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام پس د هغه نه چه ښکاره شوه ده ته

---

(۱) كذافي كنز العمال ۲۲ ج ٥

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سنت طريقه". علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللَّهُ او شاطبي رَحِمَهُ اللَّهُ وائي. (١) ته به اونه مومی يو بدعتی مکر هغه به وي تنقيص کونکي د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ. او دارنکه ابن قاسم هم وئيلي دي نقل کړيدي ده نه مناوی په فيض القدير: ۷۲ ج ۱. کومه فتنه به لويه وي د دينه چه ته کمان اوکړی چه تا يو داسې کار اوکړو چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وو کړی.

يقينا دين کامل نه دی په کمان د بدعتی. او الله تعالی فرمائيلي دي

﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ [مائده: ۳]

دا ساعتې پوره مي کړو ستاسو دپاره دين ستاسو".

نو زيادت په کمال باندی نقصان دی په منزله د سوائی کوتې. او بدعتي زياتي کوي په شريعت کښې او کرځوي خپل ځان مشابه (يو شان) د شارع سره کويا چه دې خلقو ته په طرف د خپل شريعت دعوت ورکوي.

څلورم: يقيناً په دې کښې سپکاوې د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د سلف صالحينو رحمهم الله دی او بد کمان کول دي په دوی باندی ځکه چه دې وراندی شو هغه عمل ته چه دوئ پرېخودی وو. نو ده (بدعتی) کمان او که چه دوئ دا خصلت د نيکئ پرېښودی وو.

پنځم: يقيناً بدعتي نوی دين جوړونکی دی فرمائيلي دي الله تعالی

﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ شَرَعُوا۟ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ﴾ [الشوری: ٤]

"ايا دوی لره شريکان دي چه څرکند کړی دی دوی لره ددين نه هغه چه اجازت نه دی کړی په هغې باندې الله".

نو د جوړ کړو نوی شريعت چه قاصره شوې وه د هغې نه وحي. اوخپل ځان

---

١- اغاثه اللهفان: ١/ ٤٢، والاعتصام: ٢/ ٤٦.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ئی اوګنړه برابر د شارع او نه خوښونکي دې(شریعت)لره. بدعت زیاتي شریعت جوړول دي یا کمول او بدلول د صحیح اصل دی.

شپږم : یقیناً بدعت چه کله پیدا شي نو نه زیاتوي مګر همیشګیري[1] او نور ګناهونه داسې نه دي. توبه اوباسي ګنهګار د دینه او رجوع کوي الله تعالی ته ځکه چه دې ورته ګناه وائی( او بدعتي بدعت نه ګناه نه وائی بلکه ثواب ورته وائی مترجم ) نقل دی د سفیان ثوري[2] نه چه د به وئیل "شیطان ته بدعت د ټولو ګناهونو نه ډیر خوښ دی ځکه چه د ګناهونو نه توبه ایستلی شي او د بدعت نه نه شي ایستلي".؟

اووم : بدعت مانع ګرځي د شفاعت نه لکه څنګه چه حدیث کښ راځي هغه حدیث چه ابن مسعود رضي الله عنه نقل کړیدی او نقل کړیدی امام مالک رحمه الله په مؤطاء کښ . او نقل کړیدی ابو عوانه یعقوب بن اسحاق الاسفرائی (المتوفی ۳۱۰ ه) د ابوهریره رضي الله عنه نه په خپل مسند[3] کښ او نقل کړیدی حاکم په تفسیر د سوره کوثر کښ په خپل مستدرک کښ. "زه به مخکښ تلونکي یم ستاسو نه حوض (کوثر) ته او رابه شي څه سړی ستاسو نه نو رابه ښکلې شي مخامخ زما نو زه به اوایم ای ربه دا زما امتیان دي نو اوبه وئیلې شي یقیناً تا ته پته نشته د هغه څه چه ستا نه بعد ستا په دین کښ دوی جوړ کړي وو"او په روایت د ابو هریره رضي الله عنه کښ داسې دی "نو اوبه شړلې شي زما د حوض نه لکه څنګه چه پردې اوښ شړلې شي .

---

[1]- کذافی الاعتصام : ۲ / ۵۷ .

[2]- کذافی مجالس الابرار : ۱۳۰

[3]- مسند ابی عوانه : ۱۳۸

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



خه به آواز اوکړم دوی ته ما خوا ته راشئ، ما خوا ته راشئ، ما خوا ته راشئ نو اوبه وئیلې شي "یقیناً دوی ستا نه بعد ستا دین بدل کړی وو نو خه به اوویم هلاکت دي وي دوی لره هلاکت دي وي دوی لره". الحدیث. راوړې دی نبي علیه السلام لفظ د تبدیل په طریقې د عموم سره نو داخلیږي به دیکښې بدلون په عقیده،قول،عمل، لږ او دیر کښې. او یقیناً دا سبب د محرومیدو دی د شفاعت نه.او په حدیث کښې دلالت دی په وجود د بدعت باندی پس د زمانې د نبي علیه السلام نه لکه څنګه چه یو بل روایت کښې راځي "شروع شوې وو اسلام ناآشنا او زر دی چه اوبه ګرځي څنګه چه پیدا شوی وو" او نقل کړیدی امام مسلم په صحیح مسلم کښې په دې الفاظو باندی "اما شعرت بما عملو بعدک".

او په دې الفاظو "او په دې الفاظو "انک لا تدری ما عملو بعدک".

او په دې الفاظو "انک لا تدری ما احدثو بعدک".

او نقل کړیدي امام بخاری د ابن مسعود رضی الله عنه او د ابو هریره رضی الله عنه او د انس رضی الله عنه نه په دې الفاظو باندې انک لا تدری ما احدثو بعدک.

اتم : یقیناً بدعت ضد د سنت دی. پریښودی شي د دې په وجه سنت او په حدیث کښې دی چه "نه دی جوړ کړی یو سړې بدعت مګر پریښودی ئې دی سنت بهتر د دینه" د لقمان بن ادریس الخولانی نه نقل دی چه د به وئیل "نه دی پیدا کړی یو امت په خپل دین کښې بدعت لره مګر بورته شویدې په وجه د دې سنت د دوی نه" او دارنګه نقل دی د حسان بن عطیه نه. او امام ربانی قدس سره هم په خپلو مکتوباتو کښې وئیلې دی.

نهم : یقیناً بدعتي عناد کونکې دی د شارع سره او ماتونکې دی

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



پولو د الله تعالى ځکه چه الله تعالى مقرر کړيدي حدونه او طريقې دپاره د تابعداري په يو خاص هيئت باندې. نو بدعتي دا حدونه (پولې) ماتوي او تجاوز کوي د دينه حالانکه الله تعالى فرمائي ﴿ تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾ [البقره : ۲۲۹]

"دا پولې د الله تعالى دي نو مه تيريږئ د دينه او څوک چه تير شو د پولو د الله نه نو دغه کسان دوى ظالمان دي".

لسم : يقيناً بدعتي د خواهش تابعدار دى ځکه چه کله دې تابعداري د سنتو او د حق تابعداري پريږدي نو تابع شي د خپل خواهش. او الله تعالى فرمائي ﴿ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى ﴾ [ ص: ۲۶ ]

"اى داود عليه السلام مونږ ګرځولى دى تاله مامور په زمکه کښې نو فيصله کوه په مينځ د خلقو کښې په انصاف او تابعداري مه کوه د خواهش". او الله تعالى فرمائي ﴿ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللهِ ﴾

"او څوک دى زيات ګمراه د هغه چا نه چه تابع شو د خپل خواهش او مهر د ګمراهى پرې وهلې دى الله تعالى سره د علم".

او الله تعالى فرمائي ﴿ اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللهُ عَلٰى عِلْمٍ ﴾

[ القصص: ۵۰ ]

"ايا خبرې ته د هغه کس نه چه ویې نيوه خپل خواهش لره مددګار بغير د هدايت د طرفه د الله نه".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



یواولسم :یقیناً بدعت دروغ جوړول دي په الله تعالی باندی . او الله تعالی فرمائي ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا﴾ [ الانعام: ۲۱ ] او څوک دی زيات ظالم د هغه چانه چه جوړ ئې کړه په الله باندی دروغ. ټول بدعات ددې جنس د لاندې داخل دي او الله تعالی فرمائی ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا﴾ [ الانعام: ۱٤۱]

تحقيق سره تاوانيان دي هغه کسان چه وئی وژه خپل اولاد د وجې د بې وقوفتيا بغير د علم نه او حرام ئې کړل هغه چه رزق ورکړيدې دوی ته الله تعالی د وجی د دروغ جوړولو نه په الله تعالی باندی دوی گمراه شويدي. الله تعالی قتل د اولاد او څه چه الله تعالی حلال (روا) کړيدي د هغې حرام کنړلو ته ئ افتراء اوئيل . بيا ئي ختم که آيت په ﴿قَدْ ضَلُّوا﴾ او دا خاصيت د بدعت دی او د افتراء نسبت ئي او که بدعتيانو ته.

دولسم :يقيناً بدعت د گمان تابعداري ده په مقابله د نص کښې . الله تعالی فرمائی ﴿إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ﴾ [ النجم: ۲۳ ، ۲٤ ]

نو وئيله ظالمانو وينا بغير د هغه نه چه وئيلي شوي وه دوی ته نو راولېږ مونږ په ظالمانو عذاب د بره نه په سبب د هغه چه وو دوی فاسقان.

نو گمان په وجه دوی شرک اوکړو د الله تعالی سره او گمراه شو د صحيح لارې نه.

ديارلسم :يقيناً بدعت خان نه وينا کول دي په الله تعالی باندې او دا لوی گناه دی د هغه څلورو لويو گناهونو نه . الله تعالی فرمائی ﴿وَأَن

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



تَقُولُوا عَلَى اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [ البقره: ١٦٩ ]

او دا چه وايئ تاسو په الله تعالى باندى هغه چه تاسو پري نه پوهيږئ".

په جنسونو د محرماتو کښ د دينه لوئ گناه د الله تعالى په نزد نشته . او هم دا بنياد د شرک او کفر دى. دا بنياد د بدعاتو او گمراهو دى. هر يو بدعت گمراهى ده په دين کښ .د دې بنياد بې دليله خبرې دي په الله تعالى باندى.

دا ابن قيم رَحِمَهُ اللهُ وئيلي دي.[1] او اصل شرک او کفر بې دليله خبرې دى په الله تعالى باندې نو هر يو مشرک په الله تعالى بې دليله خبرې جوړونکې دى نه په عکس .ځکه چه وئيل په الله تعالى بې دليله متضمن وى تعطيل او ابتداع لره په دين کښ . نو د شرک نه عام دب او شرک د دې د افرادو نه يو فرد دى.

څلورلسم : بدعت د امت په مينځ کښ سبب د تفريق او د اختلاف دى. الله تعالى فرمائى ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ﴾ [ الانعام: ١٥٤]

او تابعداري مه کوئ د کږو لارو نس نس به کړي تاسو لره د لارې د الله تعالى نه .

پنځلسم : يقيناً بدعتى ( په خپل خيال ) د شارع غلطى نيونکې دى چه پاتې شوې وو د شارع نه دا قربت او د دې وحى نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته نه وه کړى شوى نو بدعتى ته ئې وحى اوشوه.

شپاړلسم : بدعت سبب د عذاب د الله تعالى دى.الله تعالى فرمائى

---

[1] مداج السالکين: ١ / ٣٧٢ .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



﴿قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ﴾ [الانعام: ٦٥]

اوایه دا الله قدرت والا دی په دې چې راولیږي په تاسو عذاب د پاسه ستاسو نه یا د لاندې د خپو ستاسو نه یا او کرځوي ستاسو لره ډلې او اوڅکوي بعضې ستاسو ته جنګ د بعضو.

ابن عباس وائی[1] ﴿أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا﴾ دا مختلف خواهشات دي.او د د نه نقل دی چه "من فوقکم" ناکاره مشران دي او د "مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ" ناکاره خاماران دي.

او الله تعالی فرمائی ﴿فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ﴾ [البقره: ٥٩]

"نو اوئیله ظالمانو وینا بغیر د هغه نه چه وئیلي شوې وه دوئ ته نو راولیږه مونږ په ظالمانو عذاب د یره نه په سبب د هغه چه وو دوئ فاسقان".

او دا دې وجې نه چه دوئ د ځان نه یو وینا جوړه کړه او الفاظ شرعیه ئې بدل کړه نو د دې په وجه دوئ د سخت عذاب مستحق اوګرځیدل.

اوولسم : د بدعت ضرر ډیر زیات دی د پریخودلو د واجبونه.( کما فی مجالس الابرار : ۱۱۲۹ ) او بدعتی د حیثیت د عمل نه فاسق دی. الله تعالی ورته فاسقان وئیلي دي لکه هغه آیت کښې چه مونږ مخکښې ذکر که ﴿بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ﴾

اتلسم : په ارتکاب د بدعت کښې ډیرول د ډلې د بدعتیانو دی

---

[1] تفسیر طبری : ۷ / ۱۳۱، الحوادث والبدع : ۲۴ وابن کثیر: ۲ / ۱۴۳.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



حالانکه دینه منع شویده او د داسي څیز پرېښودل واجب دي.[1] علماء وئیلي دي. چه مونږ هغه ځماتونو کښې بهتر دې چه بدعات پکښې نه وي او کومو ځماتونو کښې چه بدعات وي نو پرېښودل د جمع مونږ اولی دی.او دارنګه ابن عمر ﷺ د جمع مونځ پرېښودی وو. دا ثابت دی چه تخنبدل دهغه ځایونو نه چه ګناهونو پکښې کیږي او د هغه ځایونو نه چه عذابونه پکښې راغلي دی مامور به دی (یعنی حکم پری شوی دی ) لکه څنګه چه نبی علیه السلام خپلو صحابو رض ته وئیلي وو کله چه تیریده په کورونو د ثمودیانو په حجر مقام کښې "مه دننه کیږئ ځایونو ددغه زیاتی کونکو ته مګر چه ئې تاسو ژړیدونکي د وجې د دې یرې نه چه اورسیږي تاسو ته هغه عذاب چه رسیدلی وو دوئ ته".

یقیناً پرېښودل د نافرمانو خلقو هغه هجرت کښې راځی چه د هغې حکم شویدې او دا سبب د مغفرت د ګناهونو دی.یو قاتل د بنی اسرائیلو نه چه سل مرګه ئې کړی وو د خپل یو عالم نه ئې تپوس اوکړو چه زما توبه به قبوله شي؟ نو د ته هغه عالم اوئیل او. او حکم ئې او کړو ده ته چه لاړ شه دې د فساد کلی نه د اصلاح کلي ته. د باندې مرګ راغې د دې دواړو کلو په مینځ کښې. نو هر کله چه اوموندې شه نزدې کلي د اصلاح ته نو الله ورته بخنه اوکړه.

نولسم :بدعت یو قسم د منافقت دی ځکه چه دیکښې شریعت جوړول دی بغیر د هغه طریقي نه چه شارع وضع کړیده.

شلم :بدعت سبب د اهانت او سپکوالی دی. الله تعالی فرمائی ﴿إِنَّ

[1] المدخل ص۲۹۹ ج۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ ذِلَّةٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ ﴾ [ اعراف: ۱۵۲]

یقیناً هغه کسان چه وی نیوه سخی لره به خدائی توب زر دب چه اوبه رسی دوئی ته غصه د طرفه د خپل رب نه او ذلت په ژوند د دنیا کښی او دارنګه سزا ورکوو مونږ دروغ جوړونکو ته".

عالمانو وئیلی دی هر بدعتی به ذلیل وی او د بدعت ذلت به ئی په اوګو پروت وی. او دی وجی نه نبی علیه السلام ترینه منع اوکړه.

په بدعت کښی بیخ کنی د دین ده لکه څنګه چه روایت کړی شوبدی د عائشه رض نه" چاچه عزت اوکه د بدعتی نو ده امداد اوکه په نړولو د اسلام باندی "او یقیناً بدعتیان ظالمان دی لکه څنګه چه مفسیرینو ذکر کړیدی ددی ایت لاندی. ﴿فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ [الانعام ۶۸]

"مه کینه نه پس د نصیحت نه دقوم ظالمانو سره".

حسن وائی بدعت زړه بیماره وی.او په دیکښی د نافرمانی سره سره دحق پتول هم دی.

یوشتم : یقیناً د بدعت په وجه اعمال بربادیږی (نه قبلیږی ).الله تعالی فرمائی ﴿إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَاقُّوا الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا ؕ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ﴾ [ محمد: ۳۲]

"یقیناً هغه کسان چه کفر ئی اوکه او بند شو د لاری د الله نه او خلاف ئی اوکه د پیغمبر پس د هغه نه چه ښکاره شوه دوئ ته سنت طریقه هیڅ کله دوئ ضرر نه شی رسولی الله تعالی ته هیڅ شی او زر دی چه برباد به کړی (الله تعالی ) عملونه د دوئ".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او په حديث كښې راغلي دي ."انكار كوي الله تعالى د قبلولو د توبې د بدعتي نه تر دې پورې چه بدعت پريږدي". دا روايت نقل كړيدي سيوطي په الجامع الصغير كښې د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه . دارنګه دا نه ابن ماجه هم نقل كړيدى. او دارنګه ابن ابي عاصم په كتاب محاسن السنة كښې نقل كړيدى.او دارنګه ديلمي او خطيب او سنجرى په الابانة كښې او ابن النجارهم ذكر كړيدي.مراد د دې بدعت نه هغه بدعت دی چه كفر نه دی لكه څنګه چه په فيض القدير ص۷۲ ج۱ كښې موجود دی. د بدعت د نقصاناتو نه اعتماد د عوامو دی په حسن (ښائست) ددې بدعت او ګمراه كيدل د خلقو دی په وجه د دې باندې . او دهوكه كيدل دی په دې باندې.او سبب جوړيدل دې په سبب د دې د پاره د درغو په نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې او هلاكول د عامو دې په ذمه وارئ كښې. حديث كښې راغې "چاچې دروغ اوئيل ما باندې قصداً نو د جوړ كه ځائې د ناستې خپل د اور نه".

دويشتم : يقيناً بدعت سبب د تفريق او د اختلاف،د عداوت (دشمنی)د زيانې د لندتنګ ژوند او سبب د عذاب دی الله تعالى فرمائی
﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ [النور: ٦٣]

او د بريږی هغه كسان چه خلاف كوی د حكم د داجه او به رسی دوی ته مصيبت يا به اورسی دوی ته عذاب دردناك:

فتنه يعنی كفر او منافقت د دوئ به زړونو كښې (تفسير ابن كثير)او بغوی او خازن وائی مصيبت په دنيا كښې.او به تفسير روح المعانى كښې نقل

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دي د جعفر الصادق نه.چه فتنه ظالم بادشاه دی.[۱] نو اویرول الله تعالی هغه کسان چه مخالفت کوي د سنتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په عذاب د دنیا او په عذاب د آخرت کښ . او مینه محبت د دوئ وو په سبب د تابعدارئ د قران او د سنت لکه څنګه چه بل آیت کښ راځي ﴿إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا﴾ [العمران: ۱۰۳]

"کله چه وئ تاسو دشمنان د یو بل نو مینه ئې واچوله په مینځ د زړونو ستاسو کښ نو اوګرځیدئ په نعمت د ده رونړه او وئ تاسو په غاړه د دوغل د اور نو خلاص ئې کړئ د دینه".

نو تابعداري د شریعت سبب د محبت او د نجات دی او بدعت سبب د تس نس کیدو او د اختلاف دی.

خو خلق نن د دینه ناخبره دی نو وبني به ته دوئ له چه تقسیم شوید په ډلو کښ او تابعداري کوي هر یو د دوئ نه د یو سیاسی لیډر چه د دوئ سیاست کوي او دوئ راښکي زیاتي او ذلت ته. ﴿كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ﴾ [ مومنون: ۵۳]

"هره ډله په هغه چه دوئ سره دی خوشحاله دی".

لا یهتدون ولا یهدون تابعهم     اضل المقود وضل القائد الهادی

نه دوئ خپله په سمه لار روان دي او نه خپلو تابعدارو ته سمه لار ښودي شي رهنما او لار ښونکي خپله هم ګمراه دی او څوک چه وریسې روان دی نو هغه هم ګمراه کوي .

---

[۱] وهكذا في تفسير القرطبي ص۳۲۳ ج۱۲ والتفصيل في القرطبي ۱۴۹ ج ۸.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او الله تعالى فرمائی ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ [الروم: ٤١]

ښکاره شه فساد په اوچه او لونده کښ په سبب د هغه چه کړیدی لاسونو د خلقو دې دپاره چه اوڅکوی دوئ ته سزا د بعضې هغه چه دوئ کړیدی خاڅا چه دوئ راوګرځي".

ابو العاليه وائی چاچه د الله تعالى نافرمانی اوکړه په زمکه کښ نو د فساد اوکه په زمکه کښ او یقیناً درست کیدل د زمکې او د آسمان په تابعدارئ د الله تعالی سره دی.[1]

په صحیحینو (بخاری او مسلم) کښ دی "یقیناً بدکار چه کله مړ شي نو په آرام شی د ده نه بندیګان او کلي او ونې او زنده سر (ژوندی ځیزونه) بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائیل ﴿لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا﴾ یعنی مبتلا کوي دوئ لره په کموالی د مالونو او د نفسونو او د میوو. او د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل دی چه کموالې د برکت په وجه د عملونو د بندیګانو وی دې دپاره چه دوی توبه اوباسي.[2]

او الله تعالى فرمائی ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ﴾ [الشورى: ٣٠]

او هغه چه اورسیده تاسو ته څه مصیبت نو په سبب د هغه چه کړیدی لاسونو ستاسو".

یعنی تاسو ته مصیبت ستاسو د ګناهونو په وجه در رسیږي. او ذکر کړیدی

[1] ابن کثیر ص٤٣٥ ج٣
[2] الدرالمنثور ١١٥ والقرطبي

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ابن المنذر او يو ډلي د حسن نه دي وائی.هر کله چه نازل شه د آيت ﴿مَآ أَصَابَكُمۡ﴾ نو نبي عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ اوفرمائيل "قسم دی په هغه ذات چه زما ساه د هغه په اختيار کښې دی چه نه وی کريدل په لرګی او نه حرکت درګ او نه مصيبت د ګټې او نه خويدل د خپې مګر دا د ګناه په وجه وي "او هر چه مصائب وو په انبياء عليهم السلام باندي نو د هغوئ د درجو د اوچتولو دپاره وو. تحقيق سره ذکر کړيدی صاحب د تفسير روح المعاني د دې باره کښې روايتونه د علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه .او روايت کړيدي محمد بن وضاح د عبدالله بن مسعود رض نه" هر کله چه په بني اسرائيلو کښې بې حيائی ښکاره شوه نو شروع شو علماء او قاريان د دوی چه خوراک او څکاک ئې کوو دوی سره او دوی ته ئې امر بالمعروف نه کوو او نه ئې منع کول دوی لره د ناروا و نه. نو يو شان کړل الله تعالی زړونه د بعضو د دوئ د بعضو سره او په لعنت ئې کړه دوئ لره په ژبه د داؤد عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ او د عيسی ابن مريم دا په سبب د هغه چه دوئ نافرمانی کړې وه او دوئ وو زياتې کوونکي.

او روايت کړيدي محمد بن وضاح د ابو هوان نه.دي وائی نا څاپه دوؤ هلکانو او نيوه يو چرګ نو دهغه نه ئې سرې يستې او يو بودا ورسره ولاړ وو دوئ ته ئې کتل نه ئې حکم کولو دوئ ته (چه چرګ پريږدئ ) او نه ئې منع کول دوئ لره ( چه بڼرې ترينه مه اوباسئ).نو اومندل دوئ لره الله تعالی به زمکه کښې.( کتاب البدع والنهی عنها ص٩٣ ).

او هلاک کړې وو الله تعالی هغه کلې چه هغې کښې يو نيک سړی وو او خلقو ته ئې امر بالمعروف نه کو او نه ئې دوئ د نارواؤ نه منع کول.( کتاب البدع والنهی عنها ص٤ )

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



الله تعالی په ډيرو آيتونو کښې د مشرکينو او مبتدعينو عذاب يو ځائې ذکر کړيدی .الله تعالی فرمائي ﴿يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْأَرْضُ﴾ [ النساء: ۴۲]

"په دغه ورځ خوښوي به هغه کسان چه کفر ئې کړې وو او نافرمانی ئې کړې وه د پيغمبر عليه السلام چه هموار کړې شي په دوئ باندې زمکه".

او الله تعالی فرمائي ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ﴾. [ المجادله: ۲۰]

"يقيناً هغه کسان چه خلاف کوي د الله تعالی او د پيغمبر د ده دغه کسان دي په ذليلو کښې".

دارنګه الله تعالی فرمائي ﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾ [ النساء: ۱۱۵]

او چا چه خلاف او که د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ پس د هغه نه چه ښکاره شوه د ته سنت طريقه او تابع شه بغير د لارې د مومنانو نه واړوؤ د لره کوم طرفته چه اوړی او دننه به کړو ده لره جهنم ته او بد ځائې د ورتلو دی جهنم ."

په کوم يو کلي کښې چه داعی د شرک يا د بدعت وي نو هغې کلی کښې زيات فساد وی يعنی قتل او زنا او خلق د دې اختلاف کونکې او جهګړې کونکی وی او ژوند ئې لنډ تنګ، د فقر او د ذلت وي لکه څنګه چه خلق د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د بعثت نه مخکښې وو.(زمانه د جاهليت کښې).

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## فصل په بیان د هغه امورو کښ چه د هغې نه بدعات پیدا کیږي.

١ : بعضې د دې نه اعتماد کول دي په روایات باطلؤ باندې او په قیصو،خوبونو او شعرونو باندې. د دې څیزونو هیڅ قیمت نشته په نزد د.علماء ربانینو بلکه رائج ده پنګه (پیسې) د دې په بازار د عوامو کښې.

٢ : او بعضې د دینه قیاس باطل دی په مقابله د نص د قران کښې لکه څنګه چه شیطان قیاس کړی وو.( خلقتنی من نار و خلقته من طین )نوځه رنګې څه آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته سجده اوکړم او دا په مقابله د نص کښې قیاس وو او دارنګه قیاس د رونړو دیوسف عَلَيْهِ السَّلَام ﴿إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُ مِن قَبْلُ ﴾ [ یوسف: ٧٧]

"که دې غلا کوي نو تحقیق سره غلا کړې وه وررور د د ښځوا".

٣ :او بعضې د دینه الټه کول د حقیقت دی په باره د هغه څه کښې چه وارد شویدي ترغیب تابعدارئ د صحابو<sup>رض</sup> او سلفو د امت ته نو حمل کوی(مبتدع) دې لره په ورستنو باندې په هره زمانه کښې.

٤ : او بعضې د دینه استدلال دی په هغه نصوصو باندې چه شرعاً د دوئ په خبره دلالت نه کوي او حمل کول د لفظ دي په هغه معنی باندی چه د شارع مقصود نه وي. لکه حیات د انبیاء علیهم السلام او د شهیدانو او حمل کول د" حیاة برزخیه" په حیات دنیوي باندې او لفظ د" سلام" چه راغلې دی دپاره د مړو(یعنی السلام علیکم یا اهل القبور از مترجم)

نو دا سلام حمل کول په اوریدلو د مړو باندې او په جواز د بلنې د دوئ او په غوښتلو د حاجتونو د دوئ نه.

٥ : او بعضی د دینه تقلید د بادشاهانو او حاکمانو دی نو دوئ د بادشاهانو

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او حاکمانو امداد کوي او په بدعاتو ئی خوشحالوی او تقلید کوي دوئ (بدعتیان)د دوئ (بادشاهانو) په هغه څه کښې چه دوئ ئی د خان نه جوړوي . دوئ دلیل نیسي په دیکښې بغیر د تدبر او پوهې نه. بیا دوی نیکي ګڼړی هغه څه چه دوی ئی کوی او(د حق پرست) جماعت د مخالفت په وجه د سنتو د داعیانو خلاف په ګڼړ تعداد کښې اجتماع کاني کوي

٦ : و بعضې د دې نه کمزوري د علم او عمل ده په قرآن او سنت باندې نو دوی د قرآن او سنت نه معنی لغوي اخلي حالانکه دغه ځاې معنی شرعي مراد وي. لکه لفظ د"زکوة" چه په معنی لغوي او شرعي دواړو راغلی دی. او معنی د بدعت معنی لغوي مراد ده په قول د عمر رضی الله عنه کښې (نو دوئ معنی شرعي واخلي )"نعمت البدعة"یعنی مونږ څه ښه ښکاره کول اوکړل او دارنکه نَافَقَ حَنْظَلَة او په قول د الله تعالی کښې﴿إِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ﴾ [حجرات ]

"که راشي تاسوته یو بې اعتباره په یو خبر باندې".

نو مراد د دینه لغوي معنې دي اصطلاحي معنې مراد نه دي. او دارنکه دوئ تمیز نه کوي په قیودات احترازیو او توضیحیو وغیره کښې لکه قول د الله تعالی ﴿وَرَبَآئِبُكُمُ الَّتِي فِي حُجُورِكُمْ﴾ او دارنکه نور ځایونه په قرآن او سنت کښې.

۷ : او بعضې د دینه تابعداری د اکابرو ده او طریقه نیول دي د طریقې د سره لره. او دا د دلائلو د مشرکانو کمراهانو نه دی. ﴿بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ﴾ .

"مونږ مونډلې دي په دی باندې خپل مشران".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د ائمو مجتهدينو تابعداری داسې نه ده ځکه چه هغوئ په نيغه لار وو. عطاء ونيلي دي. ډير کمزورې علم، علم د کتلو دی چه يو سړی وائی ما فلانکي ليدلي وو چه داسې ئې کول او شايد چه ده دا کار په غلطئ کړی وي.نو دين د دوئ سپارلی شويدی رائی د خلقو ته. او دا دهغه څه نه دی چه بد لګي په بدعتيانو خپل دين. دوئ رائی لره دين ګنړلی دی او دا هغه څيز وو چه شريعيت د عيسی عَلَيۡهِ السَّلَامُ ئی ختم کړی وو کله چه دوئ د خپلو مليانو او پيرانو تابعداری شروع کړه تر دې پورې چه کار داسې شه چه پيرانو په دوئ لره د يو اتوار نه د بل اتوار پورې نوی دين جوړ وه. او دارنګه اکثر عوام دي چه اوموي يو عالم په يو کار باندې نو هغه دين اوګنړي.

۸ : او بعضې د دينه مينه د مشرئ ده او دا بيماری د يهوديانو وه چه حق دين او رالېږلي شوی نبی( محمد صلی الله عليه وسلم )ئی پيژندلو. الله تعالی فرمائی ﴿فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا﴾ الاية نو دوئ ځان غټ اوګنړه او د ضد او عناد د وجې نه ئی مخ واړوه ( د نبی عَلَيۡهِ السَّلَامُ او د قران نه ).

۹ : او بعضې د دينه د خواهشاتو تابعداری ده او دا ړومبنئ فتنه وه چه عالم ئی تنکولې وو او د دې په وجه ابليس او هغه قومونه ړومبنی هلاک شوي، ګمراه شوي وو لکه قوم نوحؑ ، عاديان ، ثموديان او قوم د لوط عَلَيۡهِ السَّلَامُ چه د دوئ ذکر په لسو سورتونو کښې شويدي. اعراف، هود ، حجر، انبياء ، فرقان ، شعراء ، نمل ، عنکبوت ، قمر ، فجر کښې. او په حديث کښې راغلي دي" نشته لاندې د آسمان نه اله چه عبادت ئی کيږي لوئ په نزد د الله تعالی د خواهش نه" او د علیؓ نه نقل دی ." يقيناً تابعداری د خواهش

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بندوی ( خلق ) د حق نه"[1] نو هر یو بدعتی د خپل خواهش تابعداری کوي.
الله تعالی فرمائی ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ﴾ [ قصص: ٥٠]
او څوک دی زيات ګمراه د هغه چا نه چه تابع شه د خپل خواهش بغير د هدايت د طرفه د الله نه."

او الله تعالی فرمائی ﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴾ [ الكهف: ٢٨]

او مه منه د هغه چا چه غافل کړيدی مونږ زړه د ده د خپل ياد نه (د خپل کتاب نه ) او تابع شه د خپل خواهش او دي کار د ده زياتی د حد نه".١٠ :
او بعضې د دينه مينه ده د دنيا سره څکه چه په بدعاتو کښې د دوئ خوارک او ګزران دی او اکثر د دوئ چه دي ژوند تيروي په دې بدعاتو يعنی په بدعاتو مالونه خوري لکه څنګه چه يهوديانو به وئيل ﴿لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ﴾ [ العمران: ٥]
"نشته مونږ باندې په خوارک ( مال د اميانو کښې لا ر د ګناه )".
او بدعتيان په ديکښې د دوئ تابعداری . الله تعالی فرمائيلي دي ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ [ التوبه: ٣٤]
"ای مومنانو يقيناً ډير د مليانو او پيرانو نه خوري مالونه د خلقو په غلطو طريقو او بندوی خلق د لارې د الله تعالی نه .سدی وائی دا ايت نازل شويدې په باره د عالمانو او قاريانو د اهل کتابو کښې. بيا وائی دا آيت په باره

---

[1] ذكره ابن الجوزی فی صفوة الصفوة : ١٢٤ ج١

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د اهل قبلې کښې دی او هغه وائی دا آیت عام دی په باره د اهل کتابو او مسلمانانو کښې . او ابن کثیر المتوفی سنه ۷۷٤ ء په خپل تفسیر کښې وائی . د دې آیت مقصود د ناکاره ملیانو او پیرانو یرول دي. لکه څنګه چه سفیان بن عیینة وائی " څوک چه زمونږ ملیانو کښې وران شه نو ده کښې شبه د یهودو ده . او څوک چه زمونږ پیرانو کښې خراب شه نو په ده کښې د عیسایانو شبه ده. (١)

اکثر زمونږ د زماني ملیان د حق نه بند شویدي او مونږ سره ئې په نا حقه جهګړې شروع کړیدي او امربالمعروف او نهی المنکر ئې پرېښودی دی . د مشرئ او دعهدو د ختمیدو د یرې نه یا د دنیاوی سازوسامان د وجې نه بند شویدي (د حق نه). نو ته به وینې پیران چه شرک ئې ذریعه د جمع کولو دمالونو کرځولې ده. او ناکاره ملیان په بدعاتو او کتمان حق باندې جائز کنړې دې ( مالونو) لره. او تکیه ئې لګولې ده په هغه اکابرو چه هغوئ دا بدعات کړی وو. ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ او روایت کړې شویدې د ابن عمرؓ نه دی وائی چه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائیلي وو. " ای خلقو حکم کوئ د نیکئ او منع کوئ د بدئ نه مخکښې د دینه چه تاسو به د الله تعالی نه دعا غواړئ نو قبولتیا به ئې نشي کیدې دپاره ستاسو او مخکښې د دینه چه تاسو به د الله تعالی نه بښنه غواړئ نو تاسو تا به بښنه نه شي کیدې.یقیناً امربالمعروف او نهی عن المنکر نه رزق دفع کوې او نه نیته (د مرګ) نزدې کوي .او یقیناً ملیانو د یهودو او پیرانو د نصارؤ چه هر کله امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېښوده نو دوئ الله تعالی په ژبه د خپلو

١ - وهكذا في مجالس الابرار : ٦٦

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



انبیاء ؑ په لعنت کړل بیا پرې عام مصیبتونه راغلل الحدیث. (۱)

او په حدیث کښې دی په نزد د حاکم دنیا طلب کړئ( اوګټئ ) او مه طلب کوئ دې لره (مه ګټئ دې لره) په دین ځکه چه یقیناً دین خاص مالره دی هلاکت دی دپاره د هغه چاچه دنیا په دین طلب کوي هلاکت دی ده لره".

او روایت ذکر کړیدې دارمی د عباد بن عباد نه"که نه وي یریدلي ملیان د ختمیدلو دمرتبو د دوئ او د خرابیدو د درجې د دوئ نه په جاري کولو د کتاب او بیانولو د کتاب نو دوئ به نه دي کتاب کښې تحریف کړې وو او نه به ئې پټ کړې وو لیکن هر کله چه دوئ د خپلو عملونو په وجه دکتاب مخالفت اوکړو نو دوئ اوغښتل چه دهوکه ورکړي خپل قوم ته دهغه څه نه چه دوئ جوړ کړې وو د دې یرې نه چه خرابي به شي مرتبې د دوي او دا چه خلقو ته به د دوئ خرابي ښکاره شي. نو دوئ په تفسیر سره په کتاب کښې تحریف او که او څه کښې چه د تحریف وس ئې نه رسیده نو هغه ئې پټ کړل. نو دوئ چپ پاتې شو د کار د خپلو ځانونو نه دپاره د پاتې کیدلو په خپلو مرتبو باندې او چپ پاتې شو څه نه چه قوم ئې د ځان نه جوړ کړی وو. او تحقیق سره اغیستې وه الله تعالی یخه وعده د هغه کسانو نه چه ورکړې شوې وو ورته کتاب چه خامخا بیانوی به دې لره خلقو ته او نه به پټوي دې لره بلکه دوئ واوریدل ( د وعدې نه) او موافقت ئې اوکړه دوئ سره په دیکښې. (۲)

---

۱ ذکره الحافظ عبدالعظیم فی الترغیب والترهیب : ۲۳۱ ج ۳

۲ الدارمی ص ۸۷

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



وكانوا كاليهود والنصارى سواء كلهم ضلوا السبيلا. (1)

"او دوئ برابر په شان د يهوديانو او عيسايانو دی ټول دوئ ګمراه دب دسي لارې نه".

او بعضې د دينه عادتونو ته ميلان کول دی. او دا يو معنى د هغه معاينونه ده چه د هغې نه په خواهش سره تعبير کولی شي او په دې وجه ډير مشرکان ګمراه شويدی. الله تعالى فرمائی ﴿قَالُوٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّ اِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ﴾ [ الزخرف: ۲۲]

"وائی دوئ يقيناً موږ موندلی دی خپل مشران په يو دين او موږ په نښانو د دوئ لار موندونکی يو".

او الله تعالى فرمائی ﴿إنهم ألفوا آباءهم ضالين فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ﴾ [ الصافات: ۶۹-۷۰]

"يقيناً دوئ موندلی دی خپل مشران ګمراهان نو دوئ په نښونښانو د دوئ زغلولې شي".

او دا نه ګمان کول دی په بدعتی باندې او دا قسم خلق په عوامو په کښې ډير دی. دا باب دی په بيان د ترغيب د سنتو او فائدو د ديکښې

الله تعالى فرمائی: ﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ [ العمران ۳۱ ]

"اوايه كه تاسو مينه کوئ د الله سره نو زما تابعداری اوکړئ مينه به اوکړی تاسو سره الله تعالى او بخنه به اوکړی تاسو ته د ګناهونو ستاسو او الله بخونکې مهربان دی."

---

(1) الحنظلة الكاتب الطبرى ص ۱۲۷ ج ۵

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او الله تعالی فرمائی :﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ﴾ [ ال عمران ۱۰۳ ]

"او منګول اولګوئ په رسئ د الله (قران ) ټول . او مه تس نس کیږئ او یاد کړئ نعمت د الله په تاسو باندي کله چه وئ تاسو دشمنان نو مینه ئ واچوله په مینځ د زړونو ستاسو کښ نو اوګرځیدئ تاسو په نعمت د الله ورونړه او وئ تاسو په کناره د دوغل د اور نو خلاص ئ کړئ تاسو د دینه".

نو تابعداري د سنتو سبب د محبت دی د الله تعالی سره او دګناهونو د ښښني سبب دی. او الله تعالی فرمائي ﴿ وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ [الشوری: ۵۲]

"او یقیناً ته لار ښې په طرف د لارې نیغې" . نو انحصار د هدایت په تابعدارئ د سنتو کښ دی."

او الله تعالی فرمائی ﴿ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ [ النساء ۵۹ ]

او که جهګړه اوکړه تاسو په یو شي کښ نو واپس کړئ دې لره ( کتاب د الله ته او (سنتو) د پیغمبرؐ ته که تاسو ایمان راوړئ په الله او په ورځ د آخرت او الله فرمائی ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ ﴾ [ النحل ۴۴ ]

"او مونږ رالیږلې دی تا ته پند دې دپاره چه ته بیان کړې خلقو ته هغه چه رالیږلې شویدی دوئ ته".

نو سنت بیان کونکي (ښرګندونکي) د دین دی. او الله تعالی په ډیرو

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



آیتونو کښې د پیغمبرؐ تابعداری د خپلې تابعدارئ سره یو ځائې ذکر کړیده.او د میمون بن مهران نه نقل دی.په دې قول د الله تعالی کښې ﴿ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ ﴾ الایة.

نو هغه وائی. الله ته واپس کول دهغه کتاب ته واپس کول دی او واپس کول پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کله چه هغه ژوندې وو نو هر کله چه الله تعالی د پیغمبرؐ روح قبض که نو د هغه سنتو ته واپس کول.مراد دی. (۱)

الله تعالی فرمائی ﴿وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَ رَسُولُهٗٓ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ﴾ [ الاحزاب ۳۶ ]

"او نشته دپاره مومن سړی او نه دپاره د مومنې ښځې کله چه فیصله اوکړی الله او پیغمبر د دهٔ د یو کار دا چه شي دوئ لره اختیار د کار د دوئ نه."

نو مومن همیشه تابعدار وي د سنتو د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ او اقتداء کونکې وي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ. او دارنګه په حدیث د معاذ بن جبلؓ کښې دی چه کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یمن ته قاضي لیږه. (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وئیل) ته به په څه فیصله کوې.هغه اوئیل د الله تعالی په کتاب باندې. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمائیل که (قران کښې)د اونه موند نو بیا؟ هغه اوئیل په سنتو د پیغمبر د الله به فیصله کوم. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمائیل که د اونه مونده نو بیا؟ هغه اوئیل اجتهاد به کوم په خپلې رائې سره.

او انسؓ نه راویت دی. وائی اوئیل ما ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ "ای بچوړیه که نه طاقت لرې چه صبا کړې او بیګا کړې او ستا په زړه کښې یو تن ته کینه نه وي نو دا کار اوکه . بیا ئې ماته اوفرمائیل ای بچوړیه او دا زما سنت دي او

---

۱ جامع بیان العلم و فضلیه : ۱۹۰ ج۲

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



چا چه زما سنت ژوندي کړو نو ده ما سره مینه اوکړه دی به ماسره په جنت کښ وي.(حدیث حسن) او شیخ فتني حدیث حسن ذکر کړیدی" چاچه سنت ژوندي که او بدعت ئې مړ (ختم) که نو ده لره د سلو شهیدانو اجر دی. (۱)

ابو العالیه د ابی ابن کعب رض نه نقل کوی وائی (لازم کړئ په ځان اتباع د قرآن او سنت ځکه چه نه وي یو بنده په قرآن او سنت چه الله یاد وي نو د سترګو نه ئې اوښکي لاړې شي د یرې د الله نه او اورسیزي ده ته اور [۱](یعني ده ته به اور نه رسیږي) او محمد بن وضاح د عبدالله بن مسعود رض نه روایت ذکر کوي" یقیناً الله تعالی لره ولی وي د اولیاء د الله تعالی نه په وخت د هر بدعت کښ چه تدبیر کولی شي په هغې د اسلام سره. هغه ولی مدافعت کوی د دې بدعت او حلقو ته د دې علامت (نښې) ښئ. نو غنیمت اوګڼرئ حاضریدل دغه ځایونو ته او ځان اوسپاری الله تعالی ته. ابن مبارک رح وائی "او کافی دی الله تعالی ذمه وار "او د ابو هریره رض نه روایت دی[۳] هغه وائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي وو" کلکیدونکي په سنت زما په وخت د فساد د امت زما کښ ده لره اجر د سلو شهیدانو دی. ( اخرجه البیهقی فی المدخل) (۴) او شیخ په شرح د مشکوة کښ وئیلي دي په تشریح د دې حدیث کښ "نه دی جوړ کړې یو قوم بدعت لره مګر پورته شویدی

---

۱ التذکرة : ٤٤

۲ اخرج التیسیر عن ابی داؤد والترمذی وقد تکلم علیه الحفاظ

۳ کتاب البدع والنهی عنها والاعتصام : ١٦ ج١

٤ هکذا قال ابو شامه فی الباعث : ١١٢ وفی کتاب البدع والنهی عنها : ٧٠

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



په شان د دي سنت. مثلاً رعايت د آدابو د اودس ماتی او د استنجاء په سنت طريقه بهتر دی د جوړولو د مدرسي نه. نو هلاکت دی دپاره د هغه کسانو چه مدرسي جوړوي او په دې سره سنت مړئ (ختموي).او ژوندي کوي بدعات او ګمان کوي چه دوئ په يو شي (يو دين) دی.

شاطبیؒ وائی ابو طاهر سلفی رسولې دې سند ابوهريرهؓ ته چه يقيناً نبي عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل ده ته: ای ابوهريره خلقو ته قرآن ښايه خپله ئی هم زده کوه نو که ته په دې حالت مړشوې فرښتي به ستا د قبر زيارت (ملاقات) کوی لکه څنګه چه زيارت کولې شي د کور بخوانی (بيت الله). او خلقو ته زما سنت ښايه اګر که دوئ ئی بد ګنړی او که ته خوښوې دا خبره چه ايسار نه شې په پل صراط په اندازه د رب د سترګي تر دې پورې چه جنت ته دننه شې نو د الله تعالى په دين کښې په خپلې رائی سره نوی خيز مه جوړوه. او ابو قلابهؒ د ابن مسعودؓ نه روايت کوي وائی زر دی چه اوبه مومئ تاسو قومونه چه رابلی به تاسو لره کتاب د الله تعالى ته حالانکه دوئ به خپله دا (کتاب د الله) غورځولي وي وروستو د خپلو شاګانو نه.او لازم دی په تاسوعلم ،او ځان بچ کړئ د بدعاتو جوړولونه، او ځان بچ کړئ د غلو (زياتي)نه، او لازم دی په تاسو زوړ(دين). او د شعبي نه نقل دي هغه څه چه دوئ ئی بيانوي د اصحابو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه نو اوتړه په دبانډې خپل ذواړه لاسونه او هغه څه چه دوئ ئی تا ته د خپلې رائی نه وائی نو متيازې پرې اوکړه.[۲]

[۱] جامع بيان العلم وفضليه : ۱۹۳ ج۲

[۲] - جامع بيان العلم وفضله : ۱۶۰ ج۲

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او د حسن نه منقول دی وائی دی. فرمائیلي وو پیغمبر ؑ د الله تعالی چه رحمت د الله تعالی دوی زما په خلفاء باندې درې ځله (نبی ؑ دا الفاظ او فرمائیل) صحابه کرامو ؓ تپوس اوکه چه ستا خلفاء څوک دي؟ ای د الله تعالی پیغمبره نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمائیل هغه کسان چه زما سنت ژوندي کوي او ښائی دا بندیګانو د الله ته.¹ نو قران او سنت د خیر چینه ده او نشته خلاصیدل مګر د هغه چا د پاره چې په دې دواړو ئی منګولې اولګولې.او دا دواړه (قران او سنت)ښکاره بیلتون راوستونکی دی په مینځ د حق او د باطل کښې او هغه اصلونو (بنیادونه) دي چه تجاوز ترینه جائز نه دی.او په سنت کښې تفصیل او بیان دی او بیانونکي د معنی مرادي د الله تعالی او بیانونکی د دلیل خاصو او عامو ته. لکه څنګه چه امام شافعی ؒ په "الرسالة" کښې وئیلي دي او هغه وائی جائز نه دي چه یو قول ته فرض او ئیلي شي مګر د وجې د الله د کتاب او دسنتو د رسول الله ﷺ نه.او په حدیث کښې راغلي دي "چاچه تابعداري اوکړه د محمد صلی الله علیه وسلم نو دهٔ د الله تعالی تابعداری اوکړه او چاچه د محمد ﷺ نافرماني اوکړه نو دې د الله تعالی نافرماني اوکړه".او محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ بیلتون راوستونکی دی په مینځ د خلقو کښې.

امام غزالي ؒ وائی .پوهه شه چه چابي د نیک بختۍ تابعداری د سنتو ده . او اقتداء کول دي د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ په ټولو کارونو د دهٔ کښې او په حرکاتو او سکناتو د دهٔ کښې حتی چه هئیت د خوراک د دهٔ او د اودریدو او خبرو د

¹- جامع بیان العلم وفضیله : ٤٦ ج١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دهٔ کښې.[1] او وئیلي دي صاحب د مدخل په المدخل ص ۱۳۷ ج۳ کښې چه زمونږ علماء وئیلي دي په باره د هغه چا کښې چه یو څیز د سننو او آدابو نه پریږدي چه واجب دي چه دهٔ ته دا کار بد ښکاره کړی شي او د دهٔ مذمت اوکړی شي په دې باندې .نو که انکار ئې اوکه راګرځیدو نه دوباره دیته( نو ډیره ښه ده) اوکه داسې ئې او نه کړل نو بیا به ورسره ترک تعلق (روانه) اوکړی شي د دې وجې نه چه دهٔ خلاف سنت ته راتلل کړی دي . نو څه رنګې ممکن دي چه دیته جائز اوئیلې شي او مکروه ورته اونه وئیلې شي باوجود د دې نصوصو . دسنت نمرچه کله د یو بنده په زړه کښې راوخیژي نو ختم شي د دهٔ د زړه نه ګند د هر بدعت . او لرې شي تیارهٔ د هرې ګمراهئ.څکه چه نشته قبضه د ګمراهئ سره د قبضې د نمر نه . شاطبيؒ په" الموفقات" کښې وئیلي دي. ته به اونه مومې یو کار په سنت کښې مګر قرآن دلالت کوي په معنی د دې باندې دلالت اجمالي یا تفصیلي . رد بدعت او ژوندي کول د سنت سبب د خلاصي دی . لکه څنګه چه الله تعالی فرمائي

﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْاَرْضِ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا﴾ [ هود :۱۱٦]

"پس ولې نه وو د پیړو نه مخکښې ستاسو نه خاوندان د فضیلت چه منع ئې کوله د فساد نه په زمکه کښې مګر لږ د هغه چا نه چه مونږ خلاص کړی وو".

سنت د دوستئ د کامیابئ ، د مزیدار ژوند او د خوشحالئ سبب دی. نو ته به او نه مومې یوه ډله تابعداره د سنتو مګر وي هغوئ په تازګئ او

---

[1] - الاربعین ص ۲۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



خوشحالئ کښې په هر مصيبت او غم کښې . نه شي بار کولی په دوئ باندې بوج په فضول خرچئ کښې او نه پرې په ورځو د خوشحالو يعنی کوژدن ، وادۀ وغيره کښې د ډير مال خرچ کولو بوج وي. او هر چه بدعتيان دی نو بارکولی شي دوئ باندې هغه څه چه اوښ ئی طاقت نه لري. بيا لکه د خرو آوازونه کوي په سبب د هغه څه چه دوئ خرچ کړي وي په موقع د پيدائش د بچي او د کوژدن ، وادۀ او په هغه ورځ چه دوئ نه وروک يا لوئ مړ شي کويا چه دوئ ته يرونکی نه دی راغلی . الله تعالی فرمائی ﴿وَ قَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ○ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ﴾ [ملك ١٠-١١]

"او وائی به دوئ که مونږ اوريدلی وی (د الله کتاب) او ځان هم پرې پوهه کړې وی نه به وو مونږ په دوزخيانو کښې نو اقرار به اوکړي دوئ په خپلو کناهونو نو هلاکت دې دپاره د دوزخيانو". او په حديث کښې راغلي دي" هلاکت دی دپاره د هغه چاچه خپل دين ئی بدل کړو"

## باب په باره د يرې ورکولو کښې د خلاف د سنت نه او په باره د بدء د بدعت کښې

الله تعالی فرمائی ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ [النور ٦٣]

"اوديرېږي هغه کسان چه خلاف کوی د حکم د دۀ (پيغمبر )نه دا چه اوبه رسي دوئ ته مصيبت يا به اورسي دوئ ته عذاب دردناک".

نو د سنت طريقي خلاف کول سبب د فتنې او د دردناک عذاب دی.

او الله تعالی فرمائی ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


لَا يَجِدُوا فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ [ النساء ٦٥]

"نه دي داسې كار خنګه چه مخلوق ګمان دى كامل ايمان والا نه شي كيدى دوئ تر دې پورې چه فيصله. كن او ګرخوي تا لره په هغه څه كښ چه پيدا شوي وي په مينځ د دوئ كښ بيا نه مومي دوئ په خپلو زړونو كښ څه تنګسياء د هغه نه چه تا فيصله كړى وي او غاړه كيږدي ستا سنتو ته غاړه كيخودل".

الله تعالى ګرخولي دي د ايمان دپاره درې شرطونه (١) رجوع كول سنت ته ورې نه ورې مسئله كښ هم (٢) خوشحاليدل په فيصله د سنت (٣) سنتو ته هميشه غاړه كيخودل .او الله تعالى فرمائى . ﴿يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ الْأَرْضُ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴾ [ النساء ٤٢.

په دغه ورځ خوښوى به هغه كسان چه كفر ئى كړى وو او نافرماني ئى كړې وه د پيغمبر ﷺ چه هموار كړى شي په دوئ باندې زمكه او نه به شي پټولي دوئ د الله نه خبره".

الله تعالى اوګرخول نافرمانى كونكي د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام په افسوس كښ په شان د كافرو.او الله تعالى فرمائى ﴿ وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾ [ النساء ١١٥]

". او چاچه خلاف اوكه دپيغمبر پس د هغه نه چه ښكاره شوه دوئ ته سنت طريقه او تابع شه بغير د لارې د مومنانونه وابه ړوو ده لره كوم طرف ته چه اوړى او دننه به كړو ده لره جهنم ته او بد دى ځائى د ورتلو دا جهنم .او الله تعالى فرمائى ﴿ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا ﴾ [ النحل: ٨٣]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



"دوئ پیژني نعمت د الله تعالی بیا انکار کوي د دینه".
سدی او زجاج وائی چه(د الله د نعمت نه مراد) دین د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ. او الله تعالی فرمائی :﴿ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ هُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴾ [ الکهف: ١٠٤ ]
"هغه کسان چه برباد دی عمل دوئ په ژوند د دنیا کښ او دوئ کمان کوی چه دوئ ښه کارونه کوی".
د علی ؓ نه نقل دي چه دا بدعتیان دي. او نقل کړیدی ابن وهب" چه یقیناً د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کښ یو اولي (داوکي هډوکي) پیش کړی شو چه لیکل پری شوی وو نو اوفرمائیل نبی :کافی دی یو قوم لره دا کم عقلتوب او کمراهی چه مخ واړوي د هغه څه نه چه راغله کړیدي دوئ ته په هغې سره نبی د دوئ (او لاړ شي) غیر نبی د دوئ ته یا کتاب ته بغیر د کتاب د دوئ نه"او محمد بن وضاح د ابو ادریس الخولانی نه نقل کوي چه دهٔ به وئیل خامخا چه څه واورم چه یو طرف د جومات سوزی په اور باندی نو دا ما ته خوښ دی بدعت نه چه دهغې څوک منع کونکی نه وی. او یو قوم بدعت نه دی جوړ کړی په خپل دین کښ مګر الله تعالی اوچته کړیده سنت طریقه د دوئ نه په بدل د دې کښ. او بل روایت کښ دی چه دهٔ اوئیل چه خامخا څه په جمات کښ اور اوینم او څه ئی د مړولو طاقت نه لرم نو دا ما ته د دینه خوښ دی چه زه پکښ بدعت اوینم . او دعایشې ؓ نه روایت دی نبی ﷺ فرمائی "شپږ کسان دی لعنت وایم څه په دوئ باندي او لعنت وائی په دوئ باندې الله تعالی او هر نبی چه قبولتیا ئی شویده. (١) زیاتي کونکی په دین د الله تعالی کښ.(٢) او نسبت د درغو کونکی

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



تقدیر د الله تعالی ته .(۳) او مسلط کیدونکی په زور باندې چه عزت مند کوی په هغه څوک چه الله تعالی ذلیل کړیدی او ذلیل کوي هغه څوک چه الله تعالی عزت مند کړیدی.(٤) او رواګنړونکی (د بې عزتۍ) دحرم د الله تعالی.(٥) او رواګنړونکی د خاندان زمانه هغه چه الله تعالی حرام کړیدي.(٦) او پرېښودونکی زما سنتو لره ."(رواه الترمذی والحاکم وهکذا عن ابن عمرؓ ورواه الطحاوی ایضاً)

او په یو روایت د عمرو ابن شنوی کښې اووه کسان ذکر دی اووم خاص کونکی ځان لره د مال فئ. دارنګه دا روایت طبرانی هم ذکر کړیدی.

او د معاذ بن جبلؓ نه نقل دی نبی ﷺ فرمائی قریبه ده چه اوبه وائی یو ویونکی څه دی ماله چه څه خلقو ته قرآن وایم نو دوئ په دې زما تابعداري نه کوي. نو څه په دوئ کمان نه کوم چه په دې به زما تابعدار شي تر دې پورې چه څه جوړ کړم دوئ لره بغیر ددینه (بل څه) نو ځان بچ کړئ د هغه څه نه چه ځان نه ئې جوړ کړي ځکه هغه څه چه د ځان نه ئې جوړ کړی هغه ګمراهی ده.

روایت کړیدی سعد د غطیف نه دې وائی چه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائیلي وو چاچې پیدا که په اسلام کښې یو نوی کار نو د ده ژبه پربکړئ.[1]

امام غزاليؒ وائی :تپوس به کولې شي د بدعتیانو نه په باره د سنت کښې ([2]) ابن ماجه روایت ذکر کړیدی د ابو هریرهؓ نه "نشته یو دعوت ورکونکی چه یو شی طرف ته دعوت ورکوی مګر ولاړ به وي په ورځ د قیامت

---

[1]- طبقات الکبر : ٤٢٩ ج٧

[2]- احیاء العلوم ص ٩٢ ج١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



حجت د هغه څه سره چه هغې طرف ته ئې دعوت ورکولو. او اګر که دعوت ورکړي وي سړي بل سړي ته. سند د دې ضعيف دی. (۱)

او په مدخل کښې دی.پکار دي چه ځان بچ کړي (سړی) د ملاقات کولو د يو تن د بدعتيانو نه .ص۱۴۲ ج۲ او دارنګه شيخ عبدالقادر جيلانی" په "الغنيه"کښې هم فرمائيلي دي.

ابن قيم" وائی سلفو او ائمو د بدعت ډيره بدي بيان کړيده او رد ئې کړيدی د بدعتيانو د اطرافو د زمکې نه.او خلق ئې يرولي دی د فتنې د دوئ نه په ډير يرولو سره او مبالغه ئې کړيده په ديکښې هغه چه مبالغه ئې نه ده کړې په شان د دې په رد د بې حيايو او د ظلم او زياتي کښې ځکه چه نقصان د بدعاتو او نړول د دې (بدعت) .دين لره او منافات د دې (بدعت) د دين سره ډير زيات دی.امامانو وئيلي دي ګناه د بدعتي د پېتوونکي د حق نه ډير دی.ځکه چه دې يو حق پټ کړيدی او دې بل حق هم پټ کړيدی او خلق مخالفت د حق ته هم رابلی نو هر بدعتي پټوونکی د حق دی او هر حق پټوونکی بدعتي نه دی. او بدعت د عقيدې فسق دی. ابن قيم" وائی د عقيدی فسق لکه فسق د بدعتيانو هغه کسان چه ايمان راوړي په الله تعالی او په پيغمبر د الله تعالی او په ورځ د آخرت او حرام کنړي هغه چه حرام کړيدی الله تعالی او ثابتوي هغه څه چه الله تعالی ثابت کړيدی خو ليکن نفی کوي ډير هغه څه چه الله تعالی او پيغمبر د هغه ثابت کړی دی (د دينه انکار کوي) د وجې د جهل او تاويل نه او د وجې د تقليد د مشرانو نه او دارنګه ثابتوي دوئ هغه څه چه

---

۱- اخرجه العراق فی تخريج الاحياء ص۹۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



الله تعالى او پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دی ثابت کړی (۱).

او مونږ داسې زمانه کښې يو چه بدعات عام شويدی او خلقو ناکاره عادتونه خپل دين کرځولي دي. دليل نيونکي دی په پوهه عالمانو، ترجيح ورکونکي دی کوټه اقوالو د دوئ نه په قرآن او سنت باندې. نو دوئ واوړيدل د سنت نه او ککړ شو په بدعت يا د وجې د تکبر او د انحراف نه لکه بادشاهان نو دوئ سياست په شريعت مقدم کړيدی د وجې د بد کنړلو نه دې (شريعت) لره. يا د وجې د مقابلې د عقل د نقل سره نو دوئ تاويل کوي په صريح نصوصو کښې په غلطو رايو سره لکه منطقيان . نو دوئ نسبت د دروغو اوکړو احاديثو ته او انکار ئې ترينه اوکړو. يا د دې يرې نه چه ختم به شي مال خوړل او مشري نو دوئ حق پټ کړو د وجې د بدکنړلو نه چه اوبه رسيږي بل چاته هغه فضيلت چه دوئ حاصل دی. يا د وجې د حسد نه د هغه چا سره چه الله تعالى ورته علم نافع او عمل صالح نصيب کړيدی.او تحقيق سره مبتلا شويدي بعض نسبت کونکي خان ته د علم (ناکاره مليان) وغيره په دې ناکاره صفتونو سره يعنې حسد، کتمان حق،شومتيا(بخل) په علم او مال سره او عناد لکه هغه امامان چه غصه د الله پرې شويده.لکه څنګه چه الله تعالى ذکر کړيدی په سورة بقره۹۱-۱۰۹ سورة نساء ۱۵۹-۱۶۰-۱۷٤ وغيره کښې.

باب دی په باره د بدليدو د خلقو کښې او د بدعاتو په رد کښې

روايت ذکر کړيدی ابن عبدالبر په " جامع العلم وفضله " کښې عن مالك عن عمه ابى سهيل بن مالك عن ابيه دی وائی څه نه پيژنم يو څيز د هغه نه

---

۱ مدارج السالکين ص ۳۷۲ ج۱، ص ۳۶۳ ج۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



چه ما موندلی وو په هغې باندې خلق سیوا د اذان (بانګ) نه. او د زهری نه نقل دی دې وائی مونږ لاړو دمشق ته د انس بن مالک ﷺ خخه او دې بواخې وو او وژړل ئی . ما تربنه تپوس اوکړو ولې ژاړې؟ ده اوئیل څه نه پیژنم بو څیز د هغه نه چه ما راګیر کړی وو (ماته ئی علم وو مالیدلې وو) سیوا د دې مونځ نه او دا هم ضائع شویدی .

حسن بصری رح وائی که بالفرض راژبل (دقبرونو نه) تاسو ته دنبی عَلَیْهِ السَّلَام صحابه کرام رض نو دوئ به او نه پیژني ستاسو د قبیلې نه علاوه بل شی.

او هشام بن عروه وائی هر کله چه جوړ که عروه بن الزبیر رض خپل کور په "عتیق" مقام کښ نو اوئیل ده ته خلقو. چه تا بې وفائی اوکړه د جمات د پیغمبر ﷺ سره نو ده ورته جواب کښ اوئیل چه ما ستاسو جماتونو کښ عبثې او ستاسو بازارونو کښ مې فضول کارونه اولیدل او ستاسو پلنو پلنو (مین) لارو کښ بې حیائی زیاته شویده او دلته (کور کښ) څه ستاسو دغو مصیبتونو نه محفوظ یم.

په صحیح بخاری کښ د ابوالدردا رض ء نه راویت دی څه نه پیژنم په دوئ کښ یو شې د دین د محمد عَلَیْهِ السَّلَام نه سیوا د دې نه چه دوئ په جمع مونځ کوي .اوزاعي وائی نو څه حالت به وو؟ که بالفرض نن ابوالدرداء رض موجود وی .

عیسی بن یونس وائی څه حالت به وو که بالفرض اوزاعي دې زمانه کښ موجود وو؟ (١)

او په حدیث کښ راغلي دي . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی ښکاره (شروع) شوی وو اسلام نا آشنا او زر دی چه واپس به شي خنکه

---

١ هکذا فی الحوادث من طرطوشی ص٣٧

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



چه شروع شوی وو نو خوشخبری ده غرباء لره اوئیلې شو. دا څوک دی ای د الله تعالی پیغمبره عَلَيْهِ السَّلَام نبي عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائیل هغه کسان چه اصلاح کوي کله چه خلق خراب شي او داسې الفاظ هم راغلی دی "شوقیان د وطن د قبائلو نه (١)

او داسې الفاظ هم راغلې دي". هغه لږ نیکان خلق په ډیرو خلقو کښې. چه د دوئ نافرماني کونکي به ډیر وي د تابعدارو نه. معنی ددې حدیث دا ده هر کله چه الله تعالی اسلام ښکاره کړو نو وو به یو سړی چه به کله اسلام راوړه نو په خپله قبیله او محله کښې پردی وو. په داسې حال کښې چه خپل اسلام به ئې پټ ساته .زیاتې به کولو ده باندې خپل اهل او خاندان نو دې به د دوئ په مینځ کښې ذلیل سپک اوبریدونکې وو. په کرانه به ئې تیروه کوټ د زیاتی او د تکلیفونو بیا به اوګرځی (اسلام) ناآشنا د وجې د ډیرو خواهشاتو ګمراه کونکو او د مختلفو مذهبونو نه. تر دې پورې چه پاتې به شي حق پرست ناآشنا (پردې) په خلقو کښې د وجې د کمی د دوئ نه او د وجې د یرې د دوئ نه په خپلو ځانونو باندې.

او په حدیث کښې راغلي دي ." خامخا تابعداري به اوکړئ تاسو د طریقو د هغه چا چه ستاسو نه مخکښې وو" (کما راوه البخاری و مسلم وابو داؤد وغیرهم)

او ابراهیم ابن اسحاق الحربي المتوفی ۲۸۵ وائی . ناآشنا (پردې) زمونږ په زمانه کښې هغه نیک سړی دی چه ژوند تیروي په نیکانو خلقو کښې. که دې امر بالمعروف کوي نو دوئ ورته تکلیف رسوي او که نهی عن المنکر

١ - کتاب الحوادث ص٢٥

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کوي نو دوئ ئی امداد نه کوي.

او هره پیرئ او زمانه خالی نه وي د بدعاتو نه. او منع کول د بدعاتو نه خالی نه وي د مصیبتونو او تکلیفونو نه. د دې وجې نه الله تعالی تشجیع (بهادري) ورکړیده مومنانو ته په ډیرو آیتونو او سورتونو کښې. او الله تعالی ورته حکم کړیدې د کلکوالی او د صبر او استقامت. او ذکر کړیدی ( الله تعالی) کارونه د کافرانو او یهودیانو هغه کارونه چه دوئ ئې حق پرستو سره کوي . نو الله تعالی فرمائی ﴿لَتُبْلَوُنَّ فِيٓ أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوٓا أَذًى كَثِيرًا وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ [ال عمران: ۱۸۶]

"خامخا امتحان به کولې شي په تاسو باندې په مالونو ستاسو کښې او نفسونو ستاسو کښې او خامخا اورئ به تاسو د هغه کسانو نه چه ورکړې شویدې ورته کتاب مخکښې ستاسو نه او د مشرکانو نه، بدې ردې ډیرې او که تاسو صبر اوکړو او اوبریدئ د الله تعالی نه نو یقیناً دا د پخو کارونو نه دی".

او ډیر تکلیفونه رسولی دوئ مومنانو ته او دروغ ئې پرې جوړ کړی وو او دهمکیانې ئې ورکړې وې دوئ ته قتل او د شړلو (د کلی نه).

او ذکر کړیدی ابن سعد د ابو هریره رضی الله عنه نه دې وائی "قسم دی په هغه ذات چه ساه (روح) د ابوهریره رضی الله عنه د هغه په لاس (اختیار) کښې دی قریبه ده چه را به شي په عالمانو باندې داسې زمانه چه وي به مرګ زیات محبوب یو د دوئ نه د سرو زرو نه ([1]).

او ذکر کړیدی (ابن سعد) د عبدالله بن خراش الکعبي نه. دی وائی "ما

[1] - طبقات الکبری ص۳۲۷ ج۷

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اوموندہ ابوذرؓ په یو خیمه د ویښتو کښې په "ربذه" مقام کښې او د ده په نکاح کښې یوه تکه توره ښځه وه نو ما ترینه تپوس اوکړو ای ابوذرؓ ایا تا نکاح کړیده تورې ښځې سره؟ ده اوئیل څه په نکاح اخلم هغه څوک چه ما ښکته کوي ( عزت راله کموي) دا ماته خوښ دي دهغه چا نه چه ما اوچتوي . ما همیشه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولو تردې پورې چه پرې ئې نه ښودهٔ مالره ملګرې. (۱)

او ذکر کړیدی ابن سعد دی وائې چه راغې یو سړی د مراد د قبیلې نه اویس قرنی څخه . نو سلام ئې واچو او بیا ئې ترینه تپوس اوکړو چه نه څنګه ئې ای اویسه ؟ ده ورته اوئیل! الحمدلله خیر خیریت دی . ده تپوس اوکړو، څه رنګې ده زمانه (خلق) تاسو سره؟ ده اوئیل ته څه تپوس کوې د هغه سړي نه کله چه دې بیګا کړي نو دا ګمان ئې نه وي چه صبا کړي او کله چه صبا کړي نو دا ګمان ئې نه وي چه بیګا به کړي. ای مراد والا: د مومن هیڅ خوشحالي نه ده پاتې شوې . ای مراد والا: یقیناً پیژندل د مومن حقوقو د الله تعالی لره نه پاتې کوي ده لره سپین زر او نه سره زر. ای مراد والا: یقیناً جاري کول د مومن حکم د الله تعالی لره نه پاتې کوي ده لره ملګری. او قسم په الله تعالی مونږه دوئ ته امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوؤ نو دوئ مونږه دشمنان ګڼړي او دوئ په دې باندې فاسقان خپل امداد کوونکي موی . تر دې پورې چه قسم په الله تعالی ! دوئ ما باندې لوئ لوئ تهمتونه او لګول او قسم په الله منع کوي دا مالره د ګلک اودربدونه

۱- الطبقات و صفوة ص ۲۸ ج۳

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



په حق باندې دپاره د رضا د الله تعالى . (١)

او هم د ده نه نقل دی دې وائي چه امر بالمعروف او نهی عن المنكر دواړه سړي لره ملګرې نه پرېږدي(٢)

او محمد بن علي الحسين رضي الله عنه (المتوفى١١٧ﻫ) وائي. اسلحه درزيلو خلقو ناکاره خبرې دی. (٣)

او سفيان بن عيينة (المتوفى ١٩٨ ﻫ) وائي . څئ په لاره د حق او مه برېږئ د کموالي د حق پرستو نه. (٤)

او مجاهد (المتوفى ١٠٤ﻫ)وائي چا چه ځان عزت مند کړيدی نو دين ئې ذليل کړيدی او چاچه ځان ذليل کړيدی نو دين ئې عزت مند کړيدی. (٥)

نو دوئ (مليانو) پرېښودي دې رد د شرک او د بدعاتو د دې يرې نه چه بند به شي دوی ته ډالئ (تحفې) د خلقو او دين ئې په دنيا خرڅ کړو.او ختم شه علم د دين په وجه د ګډو ډولو (دحق او باطل) ؛ چه ناکاره مليان ئې کوي لکه څنګه چه امام غزالی وئيلي وو"افسوس ، افسوس، ختم شه علم دين په وجه د ګډوډولو (دحق او باطل) د ناکاره مليانو نو دالله تعالی هغه ذات دی چه امداد غوښتلې شي او دې الله سره ځائي دپناېئ دی چه پناه راکړې مونږ ته د دې دهوکې نه هغه (دهوکه) چه الله تعالى غصه کوي او

---

١ الاعتصام ص١٣ ج١

٢ ايضاً

٣ صفوة الصفوة ص ٦١ ج٢

٤ صفوة الصفوة ص ١٣٢ ج٢

٥ ايضاً : ١١٧ ج٢

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



خوشحالوي شیطان لره. (۱) او دوئ علم ذریعه د دنیا ګرځولي ده او کهولاؤ کړیده هر یو د دوئ نه اتې (دکان) دپاره د دنیا او نوم ئې ورته د مدرسې ایښې دی سیوا د هغه چا نه چه الله تعالی نه یریږي. او هر کله چه کیناسته سفیان بن عیینه د فضیل بن عیاض سره .فضیل ورته وئیل وئ تاسو ای ډلې د علماءُ ډیوې دخپلو کلو لار موندې شوه په تاسو سره نو تاسو اوکرځیدئ حیران بیا حیا نه کوې یو تن ستاسو چه اخلې مال د دغه ظالمانو بیا کینې نو وائی حدثنا فلان عن فلان (یعنی حدیث وائی). نو سفیان اوئیل که مونږ نیکان نه یو خو مینه د نیکانو سره کوو. (۲)

بشر بن صالح وائی چه فضیل بن عیاض وئیلی وو: چې څه اوکتم دنیا په جنګ او رباب باندې دا ماته خوښه ده د دینه چه څه دنیا په عبادت اوګټم . او په "الزواجر" د ابن حجر کښې دی. چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "کله چه پیدا شي زما په امت کښې بدعات او کنځل شروع شي زما صحابؤ ته نو ښکاره دې کړي عالم خپل علم لره. نو چا چه دا کار او نه کړو نو ده باندې لعنت د الله تعالی او د فرښتو او د ټولو خلقو دی (۳)

ولید بن مسلم وائی او اظهار د علم اظهار د سنت دی. (۴)

---

۱ احیاء العلوم ص۲۲ ج۱

۲ صفوة الصفوة ص ۱۳۷ ج۲

۳ هکذا فی الاعتصام ص۵۲ ج۱

۴ د جماعت اشاعة التوحید والسنة یو مرکزی قائد مولانا خان بادشاه مدظله (کرمه ایجنسي) په اصول السنة کښې په دیخائی یو نوټ (خاشیه کښې) لیکلی دی د عوام الناس د فائدې دپاره دهغې ترجمه پیش کولې شي "لکه بعضې د اجتهاد مدعیان الزام لګوي په خلفاء راشدینو چه د هغوئ باره کښې بشارت ورکړې شویدی چه زما سنت او د خلفاء

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## فصل دی په بیان د دلائلو د مبتدعینو کښ

الله تعالی فرمائی ﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ ۗ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ ﴾ [ال عمران ۷]

نو هر چه هغه کسان دي چه په زړونو د دوئ کښ کوږوالي دی نو د دوئ تابعداري کوي د هغه چه مشابه وي د دینه دپاره د لټونو د فساد او دپاره د لټولو د غلط مطلب د دې او نه پوهیږي په اصل مطلب د دې مګر الله تعالی.

۱ : د دوئ د دلائلو نه یو دا چه اکثر دوئ دلیل نیسي په عمل د مشائخو په داسې حال کښ چه عقیده ساتونکی وي په باره د دوئ کښ د عصمت (چه مشائخ د ګناه نه پاک دی) او اعراض کونکی دي د قرآن او سنت نه. شاطبیؒ وائی یقیناً بدعتی په خپل خیال کښ دا بدعت شریعت ګڼړي او بیا ددې (بدعت) دفاع کوي اکر که هغه د یو مشهور بزرګ د تابعداریٔ په عنوان ولي نه وي.

۱ : یقیناً دوئ فیصله اوړي سرکشوته نو دوئ کرځوي حکم د دوئ نص قطعي دیته ترجیح ورکوي په قرآن او سنت باندې او په کتابونو او اقوالو د

---

راشدینو سنت اختیار کړئ او د دې باوجود داسې خلقو ته بعضي عالمان لوئ لوئ القاب ورکوي او د دروغونه ډک کتاب ته ئې نه ګوري داسې حال کښ چه د صحیح احادیثو نه مخ اړوي او تعجب دی په هغه چا د استاذ العلماء ، سید الاذکیاء ، امام الاتقیاء مرشدی شیخ القران مولانا محمد طاهر مدظله نه قرآن زده کوي او بیا د ذلیلې دنیا دپاره هغه چا ته میلان کوی چه هغوئ سلف صالحینو پسې بد رد وائی .سوج اوکړه اومه خفه کیږه خکه چه حق د تابعداریٔ ډیر لائق دی.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



خلقو قرآن او سنت منسوخ کوي. نو خان بچ کړه د دې نه چه اوګرځېږ بدعتي يا پېژنکې د حق فيصله کونکي کيني اوبه خوېږي ستا قدم به د مضبوطيا نه. مونږ په ديباندې تجربه کړيده او مبتلا شويدي په ديباندې بعضې ملګرې زمونږه.

۲: دوئ دليل نيسي په متشابهاتو نه په واضحاتو سره لکه څنګه چه کافرانو وئيلي وو کله چه دوئ ته حکم د انفاق اوشه ﴿ أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُۥ ﴾ [ يسين ۴۷ ]

"ايا خوراک ورکړو مونږ هغه چاته که خوښه وې د الله تعالى نو ماړه کړې به ئې وو دوئ لره".

يقيناً الله دوئ ته خوراک نه ورکوي (نو مونږ ورله هم نه ورکوو) نو که چه دوئ يو شبهه اوبني نو هغه دين ګنړي. او دارنګه دوئ دليل نيسي په ښه والي د بدعت په قول د عمر ؓ. "نعمتِ البدعة هذه" سره "دوئ پوهه نه دي چه مراد د دينه معنى لغوي ده او دارنګه انکار د دوئ د هغه څه نه چه صحابه کرامو ؓ کړي وو حالانکه دوئ نه پوهېږي چه فعل د دوئ (صحابه کرامو ؓ) ملحق (پيوست) دی سنت سره. يعنى د دوئ د کار حکم د سنت دی.

۳ : دوئ دليل نيسي په عام کيدلو د يو کار او په عادتونو مروجو باندې لکه څنګه چه پېژول د يو حکم د هغې په نا جائز کيدو دلالت نه کوي لکه کيټو نه چه ښکته وې پرتوګونه او کيدل په مجلسونو کښې او کېږې حرام او په کېږې باندې سر ښتول لکه څنګه چه فاطمی ؓ وئيلي ووسر باندې کېږه اچول .شک دی د شپې او ذلت دی د ورځې.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دارنګه دینه علاوه چه بالکل په جواز دلالت نه کوي.او دارنګه دلیل نیوه مشرکانو په اصل د اشراکو کښې په قول د دوئ ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ ﴾ [الزمر ۳]

"مونږ د دوئ عبادت نه کوو مګر دې دپاره چه مونږ الله ته نزدې کړی په درجه کښې."

٤ : دوئ شمیرې رد د بدعت او ژوندې کول د سنتو فساد او بیلتون په مینځ د امت کښې .او دا عادت د هغه مشرکانو بخوانو وو چه هغوئ د الله نبي صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ونیلي وو :بل هو کذاب اشر .[ القمر۲۵ ]

"بلکه دا (صالح) دی دروغژن او شرارتي."

اوالله تعالی د دوئ باره کښې وائی (چه دوئ به وائی) ﴿ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴾ [ ص: ٦٢]

څه دي مونږ لره چه نه وینو هغه سړی چه مونږ به شمیرل د شریرانو نه".

او د الله تعالی د دوئ باره کښې وائی ﴿ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَضَالُّونَ ﴾ [ ص:٦٢]

او کله چه به ئی اولیدل دوئ لره وئیل به دوئ یقیناً دغه کسان ګمراهان دي.

او دوئ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته جادوګر او لیوني وئیل او فرعون د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ باره کښې وئیلي وو ﴿إِنِّي أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ﴾ [ مومن ٢٦]

"یقیناً څه یریږدم چه بدل به کړي(موسی) دین ستاسو یا به ښکاره کړي به زمکه کښې فساد".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او دوئ وئيلي وو.(ياصالح قد كنت فينا مرجوا قبل هذا) [هود: ٦٢] اې صالحؑ وې به په مونږ کښې شرارتي مخکښې ددينه".

٥ : دوئ دليل نيسي په اکثريت سره او دوئ وائي : اتبعو سواد الاعظم. "تابع شئ د لوئي ډلې".

او دوئ نه پوهيږي چه مراد د دينه عالمان دسنتو دی يا مراد د دينه ډله د صحابه کرامو رضی الله عنهم ده.او الله تعالى فرمائيلي دي ﴿ وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ [ يوسف : ١٠٦ ]

"او که ته تابع شوې د زياتو د هغه چا چه په زمکه کښې دی گمراه به کړي تالره د لارې د الله نه".

او الله تعالى فرمائي ﴿ وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴾ [ سبا: ١٣]

"او ډير لږ دی د بنديگانو زما نه شکر گزار".

او روايت ذکر کړيدی امام ابو الحسن رزين رحمه الله د حذيفه رضی الله عنه او د ابن مسعود رضی الله عنه نه "نه دِ جوړيږي يو تن ستاسو "اِمَّعَه" چه وائي څه د خلقو سره يم . الحديث. او ته به اونه مومې يو بدعتي مگر وي به هغه تابعدار د خواهش او زړه د دۀ متعلق وي د يو شبهې د دليل چه شارع ته ئې منسوب کوي.

٦ : يقيناً دلائيل د دوئ انتهائي کمزوري دي . نو يا دوئ دليل نيسي په خوبونو او يا په بې سنده او موضوعی احاديثو باندې يا په علماءِ راسخينو دروغ جوړوي يا دهغوئ په کتابونو کښې خپلې خبرې دننه کوي يا قياس کوي په عباداتو کښې . او دا ثابت دی چه عبادت غيرمعقولة المعنى دی په (عقل نه معلوميږي) او حسن او قبح شرعي دي. يا دوئ خپله عقيده په ادله ظنيه وو ثابتوي او دا ثابت دی چه عقيده په خبر واحد او په گمان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



(ظن) نه ثابيتږي لکه څنګه چه مونږ په "البصائر" کښې ذکر کړيدی. يا دوئ فرعی مسئله ثابتوي د نورو مذهبونو د کتابونو نه لکه مسئله د سماع الموتی او په طاعاتو اجرت اغستل. او دا ټول اول د سستۍ د وجې نه کيږي. بيا د کتمان د وجې نه ، بيا د عناد د وجې نه ، بيا د باطل د ښائسته ښکاره کيدو د وجې نه. نو دا هغه کسان دي چه عمل ئې برباد دی او سترګې ئې ړندې دی او دليل ئې بې کاره دی او په دوئ باندې د الله تعالی غصه ده. شاطبي وائي : چه څوک د بدعتيانو په استدلالاتو کښې سوچ اوکړي نو دې به پوهه شي چه د دوئ په دې (استدلالاتو) کښې هيڅ ترتيب نشه او بهر حال هر يو کوږ او کافر دليل نيسي په خپل کوږ والي او کفر باندې تر دې پورې چه هغه خيال چه دهغې التزام کوي شريعت ته منسوب کوي.(١)

٧ : دوئ دليل نيسې په مطلق او عام باندې .او کوم کيفيت او تقييد چه شارع بيان کړيدی نو هغه پريږدي. لکه څنګه چه دوئ وائي چه قضا عمری د قرآن نه ثابته ده څکه چه دا مونځ دی او الله تعالی د مونځ حکم کړيدی نو الله تعالی فرمائيلي دي ﴿أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ يعني مونځ کړئ . او دارنګه د سنتو نه پس په هيئت اجتماعي سره دعا دپاره دليل نيسي په دې قول د الله تعالی ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي ﴾ [ مومن ٦٠ ]

"يقيناً هغه کسان چه خان غټ ګنړي زما د عبادت نه".

او دوئ بيان د شارع ته نه ګوري.

---

١ الاعتصام ص ٢٣١ ج١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## دويمه حصه ځومبۍ قاعده

دين كامل دى احتمال د زياتې او كمې نه لري . الله تعالى فرمائي ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى﴾ [ المائده ٣]

"دا ساعتې پوره مې كړو دپاره ستاسو دين ستاسو او پوره مې كړو په تاسو باندې خپل نعمت". او الله تعالى فرمائي ﴿وَلِيَلْبِسُوا۟ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ﴾ الانعام ١٣٨

"او دې دپاره چه ګډوډ كړي په دوئ دين د دوئ"

نو په دين كښې د زياتې هيڅ ګنجائش نشته . ملا علي القاري[1] (المتوفى ١٠١٤ هـ) وائي چه مونږ محتاج نه يو په كار د دين كښې داسې يو څيز ته چه د قرآن او سنت نه بهروي. او الله تعالى فرمائي ﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَـٰٓؤُا۟ شَرَعُوا۟ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ﴾ [ الشورى ٢١]

"ايا شته دوئ لره حصه داران چه واضح كړې ئې دى دوئ لره د دين نه هغه چه اجازت نه دى كړې په هغې باندې الله"

الله تعالى فرمائي ﴿يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ﴾ [ النساء: ١٧١ ]

"اى اهل كتابو! زياتې مه كوئ په دين ستاسو كښې او مه وايئ په الله تعالى باندې مګر رښتيا".

نو الله تعالى يو دى نو دوئ اوئيل (ثالث ثلاثة)

"الله تعالى دريم د دريو دى."

نو دوئ زياتى اوكړو په خپل دين كښې هغه چه دوئ كفر كړى وو؟

[1] - شرح الفقه الاكبر ص ١١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



هغې سره یعنې په ذکر کولو د بې بې او د بچې . ( الله تعالی لره)نو چا چه زیاتی اوکړو په دین کښ هغه چه نه وو د دین نه نو دا هغه کس د ی چه نسبت ئې کیږي غلو(زیاتی) ته. په خلاف د هغه کس چه بدعت پریږدی او مذمت ئې اوکړی. ځکه چه دۀ نه وی زیات کړی یو شي په هغه چه شریعت ثابت کړیدی. او د زیادت ، غلو او احداث یو معنی ده. دې تولو نه منع شویده. په تحقیق سره مبتلا شویدی بعضې زمونږ نه چه ځان ته نسبت کونکي د علم او د دین دی په دې څیزونو باندې (یعنې احداث او غلو کوی از مترجم) او په شان د دې هغه روایت دی چه ابن عباس رض نقل کړیدی هغه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیعت عقبه په سحر په خپله اوښه ناست وو. او وی فرمائیل چه " ماله کانړي اوکوره . ابن عباس رض وائی چه ما ورله د سفال او حذف اووه کانړی ورکړل نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه په لاس کښ اړول راړول او وی فرمائیل چه دا قسم خلق اوغرځوئی.(یعنې هیڅ کښ ئې مه کنړئ).

بیا ئې اوفرمائیل "ای خلقو ځان بچ کړئ د زیاتي کولو نه په دین کښ . بې شکه هلاک کړی وو هغه څوک چه ستاسو نه مخکښ وو زیاتی په دین کښ"( راوه احمد والنسائی وابن ماجه )

دا دین ټول په ټول کامل دی والحمد لله (الله تعالی لره حمدونه دي) . الله تعالی ئې حفاظت کړیدی د زیادت او کمي نه او بدل شویدی (بخوانی) شریعتونه په وجه د زیادت او چاچه زیات کړو په شریعت کښ یو قول یا یو فعل نو ده ځان مشابه کړو د شارع سره او شریعت کښ نقل چلیږی نه چه عقل پکښ چلیږی. او وئیلي دي ابن حزم علی بن احمد(المتوفی ۴۵۷ ه)

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



چه دین پوره شویدی نو زیاتوالي به نه کیږی په دیکښې او نه به ترینه کمې کولې شي او نه به دا دین بدلولې شي. (۱) الله تعالی فرمائی ﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ ﴾ [ المائده ۳ ]

"دا ساعتې پوره مې کړو دپاره ستاسو دین ستاسو".

او الله تعالی فرمائی ﴿ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ﴾ الاية. دین کښې کمی او زیاتی کول دا د دین بدلول دي. په تحقیق سره پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ټول دین را رسولی دی او ټول دین ئې بیان کړیدی څنګه چه الله تعالی ورته حکم کړی وو. الله تعالی فرمائی ﴿ وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ﴾ [ الشوری ۵۲-۵۳]

"او یقیناً ته لار ښائی په طرف د لارې نیغې لار د الله هغه ذات ته چه هغه له اختیار د آسمانونو او د زمکې دی". او الله تعالی فرمائی ﴿ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ ﴾ [ النحل: ٤٤ ]

"او مونږ رالیږلی دی تا ته پند(نصیحت) دې دپاره چه بیان کړې خلقو ته هغه چه رالیږلې شویدې دوئ ته".

او روا نه دي چه زیاتی اوکړی شي په دیکښې څو پورې چه نه وي راغلې په دیباندې نص د قرآن یا د سنت صحیحه نه. (۲)

او په مجالس الابرار کښې ذکر دی چه یقیناً الله تعالی مشروع کړیدی دپاره د خپلو بندیګانو د عباداتو نه هغه چه دوئ له کافی وو او الله تعالی د دوئ

---

۱- المحلی ص ۲٦ ج۱

۲ قاله فی المحلی ص۳۳ ج۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دين كامل كړيدى او پوره كړى ئ دى خپل نعمت په دومئ باندې لكه ځنكه چه خبر ئ وركړى دى د دې خبرې په خپل عزت مند كتاب ( قران كريم) كښې. او فرمائيلي ئ دي. ﴿ اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ وَاَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِيۡ ﴾ [ المائده : ٣ ]

نو زياتوالې په كمال باندې نقصان دى په منزله د سيوائى كوتې. په كتابونو د اصولو فقه كښې ذكر دى چه حسن او قبح د افعالو په نزد د حق پرستو پيژندى شي په شريعت باندى نه په عقل . نو هر هغه كار چه د هغې حكم شوېدى په شريعت كښې نو هغه حسن دى. او هر هغه كار چه منع شويده د هغې نه په شريعت كښې نو هغه قبيح دى. او تشريع د دين دى بغير د اجازت د الله تعالى نه د دې وجې نه امام شافعی‌؈ وئيلي دي ." چاچه اراده اوكړه چه ښه اوګڼړي (يو څيز) چه شريعت كښې نه وي نو دهٔ اراده اوكړه چه دى شارع شي او مذمت بيان كړيدى الله تعالى د هغه كسانو چه خپل مليان او پيران ئ مددكاران نيولى وو بغير د الله تعالى نه. او وو ربوبيت د دوئ رواګڼړل د هغه څه چه دوئ ورته حرام وئيل . لكه ځنكه چه راغلي دى په حديث د عدي بن حاتم كښې.او تشريع ، اثبات د دين دى بغير د دليل او د برهان نه. تحقيق سره منع كړيده الله تعالى د دينه. نو الله تعالى فرمائيلي دي ﴿ وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهٖ عِلۡمٌ ﴾ [ بنى اسرائيل : ٣٦ ]

"او تابعدارى مه كوه د هغه څه جه نه وى تالره په هغې باندې علم ."

او تشريع بيان د دين دى حالانكه نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ ټول دين بيان كړيدى او د دې ورته حكم شوى وو د الله تعالى د طرف نه ﴿وَاَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكَ الذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيۡهِمۡ ﴾ [ النحل : ٤٤ ]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



"او رالیږلي دی مونږ تا ته پند (نصیحت) دې دپاره چه ته بیان کړی خلقو ته هغه چه رالیږلي شویدی دوئی ته."

نو بیان کړیدی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هر یو شې د امورو د دین په داسې شان چه وی دا نص په بعضو د دې باندې او پوره کړی ئی دی بعضې امور د دین په سنتو باندې. او نه دی قبض کړی (الله تعالی) روح د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ تر دې پورې چه پوره ئی کړو دهٔ لره او امت د ده لره دین. او الله تعالی فرمائی

﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ [ النحل ۸۹ ].

"او مونږ رالیږلی دی په تا باندې کتاب وضاحت کونکې د هر یو شې( د امورو ددین)".

مجاهد رحمه الله وغیره وائی هر هغه شې چه دوئ ته ئی حکم شویدی او دوئ ترینه منع کړی شویدی. او ابوذر رضی الله عنه وائی: وفات شو پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ او نه وو یو مارغه چه خپلې وزرې ئی خوزولی بره مګر ذکر کړې وو مونږ ته( نبی ) د دینه علم. امام مالک رحمه الله وائی . هغه څیز چه په دغه ورځ ( د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ او دصحابه کرامو رضی الله عنهم په وخت) کښې دین نه وو نو هغه نن دین نه شي کیدی. (1)

دارنګه هم د ده ( امام مالک رحمه الله ) نه نقل دی دې وائی: وفات شو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ او تحقیق سره دا دین پوره شوی وو. نوی بې شکه مناسب دی چه مونږ تابعداری اوکړو د سنتو د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ او تابعداری او نه کړو د رائی خکه چه کله ته تابعداری د رائی اوکړی نو رابه شي یو بل سړی ډير قوي ستا نه په رائی کښې نو ته به د هغه تابعداری کوي. نو هر کله چه راځی بل

(1) الاعتصام ص۲۸ ج۱

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سړی چه په تا غالب وي نو ته به ئې تابعداري کوې. (۱)

دا خبره ثابته ده چه نزدیکت نشي حاصلیدی الله تعالی ته مګر په هغه عمل سره په کومه طریقه چه دا عمل مشروع دی. (او دا خبر هم ثابته ده) چه د الله تعالی په دین کښې زیاتي او کمي کول سبب د عذاب دی. لکه الله تعالی فرمائی ﴿ فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴾ [البقرة:۵۹].

"نو اوئیله هغه کسانو چه ظلم ئې کړیوو وینا بغیر د هغه نه چه وئیلي شوې وه دوئ ته نو راولیږه مونږ په ظالمانو باندې عذاب دبره نه په سبب د هغه چه وو دوئی فاسقان."

نو بدله کړه دوی کلمه د "حِطَّةٌ عَنَّا ذُنُوبَنَا"

"الله مونږ ته ګناهونه معاف کړه."

نو دوئ اوئیل "حنطة فی شعیرة" وغیره یعنی غنم او اوربشې ګډوډ غواړو. نو دوئ باندې قسما قسمه عذابونه او مصیبونه راغلل.

طرطوشی رح وائی: "په دین کښې زیادت او په شرع کښې بدعت کول دا لوئ نقصان دی. زمونږ عالمان وائی که چه وي بدلول د کلمې په باب د توبې کښې او دا یو کار دی چه رجع ئې مخلوق ته کیږي نو واجبوي دا تول عذاب لره نو څه دی ګمان ستا په بدلولو د هغه څه چه هغه خبر دی د صفاتو د معبودنه (۲)."

امام مالک رح مکروه وائی هغه شپږو روژو د شوال ته او موافقت کړیدی دغه

---

۱ الاعتصام ص۷۷ ج۱

۲ - الحوادث والبدع ص۲۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سره امام ابو حنیفهؒ نو هغه وائی خه مستحب نه گنړم روژې د شوال . او امام شافعیؒ ورته مستحب وائی او دلیل ئی حدیث دی او د امام مالکؒ او د امام ابوحنیفهؒ دپاره دلیل نشته سیوا د دینه چه دوئ وائی: التزام د دې روژو مفضی کیږي په فرائضو کښې زیادت ته. او په دې طریقه رسیدلې وي روژې د نصارو پنځوسو ورځو ته. او فرض کړی وي الله تعالی په دوئ باندې یو میاشت روژې نو دوئ اول د اوړي نه ژمي ته کړې او لس روژې ئی بطور کفاره سیوا کړې نو څلویښت روژې شوې بیا ئی اووه روژې زیاتې کړې هر کله چه دوئ بادشاه دردمند شه د وجې د خپلې بیمارئ نه بیا ئی پوره پنځوس ورځې کړې او دغه شان پوره مونځ وو په سفر کښې . د عثمانؓ نه نقل دی : د دې دپاره چه بدل نه شي فرض د بانډ چپانو په اقامت کښې. لکه څنګه چه حسن ، شعبي او یو جماعت د عالمانو وئیلي دي. او د دې باب نه پریښودل د ابوبکر، عمر، جابر او د ابن عباس رضی الله عنهم وو قربانئ لره د وجې د یرې د زیادت نه په فرائضو کښې . نو دوئ پریخوده سنت طریقه چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ثابت ده دې دپاره چه خلق گمان او نه کړی چه دا فرض دی. او دارنګه پریخودې وې ( نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) تراویح په رمضان کښې نو په جمع ئی نه وي کړې مګر دوه شپې. نو دوئ پریښودی وو طاعات او عبادات او ډیر د سنتو او د مستحباتو نه د یرې د زیادت نه په دین کښې . او زیادت اوچتوي اجزاء د اصل یا په کیفیت کښې یا په کمیت کښې او دې وجې نه علماو وئیلي دي یقیناً زیادت په معنی د نسخ دی لکه څنګه چه "التوضیح" کښې دی او لکه څنګه چه شاطبي په

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



الاعتصام"او طرطوشي (۱) په "الحوادث والبدع" کښې ذکر کړېدی.

او صاحب د مدخل وائی. زیادت په مشروع عمل باندې یا باطلؤنکی دی دې لره لکه زیادت د پنځم رکعت او تقدیم د سجدې په رکوع باندې او یا خلاف سنت دی لکه ساقطول د ترتیب په اودس (وضوء) کښې او زیادت ځان نه جوړ کړی شویدی په دین کښې او ځان نه جوړول کول په دین کښې بدعت دی.

شاطبيؒ وائی(۲) خلاصه دا چه هر هغه عمل چه اصل ئې ثابت وي شرعاً مګر په اظهار د عمل کولو او په کولو د همیش ګیرئ په دیباندې یره د دې وي چه دا عقیده څوک او نه ساتی چه دا (عمل) سنت دی نو پریښودل ئې پکار دی.

او ابن رجب وائی : یقیناً الله تعالی نازل کړېدی په خپل نبي باندې کتاب او بیان کړی ئې دی په دیکښې حلال او حرام او نه دی وفات کړی( الله تعالی) خپل پیغمبرؐ لره تر دې پورې چه پوره ئې کړو دهٔ لره او امت د دهٔ لره دین.

عبدالوهاب الشعرانی په "المیزان الکبری : ۳۸۰ ج۳ کښې وئیلي دي. مناسب نه دې دپاره د یو تن ځان نزدې کول الله تعالی ته مګر په اجازت د شارع په دغه کار کښې ( او په دې اجازت) د دغه سړی زړهٔ مطمئن وي.

---

۱- د ده نو امام محمد بن ولید ابوبکر الطرطوشي دی چه دا ندلس مشهور محدث او د ډیرو تصانیفو مصنف دی . په ۵۲۰ه یا ۵۲۵ه کښې وفات شویدی (بنا بر اختلاف). او تفصیل زمونږ په کتاب ضیاء النور ص ۱۹۷ ج۱ کښې اوګوره.

۲- الشاطبي فی الاعتصام ص۵۱۱، ۵۱۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او صاحب د مدخل ص۲۸۰ ج۳ کښې وئیلي دي. زیادت په فعل د نبي عَلَیْهِ السَّلَام بدعت دی او کم از کم کراهت دی.

امام ابن تیمیه رحمه الله وائی مرګ د سنتو یا په وجه د زیادت دی او یا په وجه د کمې دی.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## التفریع: تفریع کوؤ مونږ په ما سبق قاعدې باندې یو تبصره

تحقیق سره دې خلقو زیات کړیدی او صاف د اولیاء کرامو او د انبیاء عظامو. شرک کونکي دي د الله تعالی لوئ ذات سره نو دوئ علم غیب او تصرف (اختیار) ثابتوي دوئ (اولیاء، انبیاء) لره. دا ئي عقیده ده چه دوئ خلقو ته ورکوي هغه څه چه خوښه ئي وي او دوئ ځان نزدې کوي په دوئ سره الله تعالی لوئ ذات نه ته شر کښ وسیلو سره په شان د هغه مشرکانو چه هغوئ به وئیل ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى﴾ [الزمر:۳]

"مونږ عبادت نه کوؤ د دوئ مګر دې دپاره چه مونږ نزدې کړي الله ته په درجه کښې".

او فریاد کوي دوئ ته په مصیبتونو کښې او دوئ ته عاجزي کوي او د دوئ خزې ښکلوي او د دوئ د قبرونو نه چاپیره طواف کوي او نذر پیش کوي د دوئ په نوم او دوئ ته سجدې کوي زیات د عبادت کونکو دلات او د عزّی نه.او دوئ پریخودې دی شرعي زیارت چه هغه د مړي دپاره دعا کول دي او نصیحت او عبرت اغستل دی د مړي نه. او دوئ ځان نه جوړ کړیدی بدعی زیارت چه هغه غوښتل دی د مړونه امداد ،رزق ،دمرضونو نه ښه کیدل ،قرض ادا کول او لرې کول د مصیبتونو دی. هغه څه چه د بتانو عبادت کونکو به د دوئ نه غوښتل . او دوئ د غیر الله دپاره عبادت کرخولي دی لکه دعا ، فریاد ،نذر ،حلالي وغیره . نو تعظیم کوي بدعتیان تعظیم نوی سیوا په دین کښې لکه ترل د سورلو قبرونو طرف ته او تعظیم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په شپه د پیدائش د ده او اودربدل په وخت د یادولو دنبي

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



عَلَيْهِ السَّلَامُ په میلاد کښې او بنکلول د غټو ګوتو په اذان کښې او په صفاتو د ربوبیت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ صفت کول . او بعضو د دوئ ثابت کړیدی په دین کښې هغه څه چه د هغې ذکر په قرآن او سنت کښې نشته لکه د عقل اول صدور ، د واجب تعالی تجرد ، د هغه بساطت ، دصفاتو نه د هغه تنزیه چه د هغې په شریعت کښې وجود نشته ، ترکیب عقلي ،عینیت (چه صفات بعینه الله تعالی دی)، دغه شان د صفاتو اضافه د مشابهاتو تاویل، د جوهر فرد ثبوت ، د هیولی بطلان او قول په ایجاب وغیره وغیره هغه بکواسونه چه دوئ ئې په فن د "الهیاتو" کښې کوي. نو دا بدعات حقیقیه دی که دوئ ئې شمیری د امور دینیۆ نه او که د امور دینیۆ نه ئې نه ګڼړي نو دا فضول خبرې دی او دې وجې نه د دې تدریس په جماتونو کښې حرام دی. (١)

او هر چه اهل السنة والجماعة دی نو دوئ ثابتوي الله تعالی لره هغه چه الله تعالی ځان له ثابت کړیدی او نفي کوي د الله تعالی نه هغه چه الله تعالی ځان نه نفي کړیدي. او چپ پاتې کیږي د هغه څه نه چه الله تعالی ترې چپ پاتې شویدی بغیر د نسیان نه.

نو ای بدعتیانو! څه قسم درکوم تاسو ته په الله او اسلام باندې چه تاسو اوایئ چه کومه یوه ډله د دوؤ ډلونه ئې بنائسته د مرتبې. تابعداري کونکې د هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او صحابه کرامو کړی وو یا د ځان نه جوړونکې په دین د الله تعالی کښې د هغه څه چه دهغې اجازت الله تعالی او پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دی کړی. نو تاسو تابع شوی یئ د هغه څه چه نه دی راليږلې شوی په هغې دلیل په تاسو باندې نو کومه یو ډله لائقه ده دیج

---

١- والتفصيل فى ايضاح الحق الصريح للامام الشهيد وضياء النور ص٤٢

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کیدو که تاسو پوهیږئ.

وكان الناس في كفر عظيم فجاؤا وبالرشاد فابطلوه

"خلق په لوئ کفر کښې وو نو دوئ (نیکانو خلقو) ورته راتلل اوکړل په هدایت نو دوئ باطل کړو دې لره."

نو نا لره پکار دي چه نه اوائي په باره د هر قول او فعل کښې چه دوئ ئې وائي او دوئ ئې کوي. که دا دین وي نو بیان ئې کړه مونږ ته د سنتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام او دصحابو کرامو ؓ نه په دې صفت باندې او که داسې نه وي نو دا زیاتې دی په دین کښې. او دین ښخوا پوره شویدی. او زیادت مردود دی په زیاتي کونکي باندې او که داسې نه وي نو نه گمان کوي چه دین ناقص دی (نیمگړی دی) یا پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام او صحابه کرامو ؓ دین پټ کړی وو (معاذ الله).

## دویمه قاعده

## ثواب په اتباع کښې دی نه په ابتداع کښې تابعداري د پیغمبر ؐ د ایمان حصه ده

الله تعالی فرمائي ﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ﴾ [المائده: ٩٢]

"او تابعداری اوکړئ د الله تعالی او تابعداری اوکړئ د پیغمبر ؐ".

عطاء وائي تابعداری د الله او د پیغمبر ؐ تابعداری د قرآن او د سنت ده.[١] الله تعالی فرمائي ﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ [العمران: ٣١]

"اوایه ! که تاسو مینه کوئ د الله سره نو زما تابعداری اوکړئ مینه به

---

[١] جامع بیان العلم وفضلیه ص ٢٩ ج ٢

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اوکړی تاسو سره الله او بخنه به اوکړي تاسو ته د ګناهونو ستاسو او الله تعالی دی بخونکي مهربان ".او الله تعالی فرمائی ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ [النساء: ٦٥]

" نه دی داسې کار خنګه چه د مخلوق ګمان دی کامل ایمان والا نه شي کیدلی دوئ تردې پورې چه فیصله کُن اوکرځوی تالره په هغه څه کښې چه پیدا شوی وي په مینځ د دوئ کښې بیا نه مومي دوئ په خپلو زړونو کښې څه تنګسیا د هغه نه چه تا فیصله کړي وي او غاړه کیږدي (ستا سنتو ته ) غاړه کیخودل".

او فرمائی ﴿ اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ [الاعراف: ٣]

" تابعداري اوکړئ د هغه څه چه رالیږلی شویدی تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه."

عینيؒ وائی. (۱) محبت د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره امداد د سنتو د ده دی او مدافعت د شریعت د ده دی. او تحقیق سره فرض کړیدی الله تعالی طاعت د پیغمبر یو ځائی د خپل طاعت سره. الله تعالی فرمائی ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ﴾ [الاحزاب: ٣٦]

او حکم کړيدی (الله تعالی) امت (نبيٌ) او امراوء ته چه واپس کړی دوئ خپله فیصله په هغه څه کښې چه دوئ پکښې اختلاف کړی وي کتاب د

---

۱- جامع بیان العلم وفضله ص۲۹ ج۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



الله تعالی او سنتو د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته . نو الله تعالی فرمائی ﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اَطِيعُوا اللهَ وَ اَطِيعُوا الرَّسُولَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ اِلَى اللهِ وَ الرَّسُولِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَ اَحْسَنُ تَاْوِيلًا﴾ [النساء: ۵۹]

"ای مومنانو! تابعداری اوکړئ د الله تعالی او تابعداري اوکړئ د پیغمبرؐ او د علماء ستاسو نه نو که جهګړه راغله ستاسو په یو شی کښې نو واپس کړئ دې لره الله ته او پیغمبر د دهٔ ته که تاسو ایمان راوړئ په الله او په ورځ د آخرت دا کار دی غوره او بهتر د انجام".

نو اوګرځول ( الله تعالی) واپس کول د فیصلې د الله کتاب او سنتو د خپل پیغمبرؐ ته نه امیرانو ته . او سنتو د خپل پیغمبرؐ ته نه امیرانو ته. او الله تعالی کرځولی دی بیعت د صحابه کرامو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره خپل بیعت لکه سورهٔ الفتح آیت ۱۰. او الله تعالی خبر ورکړی دی دوئ ته چه تابعداری د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تابعداری د الله تعالی ده. لکه سورة النساء آیت ۸۰، او چاچه د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ تابعداری اوکړه نو وي به دی د نبیانو ، رښتینو ، شهیدانو او نیکانو سره لکه سورهٔ النساء آیت ۷۰. او یقیناً رابلل د دوئ په طرف د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ بلنه دهٔ په طرف د حکم د الله تعالی .

او یره ئې ورکړیده الله تعالی هغه چا ته چه د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ دحکم خلاف ئې کړیدی نو فرمائیلي ئې دي ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيمٌ﴾ [النور: ۶۳]

"پس اودیریږي هغه کسان چه خلاف کوي د حکم د ده نه دا چه اوبه رسي دوئ ته مصیبت یا به اورسي دوئ ته عذاب دردناک". او یقیناً

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



تابعداری د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هدایت د الله تعالی او نیغه لار ده او یقیناً سنت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حکمت دی.

امام شافعی وائی (١). الله تعالی ذکر کړیدی کتاب او هغه قرآن دی او حکمت ئی ذکر کړیدی نو ما اوریدلي دي د هغه چا نه چه ماله ئی ادب راکړیدی د اهل علم نه په قرآن چه وئیل ئی حکمت د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت دی . او دا مشابه دی د هغه چه وئیلي ئی دي (والله اعلم) ځکه چه قرآن ذکر دی او ورپسې دی دې پسې حکمت او الله تعالی ذکر کړیدی خپل احسان په خپل مخلوق باندې په سبب د تعلیم ورکولو دوئ ته نو خبر ئی نه دی ورکړی (والله اعلم) چه اوئیلې شي چه حکمت دې ځائی سنت د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ دی. او امام شافعي وائی او طریقه نه ده مقرر کړې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ په هغه څه کښې چه د الله تعالی حکم په هغې کښې نه وو نو په حکم د الله تعالی ئی طریقه مقرر کړیده. او دارنګه خبر راکړیدې مونږ ته الله تعالی په دې خپل قول کښې ﴿وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۝ صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ [ الشوری ۵۲-۵۳ ]

"او یقیناً ته لار ښائی په طرف د لارې نیغې لار د الله هغه ذات چه هغه لره اختیار دی د هغه څه چه بره دی او د هغه څه چه ښکته دی.پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د قرآن سره موافق د هغه (احکامو) باره کښې چه هغې کښې نص نه وي نو په هغې کښې ئی طریقې مقرر کړیدی.

اوهر هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ طریقه (سنت) کرځولې دی نو الله تعالی لازم کړیده مونږ باندې اتباع د هغې اوګرځولې ئی ده په اتباع د دهٔ کښې

١- الرساله ص٧٨

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



خپله تابعداري او په مخ اړولو کښ د اتباع د طريقې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نافرماني د دۀ ده هغه معذور ئې نه دی کړځولی په دیباندې مخلوق او نه ئې دی کرځولې دپاره د مخلوق د اتباع د سنتو د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ځائې د خلاصې.

د ابن مسعودؓ (١) نه روایت دی هغه وائې چه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائیلي وو" نشته هیڅ یو عمل چه نزدې کول کوي جنت ته مکر ما حکم کړیدی تاسو ته دهغې او نه یو عمل چه نزدې کول کوي جهنم ته مکر ما منع کړی ئې تاسو د هغې نه. الحدیث او شک نشته چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منع کړیده د احداث او ابتداع نه. او په یو روایت کښ دی"ما نه دی پریخودی یو شې د هغه نه چه الله تعالی حکم کړیدی تاسو ته د هغې مکر ما حکم کړیدی تاسو ته د هغې او ما نه دی پریخودی یو شې د هغه نه چه الله تعالی ترینه تاسو منع کړی یئ مکر ما تاسو منع کړی یئ د هغې نه . الحدیث.

او عبدالله بن مسعودؓ نه نقل دی چه نبي علیه فرمائی که تاسو پریخودل سنت دخپل نبي نو تاسو به کمراه شئ. (٢)

او د ابن عباسؓ نه روایت دی (٣) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائی نه دی زمونږ نه هغه څوک چه عمل ئې اوکړو بغیر د طریقې زمونږ نه". (راواه السیوطی فی الجامع الصغیر)

او د ابو هریرهؓ نه روایت دی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائی: ما پریخودل په تاسو کښ

---

١ رواه الحاکم فی المستدرک

٢- مسند ابی عوانة: ص٧ ج٢

٣- راواه السیوطی فی الجامع الصغیر:

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دوه څيزونه هيڅ كله به ګمراه نه شئ تاسو پس د دينه. د الله تعالى كتاب او زما سنت او دا دواړه به جدا نه شي تر دې پورې چه راشي دواړه حوض (حوض كوثر) څخه" (راواه الحاكم)

او امام بخاري" باب اينبې دى په خپل كتاب كښې نو هغه وائى "باب الاقتداء بافعال النبي صلى الله عليه وسلم او دارنګه هغه وائى باب الاقتداء بسنن النبي صلى الله عليه وسلم . او هدايت محصور دى په اتباع د سنتو كښې لكه الله تعالى فرمائى ﴿ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا ﴾ [ النور: ٥٤]

"او كه تاسو تابعدارى اوكړه د دهٔ نو سمه لار به او مومئ".

ګمراهى په تابعدارئ د خواهش كښې ده لكه الله تعالى فرمائى ﴿ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ ﴾ [ القصص: ٥٠]

"او څوك دى زيات ګمراه دهغه چا نه چه تابع شوٓ د خپل خواهش بغير د هدايت د طرفه د الله نه".

او د دې وجې نه سلفو به وصيت كو په منكول لكولو باندې په لزوم د سنتولكه څنګه چه عمر بن عبدالعزيز" ليكلي وو كله چه مشوره او غوښته د دهٔ نه عدى بن الطاة په باره د قدريؤ كښې . اما بعد يقيناً زه وصيت كوم تا ته په يرې د الله تعالى او په درميانه روئ په حكم د ده كښې او په تابعدارى د سنتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او په براداشت كولو د تكليف په ديكښې نو لازم دى په تا باندې لزوم د سنتو څكه چه سنت هغه چا سنت كرځولى دې چه هغه پرې پوهيدهٔ. نښته په هغه كښې لوئ برخې د دې كښې غلطي ، كمزوري ،بيوقوفتيا او ژوروالي نو خوښ كړه دپاره د خپل نفس هغه چه خوښ كړى وي قوم دپاره د خپلو ځانونو څكه چه هغوئ پوهه وو

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او عمر بن عبدالعزيزؒ وئيلي وو. طريقه مقرر كړې وه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ او خلفاوو پس د ده نه داسې طريقه چه هغې باندې عمل كول د قرآن كريم تابعداري ده او د الله تعالى د تابعدارئ تكميل (پوره والي) دى او د دين مضبوطتيا ده. ددغه خلقو نه پس د دې د بدلولو حق هيچا لره نشته او څه د دې په مخالفت كښې (هدايت) نه كتړم .چا چه هدايت حاصل كړو نو وي دى سمه لارموندونكې او چاچه امداد طلب كړو په دې سره نو د ده امداد كړى شويدى . او چاچه دا (طريقه) پريخوده نو تابع به شي بغير د لارې د مومنانو او وابه ړوى ده لره الله تعالى كوم طرفته چه اوړي او دننه به كړي ده لره جهنم ته او بد ځائى د ورتلو دى دا جهنم. امام مالكؒ به چه كله دا بيانولو نو د خوشحالئ نه به اوخوزيده (١) (يعنى جوش او جذبه كښې به راغې).

سيدنا ابوبكر صديقؓ د نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ د وفات كيدو په بله ورځ خپله خطبه كښې وئيلى وو. څه تابعدار( دشريعت) يم او څه مبتدع (بدعتى) نه يم نو كه څه صحيح (نيغ) يم نو زما تابعدارى اوكړئ او كه څه كوږ شوم نو مانيغ كړئ. (٢) او سيدنا عمرؓ د جمعې په ورځ خطبه كښې وئيلى وو. اى الله تعالى! څه گواه كوم تالره په اميرانو د ښهرونه. ما دوئ دې لره ليږلى دي چه خلقو ته د هغوئ دين د نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت اوښائى. (٣)

---

١- ديباج المذهب ص٢٤

٢- تاريخ الطبرى : ٢٤٤ ج٣ وصفوة : ٩٨

٣- الطبرى : ١٩ ج٥

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او عبدالرحمن بن عوف رض (۱) لاس د عثمان رض اونیوه نو وی وئیل. ایا ته بیعت کونکي ئی ماسره په کتاب د الله تعالی او په سنتو د نبی د ده او په کار د ابوبکر رض او د عمر رض؟ ده اوئیل. او عثمان رض (۲) ښارونو والؤ ته لیکلی وو ما کړی دی په دوئ کښ هغه چه دوئ ئی پیژنی او انکار ترینه نه کوی څه تابع یم. نه یم طلب کونکي د تابع کیدلو د خلقو. څه متبع (تابعدار د شریعت) یم مبتدع نه یم، اقتداء کونکي یم تکلف کونکي نه یم. او قیس بن سعید (۳) اودریدهٔ په داسې حال کښ چه نائب وو دعلی بن ابی طالب رض نو خطبه ئی شروع کړه نو وی وئیل. حمدونه دي هغه ذات لره چه راتله ئی اوکړه په حق سره او باطل ئی ختم کړو او ظالمان ئی ذلیل کړل. ای خلقو! مونږ بیعت اوکړو غوره د هغه چا سره چه مونږ ئی پیژنو پس د محمد عَلَيهِ السَّلَامُ نه. نو پاځئ ای خلقو بیعت اوکړئ په کتاب د الله تعالی او په سنتو د پیغمبر عَلَيهِ السَّلَامُ باندې نو که مونږ عمل (کار) او نه کړو دباره ستاسو په دې باندې نو نه به وي بیعت مونږ لره په تاسو باندې نو خلق اودریدل او بیعت ئی اوکړو. او دارمی[۱] ذکر کړیدی چه عمر بن عبدالعزیز رح خطبه کښ اوئیل. ای خلقو یقیناً الله تعالی نه دی لیږلي پس د نبی ستاسو نه بل نبی او نه ئی دی رالیږلي پس د دې کتاب نه چه په دې پیغمبر ئی رالیږلي دی بل کتاب. نو هغه څه چه الله تعالی روا کړیدی په ژبه د خپل

---

۱- الطبری: ٤٤ ج٥

۲- الطبری: ۱۰۵ ج٥

۳- الطبری ص۲۸۸ ج٥

۴- الداری ص٦٣ والاعتصام ص٦٥

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



پیغمبر نو هغه حلال دی تر ورځ د قیامته پورې او هغه څه چه حرام کړی ئی دی په ژبه د خپل نبي ٗ نو هغه حرام دی د قیامت تر ورځې پورې. خبر شئ څه قاضي نه یم خو لیکن څه نافذ کونکې یم (فیصلو د شریعت لره) .او څه بدعتي نه یم خو لیکن تابعدار(د سنتو) یم. او څه ستا سو نه بهتر نه یم سیوا د دینه چه ستاسو نه دروند پیټي (بوج) والا یم. خبر شئ! نه دی پکار یو تن لره د مخلوق د الله تعالی نه چه تابعداری اوکړی په نافرمانئ د الله تعالی کښ خبردار! ایا ما تاسو ته (دا پیغام) ( در رسولو؟). امام غزالی ؒ (¹) فرمائی . اکتفاء اوکړه په تابعدارئ د سنتو ځکه چه سلامتیا په تابعدارئ کښ ده. بیا وائی. کافی دې لره د فائدې د عقل نه چه ښودنه اوکړي تا ته په طرف د رېښتنوالي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او لازم کړه (ځان باندې) تابعداري (دپیغمبر ٗ) ځکه چه په دې به بچ کیږې. والسلام. او "الاعتصام" کښ شاطبی ؒ وائی. ثواب په اتباع کښ دی نه په ابتداع (بدعت جوړولو) کښ. (²)

شفیق بن ادهم البلخی ؒ وائی . په خلقو کښ فساد د شپږو څیزونو د وجې نه راغلي دی .

۱ : کمزورتیا د نیت په عمل د آخرت کښ .

۲ : د دوئ بدنونه کانړه شویدي شهوتونو د دوئ سره .

۳ : د اوږدو امیدونو غلبه تر دې پورې چه نزدې شي نیته (دمرګ) د

---

¹-احیاء العلوم ص ۹۲ ج۲

²-الاعتصام : ۱۵۰ ج۱ و : ۱۵٤ وهکذا فی المدخل فی مواضع عدیدة : ۱۳۱ ج۱ ، ۱۹۲ ج۱ ، ۲۸۸ ج۱ ، ۱۹ ج۲ ، ۲۹۰ ج۱ ، ۲۰۰ ج۲ ، ۲۲۵ ج۲ ، ۲۵٦ ج ۲ ، ۲۷٤ ج۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دوئ.

٤ : دوئ تابع شويدي د خپلو خواهشاتو او د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت ئي شانه غرخولی دی.

٥ : دوئ غوره کړيده رضا د مخلوق په هغه څه کښې چه د دوئ زړونه ئي غواړي په رضا د خپل خالق په هغه څه کښې چه دوئ ئي بد ګڼړي.

٦ : دوئ غلطئ د مشرانو ځان لره اخلاق او دين ګرځولي دی. (١)

سلطان العلماء الامام عزبن عبدالسلام (المتوفی ٥٦٦هـ) وائی نيک بختی ټوله په تابعداریٔ د شريعت کښې ده په هرې راتلونکې مسئله کښې او په غرخولو د خواهشاتو کښې ده په هغه څه کښې چه مخالفت د شريعت وي. تحقيق سره الله تعالی فرمايلي دي ﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ﴾ [طه: ١٢٣]

"نو چاچه تابعداری اوکړه زما د هدايت نو نه به ګمراه شي (دنيا کښې) او نه به بدبخت شي (آخرت کښې)".

يعنی نه به بې لارې کيږي په دنيا کښې د حق نه او نه به بدبخت کيږي په آخرت کښې په عذاب سره. ابن عباس رضي الله عنه په باره د دې قول د الله ﴿اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ﴾ [الاعراف: ٣]

"تابع شئ د هغه چه رالیږلي شويدی تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه" کښې وائی قرآن او سنت (يعنی د دې دواړو تابعداری اوکړئ) او هغه وائی چه ټول خير په طاعاتو کښې دی او شر ټول په نافرمانو کښې دی. او د دې وجې نه

---

١- المدخل ص١٥٤ ج٣

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



قرآن تيزی ورکړيده په هرې ورې او لوئی نيکئ باندې. (١)

او په "المواهب اللدنيه "کښې دی: چې د محبت د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ دپاره څه علامات دی. لوئی لوئی د هغې نه اقتداء کول دی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې او د هغه سنت استمالول او تلل د هغه په طريقه او سيرت د ده او چپ کيدل کله چه بيانوی مونږ ته احکام د شريعت. او مخکښې وائی :چاچه مخ واړو د قرآن او سنت نه او حاصل ئی نه کړو علم د چراغدان د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه او دعوی کوي د علم لدنی چه ورکړې شويدی ورته نو دا د طرفه د شيطان نه دی او وائی علم لدنی دوه قسمه دی لدنی رحمانی او لدنی شيطانی.مونږ په ضياء النور کښې اقوال د ائمه عظامو او د اولياء کرامو تفصيلي ذکر کړيدی په باره د تابعداري د سنتو کښې . او يقيناً شرط دپاره د صحيح کيدلو د عملونو تابعداری د سنتو ده. لکه څنګه چه بيضاوی وائی . نيک عمل هغه دی چه شارع مقرر کړی وي .

او صاحب د مدخل وائی : ثواب مرتب کيږي په پوره والي کولو د احکامو د قرآن او د سنت او په اتباع د سلفو او اسلافو به پوره والي کولو په سنتو باندې په خپلو عملونو کښې او د دې باوجود به يريدل. (٢)

امام ولی الله الدهلوی رح وائی. صحيح کيدل د دين په سنتو دی.(٣)

او وئيلې شويدې بې شکه دين تابعداري ده د ځان نه حوړول او پيدا کول دين نه دی .نو کوم څيز چه(د شريعت مقابله کښې) رائی وي نو هغې

---

١- قواعد الاحکام ص ١٦ ج١

٢- المدخل ص ١٨١ ج٣

٣- حجة الله البالغه ص١٧٠

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



باندې ميتاژې اوکړه. نو کافي دی تاسو لره دومره بحث د دينه که ته غواړې چه رد کړې په دې قاعدې باندې هر يو بدعت نو ته به وائی به دې کار کښې اتباع د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نشته او هغه څه چه د اتباع د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نه وي نو په هغې کښې ثواب نشته . يا ته به وائی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دا کار کولو يا نه. نو که چرې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وي کړی او نه ئې د دې حکم کړی وي نو څه رنګې جائز دي تاله چه دا عمل اوکړې.

وكان الناس فى جهل عظيم فجـاء وباليقين فاذهبـوء

خلق په لوئ جهالت کښې پراته وو نو راغلل دوئ په يقين سره نو لرې ئې کړو دې جهالت لره.

په دی قــاعدې د يو څو مــــروج بدعاتو تفريع

دوئ (خلقو) پرېښودې ده تابعداري د هغه څه چه راټله کړی وو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په هغې او جوړ ئې کړل په دين کښې هغه څه چه دين نه وو . د خپلو مشرانو او ليډرانو تابعداري کونکي دي . (ځان نه ئې جوړ کړل) لکه د عباداتو دپاره وختونه خاص کول لکه د جمعې شپه دپاره د لوستلو د سورة ملک او دپاره د خيرات د مړي او څلويښتی او کليزه او خاص کول د دوؤ سورتونو په دروښتمه د رمضان.او عرس او ميلاد او د عبادت دپاره خاص کول د ځايونو دی بغير د هغه نه چه شارع خاص کړيدی .

دريمـــه قاعـــده په باره د اتباع کښې

اتباع چه څنګه په کولو کښې وي نو دغه شان به پرېښودلو کښې هم وي. د دې وجې نه چه عدم نقل دلالت کوي په کراهت باندې او هغه څيز چه په هغې چه دليل نه وي نو هغه مردود (ناقابل قبول) دی. الله تعالى فرمائی

﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



[الحشر: ۷]

"او هغه څه چه درکړي دي تاسو ته پیغمبر نو اونیوئ هغې لره او هغه څه چه منع کړی ئی یئ د هغې نو منع شئ".

او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منع کړیده د بدعاتو نه په دین کښې لکه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائي "ځان بچ کړئ نوؤ کارونو نه په دین کښې ځکه چه هر نوی څیز (په دین کښې) بدعت دی." او الله تعالی فرمائي ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾ [بنی اسرائیل: ۳۶]

"او تابعداري مه کوه د هغه څه چه نه وي تالره په هغې باندې علم".

او الله تعالی فرمائي ﴿قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ [البقره: ۱۱۱]

"اوایه راوړئ دلیل ستاسو که یئ تاسو رېښتیني".

بوهه شه چه یقیناً سنت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ځنکه چه په کولو کښې وي نو په نه کولو کښې هم وي. او ځنکه چه مونږ نزدې کیږو الله تعالی ته په هغه کار، کوم چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړی وي نو دارنګه مونږ نزدې کیږو الله تعالی ته په پرېښودلو د هغه کار چه نه وي کړی. نو کونکي د هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وی کړی په شان د پرېښودونکی د هغه دی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړی وي .او دا کلام په پرېښودلو د هغه څه کښې مفروض (فرض کړی شویدی) چه نه وو په زمانه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کښې مانع د هغې نه او زیات وو دواعی په کولو د هغې او د دې مثال لکه پرېښودل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اذان لره دپاره د اخترونو او لامبل دپاره د هر یو مونځ او په شپه د پنځلسم د شعبان مونځ، او اذان دپاره د تراویحو او دعا پس د سنتو نه په هیئت د اجتماع او ختم دپاره د مړو. او ثابت ده دا خبره چه لوئ ګناه په لویو ګناهونو کښې

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دروغ وئیل دي په الله تعالی باندي .

امام ولی الله الدهلوی رح وائی. [۱] یقیناً الله تعالی حکم کړیدی په واجب، او مندوب، او مباح او مکروه او حرام باندې تر دې پورې چه هغه وائی. چا چه خبر ورکړو چه دا (څیز) واجب یا حرام دی بغیر د دلیل نه نو ده په الله تعالی باندې دروغ جوړ کړل.

ابن حجر په خپله فتوی کښی وائی: او دارنګه هغه څه چه نبی عَلَیْہِ السَّلَام نه وو کړی سره د قیام د مقتضی نه نو دهغې نه کول سنت دي او کول ئې بدترین بدعت دی .

او په المواهب اللدنیه [۲] او په شرح د دې کښی دی چې زرقانی لیکلی ده. نو دا خبره ثابته شوه چه غاړه کیخودل ټولو اقوالو او افعالو د نبی عَلَیْہِ السَّلَام نه (دا اقوال او افعال) که وجودی وې او که عدمی وې طاعت دی مګر هغه څه چه دلیل نبی عَلَیْہِ السَّلَام پورې خاص کړی وې.

قسطلانی رح وائی: ترک د نبی عَلَیْہِ السَّلَام یو فعل لره سنت دي په حق زمونږ کښی یعنی هغه څه چه نبی عَلَیْہِ السَّلَام نه وې کړی نو سنت دی مونږ لره دهغې پریخودل که نه وې بل دلیل په طلب د دې زمونږ نه لکه څنګه چه فعل د نبی عَلَیْہِ السَّلَام سنت دی . سنت ده مونږ لره تابعداری د نبی علیه به دیکښی مګر د وجې د یو دلیل نه چه دا کار د نبی عَلَیْہِ السَّلَام د خصوصیاتو نه وې [۳] ( لکه د څلورو نه سیوا ببیباني وغیره دا خصوصیات د نبی

[۱] تفهیمات ص ۲۱۱ ج۱

[۲] المواهب اللدنیة ص ۲۷۸ ج٦

[۳] القسطلانی ص ۳۳۵ ج ۷

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



عَلَيْهِ السَّلَامُ وو از مترجم)

صاحب د هدايې وائی : زياتوالی په څلورو رکعتو په نفلونو د ورځې کښې مکروه دی او د دې علت ئې دا ذکر کړيدی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ورځې په نفلو کښې زياتوالې په څلورو رکعتو نه دی کړی. نو که دا مکروه نه وی نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دا زياتوالی کړی وو دپاره د تعليم ( د امت) . او هدايه کښې دا هم دی چه په کسوف( چه نمر تندر اونيسي) کښې خطبه څکه چه دا نقل نه دی(د سلفو نه) نو عدم نقل دليل ګرځولې شويدی. او دارنګه وئيلې ئې دي (يعني صاحب هدايې) چه نقل به نه کوي په عيدګاه کښې مخکښې د مونځ د اختر نه څکه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دی کړی سره د حرص د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه په مونځ باندې.

او دارنګه په "الاختيار" شرح د "المختار" او په "السعايه" کښې هم دی. او دا ثابت شو چه په څه باندې دليل نه وي نو هغه مردود دی او جائز نه دی په هغې کښې تقليد بلکه رد کولی به شي د هغه وجې نه چه نقل دی د عائشې " نه" نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائي" چا چه نوی کار اوکه په دې دين زمونږ کښې چه د دې دين نه نه وو نو هغه رد يعنې مردود (ناقابل قبول) دی څکه اقتداء نه وي مګر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې. ([1])

شيخ عبدالحق محدث دهلوی په شرح د مشکوة کښې وائی چه اتباع چه څنګه په فعل کښې واجب ده نو دارنګه په ترک کښې هم ده. نو چا چه هميشګي اوکړه په يو کار چه شارع هغه کار نه وو کړی نو دغه کس بدعتي دی "دارنګه نورو محدثينو هم وئيلي دي.

[1] السعية شرح شرح الوقاية ص ۲۶۵ ج۲

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او ملا علي القاري[1] وائی : چي "تابعداري څنګه چي فعل (کولو) کښې وي نو دارنګه په ترک (نه کولو) کښې هم وي. نو هغه چا چه همیشګیري ئې اوکړه په یو کار چه شارع نه وو کړې نو دغه کس بدعتي دی".

ابن الهمام په فتح القدير[2] کښې وائی چه "نفی د مدرک شرعی کافی کیږي دپاره د نفی د حکم".

او په "المولوی" شرح د "الحسامی" کښې دی : چه حکم شرعی نه ثابتیږي مګر په دلیل شرعی باندې . او دارنګه په دې کښې دی. عدم فعل د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ په کراهت دلالت کوي.(۲)

او شامی وائی : په کوم کار چه دلیل د مشروعیت نه وي نو دهغې کول روا نه دی بلکه مکروه دی. بیا ئی دا نقل کړیدی د "المنیة" او د "السرخسي" او د "الخلاصه" او د "البدائع" او د "الحلیة" او د "البحر" نه.

امام ابن تیمیه[4] وائی . کوم کار چه شارع نه وي مشروع کړې مونږ لره او نه ئې حکم کړې وي مونږ ته د هغې او نه ئې کړې وي نو سنت دی مونږ لره چه مونږ اقتداء اوکړو د شارع په دیکښې . نو دغه کار( چه شارع نه دی کړې او نه ئې حکم کړیدی). د عباداتو نه نه دی. دا قربت ګڼړل مخالفت د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ دی.

او په العنایه" کښې دی. چه عدم نقل د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ نه دلالت کوي په

---

[1] المرقاة شرح المشكوة ص ٤١

[2] فتح القدير باب الاستسقاء : ٦٨ ج٢

[3] الشامي : ٧٧٨ ج١، : ٢٨٠ ج٣، : ٢٤٥، ٢٥٢، : ١٨٨

[4] مجموعة الرسائل : ٩٨ ج٥

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



عدم فعل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې. (1)

او په "طريق الاصول" کښې ذکر دی چه "پوهه شه يقيناً سنت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څنګه چه په فعل سره وي نو دارنګه په ترک سره هم وي. نو هر کله چه الله تعالى مونږ مکلف کړي يو په اتباع د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په هغه کار کښې چه په هغې سره قربت (الله ته نزديکت) حاصليږي کله چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خصوصياتو نه نه وي نو دارنګه مطالبه کوي (الله تعالى) زمونږ نه د اتباع د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ترک کښې نو دا ترک به سنت شي. او مونږ ځان نه شو نزدې کولې الله تعالى ته په پريخودلو د هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړي وي. او مونږ نزديکت نه شو حاصلولې الله تعالى ته په کولو د هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وي کړي. نو کونکې د هغه څه چه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وی کړی داسې دی لکه پريښودونکې د هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړی وي او دې دواړو کښې هډو فرق نشته دی. (2)

او په "مجالس الابرار" کښې دی چه "علماء وئيلي دي څنګه چه هغه کار کوم چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړی وي سنت دی نو دارنګه پريښودل د هغه کار چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وي کړی سره د وجود د مقتضى او د عدم مانع نه نو هغه هم دغه شان سنت دی. څکه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هر کله حکم اوکړو د اذان په جمعه کښې نه په اخترونو کښې نو شو نه کول د اذان په دې (اخترونو) کښې سنت. او دا حق نشته دچا د پاره د يو تن چه زيادت اوکړي او دا اووائي چه دا زيادت د عمل صالح دی او د دې زيادت ضرر نه ورکوي.

---

(1) العناية ص ٢٠٦ ج٢ وهكذا في مائة مسائل : ٢٨، ٧٥ ، ١٤١

(2) طريق الوصول : ٢٨، ١٠٦

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دې وجې نه وئيلې به شې دهٔ ته چه دارنګه بدل شوی وو دینونه د پیغمبرانو او شریعتونه د دوئ ځکه که زیادت په دین کښې جائز وی نو بیا به جائز وو چه یو سړی د سحر مونځ څلور رکعته او د ماسپخین شپږ رکعته اوکړی او اوائی چه دا زیادت د عمل صالح دی د دې زیادت ضرر نه رسوی خو لیکن یو تن دا نه شي وئیلې ځکه چه کوم مصلحت او فضیلت بدعتی ښکاره کوي نو اګر چه دا ثابت وو په زمانه دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کښې اوسره د دینه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا نه وو کړی نو وي به پریخودل داسې کار سنت چه دا سنت به مقدم وي په هر یو عموم او قیاس باندې نو چاچه دا کار اوکړو په دې عقیده دا کار په دین کښې مشروع دی نو دغه کس به فاسق او بدعتي وي. ځکه چه فسق اعم (عام) دی د بدعت نه هر یو بدعت فسق دی بغیر د عکس نه. او دارنګه بدعت ناکاره دی د فسق نه ځکه چه څوک بدعت کوي نو دی تنقیص کوي د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ اګرچه د دهٔ په ګمان کښې دا وي چه دی ئې تعظیم کوي په بدعت سره.[1]

امام غزالیؒ وائی چه: بعضې علماءٔ وئيلي دي چه د څه باره کښې سلفو خبرې کړی دي نو د هغې نه چپ پاتې کیدل زیاتې دی او د څه نه چه سلف خاموش پاتې شوی وي نو په هغې کښې خبرې کول تکلف دی.

صاحب د "المدخل" وائی.[2] د هر هغه څه چه اصل ئې نه وي په شرع کښې د هغې غرخول (نه کول) او پرواه نه ساتل لازم دی.

اوهغه وائی. زیادت په فعل د شارع بدعت دی او کم از کم مکروه دی.

---

[1] مجالس الابرار : ۱۲۷

[2] المدخل : ۱۱۷ ج۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



حافظ ابو شامه په "الباعث" ص۷ کښې ذکر کړيدی چه د اوامر پرېخودل د وجې د دین ګنړلو نه بدعت دی او د وجې د سستئ نه فسق دی. او دارنګه منع کیدونکی د حاصلولو د هغه څه چه الله تعالی روا کړیدی ( بغیر د عذر شرعی نه )نو دی وتونکې دی د سنت نه او عمل کونکې په غیر د سنتو د وجې د دین ګنړلو نه نو دې بعینه بدعتی دی. دارنګه شاطبی په "الاعتصام" کښې هم وئیلې دي. دوئ (خلقو) بدعات جوړ کړیدی په دین د الله تعالی کښې دوئ سره په دې دلیل د قرآن او سنت نشته خو بس صرف د ګمان تابعداری کوې یا د پلارانو او نیکانو طریقه پسې ردان وي په شان د هغه پخوانو مشرکانو باندې (قرآن وائی) ﴿مَا لَهُمْ بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ﴾ [الزخرف ۲۰]

"نشته دوی لره په دی باندی هیڅ دلیل".

او الله تعالی فرمایئ ﴿إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ﴾ [الانعام: ۱۱۷]

"دوئ تابعداري نه کوې مګر د ګمان او نه دی دوئ مګر اټکلیان دی".

او دا قاعده به فائده درکوې تا ته په رد د ټولو بدعاتو کښې چه خلقو په دین کښې جوړ کړیدی او نفسونه ورسره عادت شویدی د ډیرې زمانې نه.

شاطبی وائی : یقیناً متروک (پرېخودی شوی څیز) په دوه قسمه دی. یو قسم هغه چه شارع ترینه چپ پاتې شوی وي د وجې د نیشتوالی د مقتضی د دې نه لکه هغه مصیبتو نه چه پېښ شوی وو پس د وفات د نبی عَلَيْهِ السَّلَام نه نو محتاج شو اهل د شریعت نظر کولو ته په باره د دې کښې او په جاری کولو د دې کښې مطابق د هغه چه څرګند شویدی په هغه کلیاتو کښې چه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



په هغې دين کامل شويدى . او دې قسم ته رجع کيږي د هغه مسائلو چه هغې کښې سلفو صاليحينو سوچ کړيدى. او دويم قسم دا چه چپ شي شارع د خاص حکم نه يا پريږدي يو امر (کار) د امورو نه او موجب د دې هغه چه د دې تقاضا کوى نو هغه قائم وي او سبب ئې په زمانه د وحې کښې موجود وو. او حد نه دى مقرر کړى په ديکښې شارع د يو سيوائى کار په هغه چه وو د عام حکم نه په امثالو د دې کښې نو دا قسم په اعتبار د خصوص د دې بدعت مذمومه دى په شريعت کښې بيا شاطبي د دې مثال ذکر کړيدى په سجدو د شکر او د ساقطولو د زکوة د سبزو نه باوجود د قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ : په هغه ځه کښې باران او چينې ئې خړوب کوي نو هغې کښې عشر (لسمه حصه) ده او په هغه ځه کښې چه خړوب کولی شي په اوبه کولو (ارټ ، پمپ ، وغيره باندې) نو هغې کښې نيم عشر (شلمه حصه) ده. او په شان د دې تحريم د نکاح د محلل ده او يقيناً دا ناکاره بدعت دى باوجود د مقتضي نه او دا مشروع (جائز) نه دى او سره د حرص د رفاعه په رجوع د دې ذه ته نو دا دلالت کوي په دې خبره چه تحليل (يعنى د طلاقې شوې ښځې په حيلې او چل ول رواکول) جائز نه دى.بوره شه دا کلام (دشاطبي) سره دلږ ډير ترميم نه.

او حافظ ابن قيم وائى : هر چه نقل کول د دوئ دى ترک د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لره نو دا دوه قسمه دى. يو قسم تصريح د دوئ ده په دې خبره چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پريخودى دى دا کار دويم قسم عدم نقل د دوئ د هغه څه که کړى وى دې لره نو زيات به وو همتونه او دواعى دوئ يا اکثر د دوئ نه يا يو د دوئ نه په نقل د دې کار نو کله چه نه دى نقل کړى دې لره يو تن هم

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د دوئ یا اکثر د دوئ نه یا یو د دوئ نه او نه ئ بیان کړیدی دي لړه په یو مجلس کښ نو معلومه شوه چه دا کار موجود نه وو او د دي مثال لکه پریخودل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ الفاظو د نیت لړه په وخت د داخیلدو د مونځ کښ او پریخودل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دعا لړه مخامخ مقتدیانو ته پس د مونځ نه. بیا ئ ذکر کړیدی نور مثالونه . او هغه وائي: او دا خبره ممتنع (نا ممکن) ده چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یو کار کړی وي او نه وي نقل کړی دي لړه وړوکی او نه لوئ، نه نارینه او نه زنانه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه. او دې ئ داسې پابندي کوي چه دې پابندئ سره دغه کار یو ورځ هم جائز نه دی بیا مخکښ وائي چه

"او د دې ځائی نه معلومیږي دا خبره چه دې کار ته مستحب وئیل خلاف سنت دی ځکه چه ترک د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (یو فعل لړه) سنت دی لکه څنګه چه فعل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت دی نو که مونږ مستحب اوایو هغه کار ته چه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وي کړی نو دا داسې دی لکه چه مستحب اوایو مونږ پریخودلو د هغه څه ته چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړی وي او دیکښ فرق نشته .نو که اوئیلې شو چه دوئ سره څه دلیل دی چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا کار نه دی کړی او (دا اوائي) چه عدم نقل مستلزم نه دی عدم فعل لړه نو دا استدلال ډیر انتهائی لرې دی د معرفت د سنتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه. او دهغه څه نه چه په هغې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وو. او که لږ هم دا سوال صحیح شي نو جواب کښ به ورته وئیلې شي چه بیا خو به زمونږ دپاره تراویح دپاره اذان هم مستحب شي.

تتمه

تفصیل په "ارشاد الفحول" د شوکاني او "ضیاء النور : ۱٤٦" کښ دی .

بوهه شه چه افعال د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دوه قسمه دی . شرعی او عادی نو

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اتباع په هغه کښې واجب ده چه هغه کارونه شرعي دي لکه دوه رکعته مونځ د سحر او د ماښام نو دا قسم بيان د نص دی او د دې قسم نه د مړوند نه لاس پريکول د غل دی.

او هر هغه چه عادي وي لکه اولاړه او ناسته او کله چه خوراک او څکاک کوي. نو ديکښې جهګړه نشته چه دا بطور اباحت دی په نسبت سره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او امت د دهٔ نه. او د دې قسم نه هغه دی چه د خصوصياتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وي لکه څلورو نه زياتي ښځې کول او يو روژه د بلې سره يو ځائي کول (صوم و صال) نو دا دلالت نه کوي په شرکت په مينځ زموږ او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کښې اجماعاً.

او هغه کارونه چه عادتاً نه وو او نه خاص وو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې او نه بطور بيان او وضاحت وو نو که قصد کړی وي (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) په ديکښې د تقرب (نزديکت) الله تعالى ته نو وئيلي شويدی چه واجب ده اتباع (په ديکښې) اووئيلي شويدی چه (اتباع پکښې) مندوب ده. او وئيلي شويدی چه مباح ده. او وئيلي شويدی چه چپ پاتي کيدل پکار دی. او که قصد ئې پکښې د قربت نه وي کړی نو په ديکښې دا مذکوره څلور اقوال دی. او ښکاره د اقوالو د علماءُ نه دا ده چه صرف فعل دلالت نه کوي په ندب باندې. ځکه چه اصحاب رضی الله عنهم ډير زيات حرصناک وو په تابعدارئ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او دوئ مشاهده کوله د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ. او هر که چه نه دی ښکاره شوې دوئ ته قربت نو دوئ هغه دين نه دی ګڼړلې. لکه نقل کړی شويدی د انس ؓ نه چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د پنړې دوه قسمې وې نو دوئ (صحابوؓ) هغه سنت نه وو ګڼړلی کنې پاتي به وو دا په مينځ د

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



مخلوقات کښې او وخت تیر کړی وي.پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام څه ورځې وو د کافرانو نه او چرته هم دا نه دي نقل چه یو صحابي دغه غارته تلې وي دپاره د دې چه عبادت پکښې اوکړی. او نبي عَلَيْهِ السَّلَام چه مدینې ته هجرت کولو نو د دریاب په غاړه غاړه تلې وو خو یو صحابي دا نه دی وئیلی چه دا سنت دی. او په صحیح روایت کښې راغلې دی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام په جنګ بدر کښې د بدر نزدې اوبو ته تشریف راوړو نو حباب بن منذر عرض اوکړو چه حضرت! د دې ځائی باره کښې ستاسو څه خیال دی (کوم ځائی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام پړاؤ اچولې وو) ایا د الله تعالی په حکم تاسو دلته پړاؤ اچوئی یا دا ستاسو رائی ده او جنګی چال دی؟ حضرت اوفرمائیل چه دا رائی ده او جنګی چال دی . ( او د الله تعالی د طرفنه حکم نه دی) نو حباب بن منذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو چه حضرت! دا ځائی د پړاؤ دپاره نامناسب دی نو خلق د هغه ځائی نه (د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په وینا) پاڅیدل او د دې نور مثالونه هم شته .

## په مذکوره قاعدې باندې تفریع

د دې وجې نه منع کړی وو علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه سړی چه اراده ئې کړې وه د نفلو په عیدګاه کښې مخکښې د مونځ د اختر نه. نو منع کړو ده لره علي. نو هغه سړی اوئیل ای امیر المومنین . څه پوهیږم په دې خبره چه الله تعالی په مونځ عذاب نه ورکوي. نو علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته اوئیل او څه پوهیږم چه الله تعالی ثواب نه ورکوي په یو کار ترڅو پورې چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه وي کړی یا ئې پرې تیزې نه وي ورکړې . نو وي به مونځ ستا عبث او عبث (فضول کارکول) حرام دی. شاید چه الله تعالی تالره عذاب درکړی په دې مونځ

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



باندې د وجې د مخالفت کولو سنتا د پیغمبر عَلَيْهِالسَّلَام . او صاحب د هدا په وائی مکروه دی چه نفل اوکړي (یو سړی) پس د صبح صادق نه زیات د دوؤ رکعتونو د سبا نه (دوه رکعته سنت) ځکه چه نبي عَلَيْهِالسَّلَام زیادت نه دي کړی په دې سره د حرص د نبي عَلَيْهِالسَّلَام په مونځ باندې نو اوګوره څه رنګې ئې اوګرځو عدم فعل د نبي عَلَيْهِالسَّلَام په باب د عباداتو کښې دلیل په کراهت باندې. (۱)

او دارنګه عالمانو عمل د تسخیر او مخصوص طریقه باندې ذکر کولو ته بدعت ونیلې دی لکه مدخل ذکر کوي او دارنګه دې خلقو د ځان نه جوړ کړیدی مونځ د قضا عمر ئې او ذکر کول مخکښې دجنازې نه او په تیزه ذکر او عرس ، میلاد ، قوالی ، زیاتوالي د فدیې په ورکولو یو بل ته په لاسونو ، هغه چه دوئ ورته اسقاط وائی. او ذکر کول روستو د مشائخو په کوڅو کښې او په شپه د معراج کښې او بدعات د عاشوراء او تحقیق سره پریخودی وو نبي عَلَيْهِالسَّلَام او صحابه کرامو لوستل د قرآن په قبرونو باندې د وجې د رحمت نه په مړی باندې او ختم دپاره د مړو او صلاة او سلام روستو د اذان نه او د نبي عَلَيْهِالسَّلَام د پیدائش ورځ باندې میله کول او عرس مناوول وغیره.شاعر وایې:

وکل هدی النبي قد رجح فما ابیح افعل ودع ما لم یبح

وکل هدی النبي قدرجح یعنی د نبي عَلَيْهِالسَّلَام سنت له ترجیح ورکړی شویده: نو کوم فما ابیح افعل ودع مالم یبح څیز (چه په دیکښې) جائز وی نو هغه کوه او چه جائز نه وي نو هغه پریږده.

---

(۱) وهکذا فی مجالس الابرار : ۱۲۹.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## ځلورمه قاعده

## اقتداء د صحابه کرامو رضی الله عنهم دین دی.

د عرباض بن ساریه نه روایت دی او په هغې کښې دی. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائي "لازم دی په تاسو باندې هغه چه تاسو اوپیژندل د سنتو زمانه او د سنتو د خلفاء راشدینو نه روستو زمانه".[1]

او دابن مسعودؓ نه روایت دی: هغه څوک چه ستاسو نه اقتداء کوي نو اقتداء د اوکړی د صحابؤ د محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ ځکه چه دوئ وو ډیر نیکو کار د دې امت او ډیر ښائسته حالت والا وو. دوئ الله تعالی د خپل نبي د ملګرتیا او د دین د اقامت دپاره چنړ کړی وو. نو د دوئ فضلیت او پیژنئ او د دوئ تابعداری اوکړئ په طریقو د دوئ کښې ځکه چه دوئ په نیغه لار وو.[2]

او طیالسی د عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت کړی دی چه "یقیناً الله تعالی او کتل زړونو د بندګانو ته نو غوره ئې کړو محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ نو وئې لیږه ده لره په خپل رسالت سره او چنړ ئې کړو ده لره ملګري د ده نو وئې کړځول دوئ لره امداد کونکی د دین خپل او معاونین د خپل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نو هغه څه چه مومنان ئې وینې خائسته نو دا په نزد د الله تعالی ښائسته دی او هغه چه دوئ بد وینې نو هغه د الله تعالی په نزد بد دی.[3]

ابراهیم النخعی المتوفی ۵۹۵ (استاذ د امام ابو حنیفهؒ) وائی بالفرض که

---

[1] رواه الحاکم فی المستدرک ص ۱۹۷ ج۱ او ابو داؤد ص ۲۸۷ ج۱ والترمذی وابن ماجه وفی المشکوة.

[2] المدخل : ۶۱ ج۱

[3] مسند الطیالسی : ۳۳

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ماليدلی وو صحابه کرام چه لاس ئی وینځل (اودس کښې) تر مړوندونو پورې نو ما به هم کول په شان د کار د دوئ اګرچه مالوستل دي لره (قرآن کريم) کښې (الی المرافق ) تر څنګلو پورې . ځکه چه دوئ د علم خاوندان وو او ډیر حرصناک وو دخلقو نه په تابعدارئ د پیغمبر باندی او دوئ باندی د دین په یوه مسئله کښې هم تهمت نشی لګیدی کښې هم او دا ګمان نه کوي په دوئ باندې مګر خاوند د شک په خپل دین کښې نو هر هغه څه چه صحابؤ نه وي کړې او د هغوئ نه پس اوکړې شي نو دا به نقصان وی په دین کښې.(١)

او په مجالس الابرار کښې د الاغاثه نه نقل دي چه : د هوکه نه کړی تاله متفق کیدل د خلقو په هغه څه چه پیدا شویدی پس د صحابو نه بلکه پکار دی چه ته حرصناک شې په لټونه د احوالو او د اعمالو د دوئ (د صحابه کرامو) . ځکه چه پوهه د خلقو نه او نزدې دوئ نه الله تعالی ته هغه خوک دی چه مشابه وي د صحابه کرامو او بنه پیژندونکي وې طریقو د دوئ لره ځکه چه دین د دوئ نه اغستې شویدی او دوئ اصول (جرړې) وو په نقل د شریعت کښې د صاحب د شریعت نه. مناسب ده چه پرواه او نه کړې د مخالفت د خلقو د خپلې زمانې کله چه موافقت ستا وي د هم عصر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره. (٢)

ابو شامه وائی کوم ځائی چه راغلې دی حکم په لزوم د جماعت نو مراد د دینه لزوم او تابعداری د حق دی اګرچه منګول لکونکی په دیباندې لږ

---

١ المدخل : ٢٦٤ ج٤ ، : ١٢٢ ج١

٢ مجالس الابرار : ٢٩٩

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



وي او مخالفت د دې ډېر وي ځکه چه حق هغه دی چه په هغې صحابه ؓ وو او نښته عبرت ډېر والې د باطل لره پس د دوئ نه. او په مدخل[1] کښې ذکر شوېدی : یقیناً هغه څه چه د سلفو نه پس پیدا شویدی نو دا به خالی نه وي یا به دوئ (صحابه ؓ) پوهه په دیباندې او پوهه به وو په دې خبره چه دا کار موافق د شریعت دی او یا به دوئ په دې پوهه نه وو (معاذ الله) چه داسې شي . ځکه چه لازمیږي د دینه تنقیص د صحابو ؓ او تفضیل (غوره کول) د روستنو خلقو په دوئ باندې او دا خبره (هر چاته) معلومه ده چه دوئ (صحابه ؓ) ډېر کامل د خلقو نه وو په هر شي کښې او ډېر تابعدار وو. او یا به دوئ پوهه وو په دیباندې او پریخودی به ئې وو عمل په دیباندې او دوئ نه وي پریښودی دې لره مګر د یو موجب د وجې نه یا به ئې ترک واجب وو نو څه رنګې به کول ئې ممکن وو او دا د هغه څه نه دی چه عقل کښې نه راځي او یا به دوئ نه پوهیدل په دیباندې نو شي به هغه څوک چه دعوی د علم کوي پس د دوئ نه ډېر پوهه د صحابو نه او بهتر او ډېر پیژندونکې طریقو د نیکو لره او ډېر حرصناک په دیباندې. او که دا بهتر وی نو دوئ به پرې پوهه وو او دا خبره معلومه ده چه دوئ ډېر عقلمند او ډېر پوهه وو د خلقو نه. او په شرح د جوهرة التوحید کښې ئې وئیلي دي( او یقیناً ټول خیر په تابعدارئ د سلفو د امت کښې دی په کار د دین کښې . د دوئ نه دین اغستې شي او د دوئ د لارو نه پیژندی شي ځکه چه قرآن نازل شوی وو په پیغمبر عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ او هغه مخامخ د دوئ وو نو دوئ بنه پیژندونکي وو حلالو ،حرامو ،عقائدو ، عباداتو او معاملاتو د

[1] المدخل : ۱۶۰

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دهٔ لره په امورو د دین کښې او مونږ دغه امور مختصر او تفصیلي[1] نو هغه څه چه په زمانه د صحابۇ او د تابعینو کښې قربت وو نو هغه قربت دی. او چه دا شان نه وی نو هغه هډو قربت نه دی . او ډیر احادیث او اثار په تابعداریٔ د صحابۇ دلالت کوي لکه څنګه چه بغوی د ابن عمرؓ نه نقل کړیدی : زما صحابه په شان د ستورو دی نو کوم یو پسې چه تاسو اقتداء اوکړه نو لار به اومومئ ". او دارنګه نقل کړیدی دې لره ابن عدی په الکامل" کښې په لفظ د "بایهم اخذتم" سره. او بیهقی دا حدیث په مختلفو سندونو نقل کړیدی چه په دې سره درجې حسن ته رسې . نو دا حدیث حسن دی. او په شان د دې بیهقی په "المدخل" کښې او دارقطنی په "الفضائل" کښې او ابن عبدالبراو عبدبن حمید مسند کښې او دارمی او سنجری په" الابانة" کښې او حاکم نقل کړیدی. (ملخصاً من تحفة البیضاء[2] )

او امام احمد وائی : اصول د سنتو زمونږ په نزد منګولې لګول دې په هغه څه چه هغې باندې صحابه کرامؓ وو او د دویٔ اقتداء کول دی او پرېښودل د بدعاتو دې او هر یو بدعت ګمراهي ده.

او په مجالس الابرار [3]کښې دي:جائز نه دې چه تقلید اوکړي انسان په خپل دین کښې مګر د هغه چا چه هغه لره صاحب د شریعت د خیر نه شهادت ئې ورله کړیدی د هغه دپاره صاحب د شریعت دی یا هغه چاچه

---

[1] د دویٔ نه زده، کوؤ

[2] محدثینویه دې حدیث کلام کړیدی لکه څنګه چه مونږ خپل کتاب ضیاءالنور ۱۲۳ ج۱ کښې د هغې ذکر کړیدی

[3] مجالس الابرار : ۲۰۰

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شهادت کړیدی دهغه پاره صاحب د شریعت د خیر نه د هغه چا چه شهادت ئې ورله کړیدی د دروغو او منع ئې کړیده د اعتماد کولو نه په خبره د دهٔ د وجې د قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه" غوره د پیړونه زما پیړئ ده هغه کسان چه زه پکښې لیږلې شوی یم بیا هغه کسان چه دوئ ته نزدې دی بیا هغه کسان چه دوئ ته نزدې دی بیا به دروغ خوارهٔ شي".

نو اعتماد مه کوئ په اقوالو او افعالو د دی خلقو ځکه هر هغه څوک چه دوئ نه روستو راشي نو هغه به بدعت ته مستحب وائی بیا به پیش کوی دلیل چه هغه به خارج وي د اصولو د دوئ (صحابؤ، تابعینو) نه نو دا به د دهٔ نه قبلوې نه شي . ځکه چه د بل چا تقلید او اقتداء کول صرف په حسن ظن سره د هغه چا جائز دی چه هغه انصاف دار مجتهد وي نه د هغه چا چه هغه مقلد وی لیکن هر کله چه ختم شه اجتهاد د ډیرې زمانې نه نو منحصر شوه لار د پیژندلو د مذهب د مجتهد په نقل د کتاب معتبر کښې چه مشهور دی په مینځ د علماءٔ کښې یا اخبار د رښتنی چه اعتماد کړی شوی وي په علم او عمل د دهٔ نو نه دی جائز عمل په هر کتاب باندې ځکه چه ښکاره شویدی په دې زمانه کښې کتابونه چه کمزور و سړو جمع کړیدی (او جائز نه دی عمل) په وینا د هر یو عالم ځکه چه غالب شویدی فسق په خلقو کښې پس د قرون ثلاثؤ نه او مستور په حکم د فاسق کښې دی نو ضروری دی عدالت چه ترجیح ورکونکې وي جانب د رښتیاؤ لره چه قبول کړی شي قول د دهٔ په دیاناتو کښې. آسان د کړی مونږ ته الله تعالی عمل چه موافق وي د رضا د دهٔ سره په خپل لطف او کرم باندې.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او هر هغه څه چه کم واقع شویدی د صحابو رضی الله عنهم نه او نه پیژني دې لره اکثر د دوئ . نو یا خو دا اجتهاد دی او یا حدیث دی چه اوریدی ئې دی دې لره او بیا منسوخ شویدی او دا صحابي پرې پوهه نه وو. ځکه چه د کومې تابعدارئ حکم کړی شویدی په لفظ د "اصحابي" دا جمع مکسرده مضاف ده معرفې ته فائده کوي استغراقِ حقیقي لره. یعنی ټول صحابه رض یا(دا فائده کوي استغراق لره) عرفي یعنی اکثر او باقي صحابه رض چپ پاتې شوی وي. او دارنګه لفظ د "قرني" د دینه مراد هغه دی چه رائج وو په دغه پیړئ (قرن) کښې. نو شي به قول د عمر رض په نهي سره مامور او هغه چه نقل شویدی د ابن عمر رض نه نو دا به د هغه د خصوصیاتو نه شي مامور به نه وي او د ده موافقت نه دی کړی یو صحابي د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه.[1]

او نقل کړیدی نوح الجامع د ابو حنیفه نه چه دی وائي: لازم ده په تا باندې طریقه د سلفو او ځان بچ کړه د هر نوی څیز نه (په دین کښې) ځکه چه دا بدعت دی. دا ابن قدامه ذکر کړیدی.

---

[1] او د حضرت حذیفه بن الیمان رض [2] نه منقول دی چه ده اوئیل: ای د قاریانو ډلې، د الله تعالی نه اوبریږئ او د خپلو اسلافو طریقه خپله کړئ که تاسو سم شوئ نو (به نیکئ کښې به) ډیر مخکښې شئ او که تاسو کاږه شوئ نو ډیر زیات به ګمراه شئ". او به بل روایت کښې دي چه حذیفة بن الیمان اوئیل چه "زمونږ د لارو (طریقو) تابعداری اوکړئ. او که تاسو زمونږ تابعداری اوکړه نو( نیکئ کښې به) ډیر مخکښې لاړ شئ او که زمونږ مخالفت مو اوکړو نو د حق نه به لرې ګمراهئ کښې به پریوځئ".

[2] کتاب البدع والنهی عنها ص۱۱

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او د ابن مسعودرض نه نقل دی. "تابعداری اوکړئ او بدعت مه کوئ په تحقیق سره تاسو بچ کړی شوی یئ( د شر نه)" او دارنګه نقل کړیدی دي له د ده نه ابن وضاح . او په روایت د دارمی کښې داسې الفاظ دی : فقد کفیتم کل ضلالة" یعنی تاسو بچ کړی شوی وي یئ د هرې ګمراهۍ نه.

او ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښې وائي: هر چه اهل السنت والجماعة دی نو دوئ وائی هر هغه فعل او قول چه د صحابوؓ نه ثابت نه وي نو هغه بدعت دی ځکه که دا غوره وو نو هغوئ به مخکښې شوي وو زمونږ نه دیته ځکه چه دوئ نه دی پرېښودی یو خصلت د خصلتونو د خیر نه مګر دوئ ورته تلوار کړیده. (٢)

امام غزالیؒ وائی چه "بدعت عبارت دی د جوړولو د داسې خبرې نه چه د سلفو نه منقول نه وي". او مخکښې وائی چه "بدعتی ته ځکه بدعتی وئیلې شي چه دهٔ د ځان نه داسې یو خبره جوړه کړیده چه د هغې صراحت د سلفونه نقل نه دی .(٣)

او د امام شعبی نه نقل دی هغه وائی : هغه چه دوئ ئې تا ته بیانوي د اصحابو د محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نو مضبوط ئې اونیسه او هغه چه د ځان نه ئې درته وائی نو هغې باندې بول (متیازی) اوکړه".

فکل خیر فی اتباع من سلف وکل شر فی اتباع من خلف

هر خیر په تابعدارئ د سلفو کښې دی او هر شر په تابعداری د روستنوکښې دی.

---

١ الباعث : ۹

٢ ابن کثیر : ۱۵٦ ج ٤

٣ فیصل التفرقة بین الاسلام والزندقة : ۱۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## په مذکوره قاعدې باندې تفريع

نو هغه نوي کارونه چه په دين کښې د صحابو ؓ نه روستو پيدا شويدي هغه بدعات دي د هغې نه ځان بچ کول پکار دي لکه پورته کول د آواز پس د جنازې نه او دعا پس د دينه او په قبرونو قرآن لوستل او لاس ملاوُل پس د مونځ د جمعې او د اخترونو نه او کار نه کول په ورځ د جمعې او په تيزه ذکر او د ملاقات په وخت کښې رانيتيدل.

او درانګه هغه بدعات چه کيږي په مړي باندې او تحقيق سره دا مونږ تقريباً پنځوس ذکر کړيدي (په آخر د دې کتاب کښې). او حاضريدل د ماشومانو سنتونو ته او په قبر کښې اذان کول او صلوة او سلام پس د اذان وغيره نه.

## پنځمه قاعده

### هر يو نوی کار په دين کښې بدعت دی نو په دين کښې نوی کارونه جوړول سبب د رد او د منعې دی.

د عقبه بن عامر الجهني ؓ او د ابن مسعود ؓ نه روايت دی. يقيناً پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام فرمائي . بې شکه دا دوه څيزونه دی خبرې او طريقه نو زياتې ښائسته د خبرو نه خبرې د الله تعالى دی او زياته ښائسته د طريقونه طريقه د محمد عَلَيْهِ السَّلَام ده او ځان اوساتئ د نوی کارونو نه په دين کښې ځکه چه ناکاره په کارونو کښې نوی کارونه وي او هر نوی کار(په دين کښې)بدعت دی او هر يو بدعت ګمراهي ده.[1]

او د عائشې ؓ نه روايت دی: چاچه نوی کار پيدا که زمونږ په دې دين

[1] کتاب البدع : ۲۲

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کښې هغه چه د دينه نه وي نو هغه رد دی يعنی ناقابل قبول دی. متفق عليه.

او د ابن مسعودؓ نه روايت دی : هر يو نوی کار بدعت دی او هر يو بدعت گمراهي ده او ناکاره په کارونو کښې نوی کارونه دي(په دين کښې) . او دارنګه د عمرؓ نه هم نقل دی. او دا حديث لوئې ډلې د محدثينو په خپلو کتابونو کښې ذکر کړيدی لکه څنګه چه راتلونکې قاعده کښې به راشي. ان شاء الله تعالی.

ابو طاهر سلفی په روايت د ابوهريرهؓ حديث ذکر کړيدی چه يقيناً نبي عليه السلام فرمائی ای ابو هريرهؓ خلقو ته قرآن ښايه او خپله ئی زده کوه نو که ته مړشوې په دې حالت کښې فرښتې به ستا د قبر زيارت کوی لکه څنګه چه زيارت کيږی د بيت الله . او خلقو ته زما سنت ښايه اګر که دوئ ئی بد ګڼړی او که ته محبوب ګڼړې چه ايسار نه شې په پل صراط باندې په اندازې د رپ د سترګې نو په دين د الله تعالی کښې د ځان نه کار مه جوړوه.

نو علت يرول دي د احداث نه او بدعت کيدل د دې دی نوی کار په دين کښې نه کيدل د دې خلاف د حکم د الله تعالی او د پيغمبر عليه السلام .او په ديباندې دفع کيږی هغه اعتراض چه نهی به دې نه ده راغلې سره د دينه چه نهی وارد شويده په احداث او ابتداع باندې او تحقيق سره يرولی دی نبي عليه السلام خپل امت د تابعدارئ د نوي کارونو نه (په دين کښې) . او فرمائيلي ئی دی : ځان او ساتئ د نوي کارونو نه ځکه چه هر بدعت ګمراهي ده". نو حکم او که نبي عليه السلام د ګمراهئ د وجي د ابتداع او

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



احداث نه نه د دي وجې نه چه دا خلاف د حکم د الله تعالی او دپیغمبر عَلَيۡهِالسَّلَامُ دی. او په اصول فقه کښې ذکر شویدی چه مرتب کیدل دحکم په وصف سره خبرداری ورکونکې وي په علیت د وصف د دغه حکم نو مرتب کیدل د تحذیر او د ضلالت مشعر(خبرداری ورکونکې) دی په کیدلو د احداث او ابتداع علت د تحذیر او د ضلالت دی. نو احداث په شریعت کښې او دارنګه بدعت سره د ټولو افرادو ممنوع او محذور دی. ځکه چه علت موندی شي په ټولو افرادو کښې او جائز نه دی تقسیم د احداث او ابتداع په شریعت کښې حسنه او سیئه ته لکه څنګه چه دوی (بدعتیان) وائی .دا خبره مجدد الف ثانیؒ په خپلو مکتوباتو کښې کړیده.او شاطبي په "الاعتصام" کښې او ابن حجر په خپلې فتاوی کښې کړیده:.او دارنګه په "اصول السنن": ٦٢ کښې هم ده. او هغه چه تقسیم ئې شویدی (حسنه اوسیئه ته) نو هغه د معنی لغوی تقسیم دی نه د معنی شرعی.[1] نو چا چه پیدا کړو یو شی چه ځان پرې الله تعالی ته نزدې کوی که قول وي یا فعل نو دۀ ښکاره که (جوړئ که) په دین کښې هغه څه چه الله تعالی د هغې اجازت نه دی ورکړی . نو معلومه شوه چه عبادات بدنیه کښې هر یو بدعت سیئه دی.

او محدث (نوی جوړ کړی شوی څیز) دوه قسمه دی. یو هغه قسم چه پیدا شوی وي د وجې د ضرورت او حاجت نه او مخکښې نه وو موجود لکه

---

[1] کذافی ایضاح الحق : ۱۰۱، فتاوی ابن حجر : ۲۰٦ ، هدایة السائل : ۳۵۵، الاعتصام ۱۵۳، تحفه الاخیار : ۱۹٤ ؛ ۲۰۰،آکام النفائس : ۲۷ ،مائة مسائل : ۸٦، ترویج الجنان :



Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



راغندول د دلائلو دپاره د رد د هغه شبهې چه د صحابوؓ په زمانه کښې نه وه او یا نوې مسئلې نو محتاج شو اهل د شریعت نظر کولو ته په دیکښې او جاري کولو د وې ته په هغه کلیاتو چه په هغې دین کامل شویدی . او دارنګه هغه څه چه عمل پرې نه وو شوی په زمانه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام کښې د وجې د تراویحو په جمع سره څکه چه مانع د دینه یره د فرضیت وه . نو هر که چه ختم شه مانع په ختمیدو د زمانې د وحی نو صحیح شوه رجوع په دیکښې هغه څه ته چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام کړی وو او بیانې پریخودی وو. نو دا قسم به محدث فی الدین نه شي شمیرلې بلکه دا اظهار د هغه څه دی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام کړی وو بیا ئې پریخودی وو لکه تراویح په جمع یا د مصالح مرسلو یا د وسائلو یا د استحسان یو قسم دی. او حاصل د دې راجع کیږي حفاظت د امر ضروری ته یا دفع د حرج ته نو دا مقاصدو نه دي.

او دویم قسم هغه دی چه پیدا شوی وي په داسي صفت سره چه د صحابه کرامو رضوان الله علیهم په زمانه کښې نه وو او نه وو په وجود د دې کښې مانع لکه د جنازې نه مخکښې ذکر کول او صلاة او سلام پس د اذان نه او نسما قسم خوش آوازۍ په خطبو او اذان کښې. یا نوی پیدا شوی وي په تخصیص د وخت سره لکه شپه د جمعې خاص کول دپاره د صدقې او دپاره د لوستلو د سورهٔ ملک . نو دا قسم د هغه نوی کارونو نه دی چه مذموم دی په دین کښې.

او د هشام بن عروه نه نقل دی هغه وائي: تپوس مه کوئ د خلقو نه د هغه څه چه دوئ نوی جوړ کړی وي څکه چه دوئ ورله جواب تیار کړی وي خو لیکن تپوس اوکړئ دوئ نه په باره د سنت کښې.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او په "احياء العلوم کښې دي چه : او هر کله چه نوی جوړ کړو مروان منبر په مونځ د اختر کښې د مصلی سره نو پاڅيدهٔ ورته ابو سعيد خدری نو ورته ئې اوئيل ای مروانه! دا څه بدعت د جوړ کړو نو دهٔ اوئيل : چه دا بدعت نه دی دا خير (نيکي) دهٔ تا ته پته دهٔ چه خلق ډير شويدي نو ما اراده اوکړه چه دوئ ته آواز اورسي . نو ابو سعيد خدری ورته اوئيل :قسم په الله تاسو بالکل راتله نه کوئ په خير باندې ما ته چه څومره پته ده . قسم په الله څه نن تاپسې مونځ نه کوم .بې شکه دهٔ دا بد اوکړهٔ ځکه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تيک لګولو په ليندې او يا په همسا باندې په خطبې د اختر او د استسقاء کښې نه په منبر باندې . او په مشهور حديث کښې دي."چا چه نوی کار پيدا کړو چه زمونږ په دې دين کښې نه وو نو هغه رد (مردود) دی "او په بل خبر کښې دی"چا چه کډوډ کړو امت زما نو په دهٔ باندې لعنت د الله تعالی او د فرشتو او د ټولو خلقو دی ." اوئيلې شو: او ستا د امت کډوډول څه دی. اوفرمائيل : چه جوړ کړی بدعت لره او خلق ورته راړوې. او پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائيلي دي : يقيناً د الله تعالی يو فرښته آواز کوي چه هر هغه چا چه خلاف اوکړو د سنتو د پيغمبر د الله تعالی اوبه نه رسي دهٔ ته شفاعت زما" د بدعت په ذريعه د خلاف سنت څيز جوړولو په وجه په دين باندې د زياتي او ظلم کونکي مثال په نسبت د هغه سړي چه يو ( عام) ګناه کوي لکه په مينځ د مملکت کښې د بادشاه نافرماني او بغاوت کونکي ، په نسبت د هغه سړي چه هغه د بادشاه په يو معين خدمت کښې خلاف ورزي اوکړي چه داسې کس کله کله معاف کولی هم شي خو هغه کس چه په مينځ د مملکت کښې نافرماني کوي نو هغه هيڅ کله نشي معاف

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


کولی[1]

نو خلاصه دا چه مونږ منع شوی یو د بدعاتو نه د وجې د قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه: "ناکاره په کارونو کښې بدعات دي."

او پرولی یو مونږه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نو فرمائیلي ئې دي: "بیا به دروغ خوارهٔ شي" او فرمائیلي وو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په باره د فرقې ناجیه کښې: "هغه چه څه او زما صحابهؓ دي په هغې باندې."

او حکم ئې کړیدی مونږ ته په تابعدارئ د سنتو د وجې د قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه " لازم ده په تاسو تابعداري د سنتو زما او د سنتو د خلفاء راشدینو."

او د وجې قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ " غوره د امت زما پیړئ ده بیا هغه کسان چه دوئ ته نزدې دي بیا هغه کسان چه دوئ ته نزدې دي" (رواه الشيخان عن عمران بن حصين)

او شوکاني په شرح د المنتقى کښې په تشریح د دې حدیث کښې وئیلي دي: ليس عليه امرنا فهو رد."

هغه وائي چه دا حدیث د بنیادونو د دین نه دی څکه چه داخلیږي د دې لاندې بې شمیره احکام. بیا وائي او د خایونو د استدلال نه په دې حدیث باندې هر فعل او ترک (کول، نه کول) چه واقع شوی وي اتفاق په مینځ ستا او مخالف ستا کښې په دې خبره چه دا (فعل یا ترک) د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ په دین کښې نه وو خو هغه (مقابل) د دې حدیث په تقاضا باندې ستا مخالفت کوي په داسې شان چه د دې حدیث په وجه هغه کار باطل او

احياء العلوم: ۸۱ ج۴ والمدخل [1]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



فاسد نه شي کيدی او (په دي مخالفت کښ) په دې قاعدې استدلال کوې چه داسې تقاضا خو صرف د هغه امر (کار) غير موجودگی کولی شي چه د هغې غير موجودگي د څه کار نه موجود کيدو کښ مؤثر وي لکه شرط (د شرط عدم د مشروط په عدم کښ مؤثر وي) يا داسې قسم تقاضا د هغه کار وجود کولی شي چه د هغې موجودگی د يو کار په "عدم" کښ مؤثر وي لکه "مانع" (چه دوې وجود د فعل په عدم کښ مؤثر دی) او په داسې موقع باندې ته د مذکوره حديث په عموم اعتماد کولی شې چه هغه د داسې قسم د ټولو امورو په هر يو فرد احاطه کړيده نو (ته د مخالف) په دې تخصيص انکار(رد ) اوکړه چه دهٔ سره ديباندې بغير د دې مذکوره (منطقی) اصطلاح نه هيڅ دليل نشته . او دا (رد) ته داسې کولی شې چه نه وائې. چه ستا دا کار د نبی علیہ السلام د دين نه نه دی او هر داسې ځيز مردود (ناقابل قبول) وي نو دا کار مردود دی او هر مردود باطل وي نو ستا دا کار هم باطل دی. (انتهی کلامه مختصراً) دا حديث تالره د ټولو بدعاتو په رد کښ کافی دې نو ته به وائې دا نوی ځيز دی (په دين کښ) او هر نوی ځيز بدعت دی نو دا بدعت دی.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


## شپږمه قاعده
## هر يو بدعت ګمراهي ده

الله تعالى فرمائي: ﴿ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ۝ وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّضِلٍّ ﴾ [الزمر: ٣٦-٣٧]

"او چا باندې چه مهر د ګمراهئ اوهي الله تعالى نو نه وي ده لره څوك توفيق ورکونکې او چا ته چه توفيق ورکړي الله تعالى نو نه وي هغه لره څوك ګمراه کونکې".

او الله تعالى فرمائي ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ﴾ [البقره: ١٦]

"دغه کسان چه دي دوئ غوره کړه ګمراهي په مقابله د هدايت کښې".

روايت ذکر کړيدی امام مسلم د جابر بن عبدالله نه هغه وائي: چه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائيلي دي: او ناکاره په کارونو کښې بدعات دي او هر بدعت ګمراهي ده ([1])

او روايت ذکر کړيدی ابن عساکر او په هغې کښې دی: ځان بچ کړئ تاسو د بدعت نه ځکه چه هر بدعت ګمراهي ده، او هره ګمراهي کرخې اور ته" او دارنګه ذکر کړيدی لالکائی عبدالله بن الحسن المتوفی ٤١٨ھ په "السنة" کښې په روايت د شبابه ([2]) او ذکر کړيدی محمد بن وضاح په "کتاب البدع والنهي عنها ص ٢٤ کښې د جابر بن عبدالله او د عرباض بن ساريه نه. او دارنګه په "الاحياء" ص٨٩ ج١ کښې دی.

---

[1] وهكذا اخرجه الامام احمد ص٢٠،ص٣٧ ج٤، وابو داؤد ص٢٨٧، والحاكم ص ٩٧ ج١، وابن ماجه ص٥ ورواه الترمذی ص٩٢ ج٢ والدارمی ص٢٦

[2] والتفصيل فی ضياء النور ص٨٩

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او د عمرؓ نه منقول دی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به فرمائيل "ډيره ربښتيا خبره، خبره د الله ده او يقيناً ښائسته طريقه د محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ طريقه ده او ناکاره په کارونو کښې بدعات دي. خبردار يقيناً هر نوی کار بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده او هر ګمراهي اور کښې ده". او دارنګه د ابن مسعودؓ نه نقل دی او اخراج کړيدی ابو نصرالسنجری او ابن عساکر د عقبه بن عامر الجهنی او د ابن مسعودؓ نه او دا حديث په سنن نسائی : ۷۹۰ ج۱ او صفوة : ۱۶۱ ج۱ او بيهقی نقل کړيدی په "الدلائل والاعتقادات" کښې لکه څنګه چه په "الباعث" د ابو شامه : ۷ کښې دي. او ذکر کړيدی امام ابو فرج ابن رجب په "جامع العلوم والحکم" کښې په ګڼړو سندونو سره، په : ۲۲۶ کښې. او حافظ ابو نعيم وائی: دا حديث جيد (کره) دی د حديث د شاهين نه.

طبرانی مرفوعا نقل کړيدی د ابن مسعودؓ نه : تابعداری کوئ او بدعت مه کوئ ځکه چه ستاسو کفايت کړی شويدی" لکه څنګه چه په الباعث : ۹ کښې دا موجود دی.

ابن وضاح د ابن مسعودؓ نه نقل کړيدی. "تابعداری کوئ زمونږ د طريقو او بدعت مه کوئ ځکه چه ستاسو کفايت کړی شويدی" ص۱۰.

دارنګه په مسند الدارمی : ۳۸ کښې دی . نو عموم د لفظ د ضلالت هر بدعت دی (نو دا عموم) ثابت دی نو څوک چه دعوی د خصوص کوی په هغه څه کښې چه نوی ئې جوړ کړی وو او ښائسته ورته وائی نو ضروری دی ده لره دليل مخصص (خاص کونکي) د قرآن او سنت نه يا دا جماع نه چي مجتهدينو پوري مختص ده.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



حافظ ابن حجر المتوفی : ۸۵۲ ه وائی. او قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَام : هر بدعت گمراهي ده . دا د منطوق او مفهوم په لحاظ قاعده کلیه ده . هر چه د دې منطوق دی نو لکه چه اوئیلې شي .حکم د دې فلانکي څيز بدعت دی او هر بدعت گمراهي ده نو دا د شريعت حصه نه شي کيدی څکه چې شريعت ټول هدايت دی.[1]

حافظ ابن رجب وائی: دا حديث د منطوق په اعتبار سره دلالت کوي په دې خبره چه هر هغه عمل چه په هغې امر نه وي نو هغه مردود دی او د مفهوم په اعتبار سره دلالت کوي په دې خبره چه هر هغه عمل چه په هغې باندې امر د دهٔ نه وي نو هغه مردود دی. مراد د " امر " نه دلته دين او شريعت دی. لکه څنګه چه په يو بل روايت کښې راځي : من احدث فی امرنا هذا ماليس منه فهو رد .

نو معنی به د دې وي دغه وخت کښې چه يقيناً هغه څوک چه د هغه عمل خارج وی د شريعت نه او مقصد په شريعت سره نه وي نو دغه عمل مردود دی .

ابن صفی وائی: يقيناً هر يو نوی کار (په دين کښې ) بدعت دی او هر بدعت گمراهي ده دا دوېمې قسم دی د شکل اول نه چه هغه بديهی الانتاج وی .

حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې وائی : او دا حديث د اصولو (بنيادونو) د اسلام نه شميرلې شويدی .

امام نوویؒ وائی : دا حديث د هغه څه نه دی چه مناسب دی محفوظ سا تل

[1] فتح الباری : ۳۱۳ ج۱۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د دي او استعمال د دي په پرېښودو د منکراتو کښې.

او صوفي وائي: دا حديث چي دی صحيح کېږي دا خبره چه اوښيلي شي ديته نيم دلائل د شريعت.

حافظ ابو شامه وائي چه "اطلاق د لفظ د بدعت" په شريعت کښې د ناپسند (ناخوښ) خيز په جوړولو باندې غالب دی. او بدعت شامل دی تخصيص د عباداتو ته په وختونو سره لکه د جمعې په شپه صدقه کول او لوستل د سورة الملك او دارنګه هغه چه نوي پيدا کړی شوېدی د هيئاتو نه دپاره د ذکر لکه حلقه (دائره) جوړول او په تيزه ذکر کول او د سنتو نه پس دعا کول په هيئت اجتماعيه سره . نو هر يو امر او فعل چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه نقل وي نو هغه هدايت دی لکه څنګه چه هر هغه کار چه منع ترېنه شوېده ګمراهي ده او مونږ په ضياء النور کښې د بدعت معنې زيات تفصيل سره ذکر کړېدی او طريقه د هغه پيرو چي د هغوئ د خير ګواهي شوی ده او سنت د خلفاء راشدينو او هغه څه چي واقع وي لاندې د عموم نه هغه چه مندوب کړی دی الله تعالی او پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام او تيزي ئې ورکړی ده په هغې باندې نو دا بدعت نه دی لکه څنګه چه کم فهم خلقو ګمان کړی دی او دارنګه دنياوي امور دی د وجې د جواز د دينه (١)

او شيخ عبدالقادر قدس سِرُّهُ په "فتوح الغيب" کښې وئيلي دي په مقاله ثانيه کښې:[2] تابعداری کوئ (د سنتو) او بدعت مه کوئ.

شيخ عبدالحق په شرح د فتوح الغيب کښې وئيلي دي : تابعداري کوئ د

---

[1] هکذا في هداية السائل : ۳۷۱

[2] غنية الطالبين : ۷۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سنتو او مه پیدا کوئ په دین کښې بدعت لره چه په دین کښې نه وي . او تحقیق سره دا خبره ثابته شوه چه هره قاعده کلیه یا دلیل شرعي چه کله مکرر شي په ډیرو ځایونو کښې او پیوست نه وي دې سره قیدلګول یا تخصیص نو دا دلیل دی په بقاء د دې په مقتضی د لفظ د دې دعموم لکه قول د الله تعالی ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ ()

"او بار به نه کړي یو بارونکې بار د بل چا."

نو قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ : كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة .

"هر نوی کار(په دین کښې ) بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده."

دا د دې قبیلې نه دی په ډیرو ځایونو کښې مکرر شویدی او نه دی راغلې په بوآیت او نه یو حدیث کښې تقیید او نه تخصیص او نه فهمیږي په دیکښې خلاف د ظاهر د کلیې نو دا واضح دلالت کوي په دې خبره چه دا په خپل عموم او اطلاق باندې بناء دی. علاوه د دینه چه سلف صالحین او صحابه کرام" په مذمت د بدعاتو متفق دی. او الاعتصام کښې شاطبی" تفصیل کړیدی ص ۱۰۹ ج ۱ کښې.(¹)

## خلاصه د بحث

او نه په رد د بدعاتو کښې ونیلې شي : چه دا بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده نو دا ګمراهي ده بیا ونیلې شي: دا ګمراهي ده او هره ګمراهي به اور کښې ده . او دارنګه نه ونیلې شي: دا زیادت دی په دین کښې نو دا بدعت دی خکه چه دا زیادت دی په کمال باندې او رټنوالې ګمراهي ده خکه چه الله تعالی فرمائی: ﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ ﴾ [ المائده: ۳ ]

¹ هکذا فی ضیاء النور : ۱۳۵

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


"دا ساعتې ما پوره که دپاره ستاسو دین ستاسو".

دا آیت احتمال د منسوخ کیدو نه لرې ځکه چه دا خبر دی او آیت محکم دی او تخصیص نسخ ده نو شي به (دا) دلیل په عدم جاري کیدو دغه تخصیص . یاته وئیلې شې چې دا شریعت جوړول دی بغیر د اجازت د الله تعالی نه او شریعت جوړول بغیر د اجازت د الله تعالی نه شرک دی.

الله تعالی فرمائی : ﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰؤُا شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ﴾ [ الشوری: ۲۱]

"ایا شته دوئ حصه داران چه څرګند کړی ئې دی دپاره د دوئ د دین نه هغه چه اجازت نه دی کړی په هغې باندې الله تعالی".

یا نه ګڼړل د دې هیئت او مقدار دروغ وئیل دي په الله تعالی باندې او دروغ وئیل په الله تعالی قبیح دی الله تعالی فرمائی : ﴿ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [ البقره: ۸۰]

"ایا وایئ تاسو په الله تعالی هغه چه تاسو پرې نه پوهیږئ".

نو قباحت ئې بیان کړو د هغه چا چې کار کوی یا خبره کوی بغیر د دلیل نه او وینا کول په الله تعالی باندې خلاف د هغه چه الله تعالی رالیږلي دی او د شریعت نه نه وي دا ګمراهي ده او د ځان نه شریعت جوړول دی.

## په مذکوره قاعدې باندې تفریع

نو بدعت کله کله وي په یو هیئت کښې چه د ځان نه جوړ کړی شوی وي ( دا هیئت) او اصل ئې ثابت وي لکه په تیزه ذکر او د سنتو نه پس په جمع دعا کول.

او کله کله وي په وخت مقررولو کښې لکه د جمعې شپه خاص کول دپاره د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



صدقي او د خلويښتئ شپه او پس د کال نه (کليزه) او لوستل د سورة الملک او لاس ملاوول پس د مونځ د اخترونو نه او پس د مونځ د سحر او د جمعې نه.

او کله کله وي (دا بدعت) په يو ځائې کښې چه شارع په هغې کښې نه وي کړې لکه په قبر کښې اذان کول او پاره د اخترونه او د جنازې او دعا کول پس د جنازې نه او صلاة او سلام په تيزه وئيل پس د اذان نه.

او کله کله وي (دا بدعت) په وجه د التزام لکه څنګه چه منع کړې وو ابن عمر ؓ هغه کسان چه د ساخ مونځ ئې په التزام سره کولو په جماعت کښې.

او کله کله وي (دا بدعت) په يو نوې خبرې پيدا کولو سره چه د سلفو صاليحينو نه نقل نه وي لکه څنګه چه شاه عبدالعزيز ؒ فرمائي: يقيناً دعا غوښتل د مړو نه بدعت دی او مدد غوښتل په دې معنی سره نقل نه دی.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## اوومــــــــــه قاعـــــده
## په رائې عمل کول ګمراهي ده.

الله تعالى فرمائي: ﴿ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلْنَٰكَ خَلِيفَةً فِى ٱلْأَرْضِ فَٱحْكُم بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا نَسُوا۟ يَوْمَ ٱلْحِسَابِ ﴾ [ ص:۲٦ ]

"اى داؤد! یقیناً مونږ ګرځولې دی تا لره مامور په زمکه کښې نو فیصله کوه په مینځ د خلقو کښې په انصاف او تابعداری مه کوه د خواهش ګنې ګمراه به کړی تاله (وابړوي تاله) د الله دلارې نه یقیناً هغه کسان چه ګمراه کیږی د لارې د الله نه دوئ لره دی عذاب سخت په سبب د هغه چه دوئ هیره کړې وه ورځ د حساب".

نو الله تعالى د خواهش ګمراهي ګرځولې ده. او موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته الله تعالى فرمائیلي وو: ﴿ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرْدَىٰ ﴾ [ طه: ۱٦]

"نو وانهړوي تا لره د دې نه هغه څوک چه ایمان نه راوړی په دیباندې او تابع دی د خپل خواهش ګنې هلاک به شي".

نو اوړیدونکې د حق نه او عناد کونکې د انبیاء علیهم السلام سره نه وي مګر تابعدار د خواهش او الله تعالى فرمائي: ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ فَٱتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ [ الجاثیه: ۱۸]

"بیا ګرځولې دی مونږ تاله په یو واضح دین نو د دې تابعداری اوکړه او تابعداری مه کوه د خواهشاتو د هغه کسانو چه نه پوهیږي".

ابن عبدالبر د مالک بن انس نه روایت کړیدی چه هغه وائي: بې شکه زه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بنده يم خطا كيږم او حق ته رسم نو زما رائې ته سوچ اوكړئ نوهر كله چه موافق وي د قرآن او سنت سره نو عمل پرې اوكړئ او هر كله چه د قرآن او سنت سره موافق نه وي پرېږدئ دې لره.(١)

او د شعبي نه نقل دى : هغه وائې چه دوئ ئې درته بيانوي د اصحابو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه نو عمل پرې اوكړه او هغه څه چه دوئ ئې د ځان نه وائى نو هغې باندې بول اوكړه.[٢]

او د ابن عمر رض نه نقل دي هغه وائې: علم درې څيزونه دي كتاب خبري كونكې او طريقه تيره شوى او څه نه پوهيږم.[٣]

او د ابو هريره رض نه منقول دى: چه عمل به كوي دا امت څه وخت پورى په كتاب د الله تعالى ، بيا به عمل كوي څه زمانه په سنتو د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام بيا به عمل كوي په رائې باندې نو كله چه دوئ په رائې عمل كوي نو دوئ به هم گمراه شي او نور خلق به هم گمراه كوي.[٤]

او په روايت كښې راغلي دي : چا چې وينا اوكړه په دين كښې په خپلې رائې سره نو ده تهمت او لكوو ما باندې.

او په بل روايت كښې دي: چا چه خبرې اوكړې په رائې سره نو ده تهمت اولكوو ما باندې په دين كښې.[٥]

---

١ جامع بيان العلم وفضله : ٣٢ ج ٢
٢ جامع بيان العلم : ٤٢
٣ جامع بيان العلم : ٢٤
٤ كنز العمال : ١٦١ و: ٥ رواه ابو نعيم عن جابر رض
٥ رواه الديلمى عن انس رض

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او ديلمي د علي رضی الله عنه نه نقل کړيدي چي مه قياس کوئ دين ځکه دين باندې قياس نه شي کيدی او ړومبې هغه څوک چه قياس (فاسد) ئې کړی وونو هغه ابليس دي.(1)

شاطبي رحمه الله وائی: يقيناً ته به نه مومې بدعتي د هغه چا نه چه نسبت ئې دين ته کيږي مګر دې به دليل نيسي په خپل بدعت باندې په دليل شرعی سره. نو دغه (بدعتی) شرعی دليل د خپل عقل او خواهش موافق کرځوي . او دا معامله د الله تعالی په هغه ازلی حکمت کښې ثابته ده چه هغې لره واپس کيدل نشته .الله تعالی فرمائی ﴿ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ﴾ [ البقره:۲۶]

"مهر د کمراهئ وهي الله تعالی په دې سره په ډيرو."

الله تعالی فرمائی ﴿ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ﴾ [المدثر:۳۱]

" درانکه مهر د کمراهئ وهی الله تعالی په چا باندې چه ئې خوښه شي او توفيق ورکوي چا ته چه ئې خوښه شي."

ليکن دغه خلقو ته د متشابه دلائلو نه دلائل ملاويږي د محکم (واضح) دلائلونه دوئ سره دليل نه وي. دا قسم لره دلائل هم په شان د ډيرو دی او دا لوئ دليل په اتباع الهوی دی.

بيا محکښې امام شاطبي رحمه الله وائی چي دا واضح ثبوت دی چه په هغې باندې د بدعتيانو مقرر شوې کمراهئ او دا سلام نه د مخکښې خلقو احوال او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د زماني د خلقو احوال شاهد دی. ځکه الله تعالی فرمائی چه ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ ﴾ [ يسين:۴۷ ]

---

1 كنزالعمال : ۱۸۷ ج۱

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


"او کله چه اونیلي شي دوئ ته ، خرج اوکړئ د هغه نه چه درکړی دی تاسو ته الله ، وائی هغه کسان چه کفر ئی کړی دی هغه کسانو ته چه ایمان راوړی دی ایا خوراک ورکړو مونږ هغه چا ته که خوښه وی د الله تعالی نو ماړه کړی به ئی وو دوئ لره".

ځکه یقیناً کافران چه دي هر کله چه دوئ ته حکم اوکړی شو د مال خرج کولو نو دوئ شومتیا اوکړه په خپلو مالونو باندې او اراده ئی اوکړه چه دوئ اوکرخول د دینه ځائی د وتلو نو دوئ اوئیل : ایا خوراک ورکړو مونږ هغه چا ته که د الله تعالی خوښه وی نو دوئ به ئی ماړه کړی وو؟ او دا خبره هر چا ته معلومه ده که د الله تعالی خوښه وی نو یو تن به ئی د بل نه وی محتاج کړی لیکن الله تعالی امتحان اوکړو په خپلو بندیکانو دې دپاره چه اوګورې چه دوئ څه عمل کوي. نو الله تعالی په دې بنیاد د دوئ د خواهش ذکر اوکړو چه دوئ د الله تعالی د کتاب د متشابه لفظ تابعداری اوکړه چه هغه الله تعالی ته منسوب وو. نو د دې وجې نه اوئیلې شو دوئ ته (نه ئی تاسو مګر په ښکاره ګمراهی کښې)[1]

او تحقیق سره څکښې تیره شویدی په دې سورة کښې تابعداری د کافرانو د رائی په شرک کښې او مقابله د دوئ د انبیاء علیهم السلام سره او څه ښائسته رابللی وو دوئ لره رجل مومن (مومن سړی) تابعدارئ د پیغمبرانو ته نو ده وئیلې وو (ای زما قومه تابعداری اوکړئ د لیږلې شوؤ (پیغمبرانو).

نو هر کله چه دوئ مقابله اوکړه او د حق نه ئی انکار اوکړو او د رائی تابع

[1] ان انتم الا فی ضلال مبین ( الایة یسین ٤٧)

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شو نو نازل شو په دوئ باندې هغه عذاب چه دوئ باندې نازلېدهٔ ترڅو پورې چه وئې کرځول دوئ لره ساړهٔ پراته ګويا چه دوئ د خپلو باطلو سره د خرو په شان آوازونه کول. نو سوچ اوکړه تر آخر د سورت پورې او به مومې ته عمل . د ګمراهانو دليل کوږ ( دحق نه) او دلائل د دوئ يعنې غلطې او رائې کمزورې دي. الله تعالى د مونږ د دينه اوساتې او مونږ دې په توحيد اوسنت کلک کړي. ﴿إِنَّ وَلِيِّـۧ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّٰلِحِينَ﴾ [ الاعراف: ۱۹۶]

"يقيناً دوست زما الله هغه ذات دى چه رالېږلې ئې دى کتاب او دا (الله) دوستي کوى د نيکانو سره."

ابن عبدالبر وائي: ټول بدعتيان هغه چه دوئ بيانوى د سنتو نه او تاويل کوي په قرآن کښې په غير د هغه طريقې چه سنتو ئې بيان کړى دى نو دوئ خپله ګمراه دى او نور خلق هم ګمراه کوي . پناه غواړو مونږ د رسوا کېدونه". غواړو مونږ د الله تعالى نه توفيق او حفاظت په مهربانئ د ده سره.[1]

شعبي د مسروق او ده د عمر نه نقل کړيدي چې ده خلقو ته تقرير کولو نو وئې وئيل : واپس کړئ خپلې ناپوهئ سنتو ته.[2]

او هشام بن عروه نه منقول دى چې د بنى اسرائيلو دين معتدل راروان وو تر دې چې دوئ د قيد شوؤ ښځو بچې پيدا شو چه هغوئ په رائي عمل

---

[1] جامع بيان العلم ص۱۹۲ ج۲

[2] جامع بيان العلم ص۱۹۳ ج۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شروع کړو نو خپله هم ګمراه شو او نور خلق ئې ګمراه کړل.[1]

ابن عبدالبر "البقيه" کښې د فضل بن المقنع نه نقل کوي چې د بدعتيانو نه صرف دا خبره بده لږي چه دوئ رائې دين ګرځولې دی حالانکه رائې څه حتمي او اعتمادي څيز نه دی. رائې خو د شک او ګمان د مرتبې نه مخکښې نه شي تلې صرف ديته نزدې کيږي بلکه نزدې کيدی هم نه شي. او تاسو به د يو تن نه نه وی اوريدلی چه د هغه په يو کار يقين وي او په هغې پوهيږي چه دې باره کښې زما داسې داسې رائې ده (يعني يقيني څيز نه څوک په رائې سره تعبير نه کوي) نو څه نه وينم دير سپکونکې دين لره دهغه چا نه چه خپله او د خلقو رائې فرض دين ګنړي.[2]

په حديث کښې راغلي دي چې دنبي عَلَيهِ السَّلَامُ نه تپوس اوشه په باره د علاماتو د قيامت کښې نو نبي عَلَيهِ السَّلَامُ اوفرمائيل: د قيامت د علاماتو نه دا دی چې لټولی به شي علم د اصاغرو (دوړو) سره.

او په بل حديث کښې دی: من اشراط الساعة ان يلتمس العلم عند الاصاغر د قيامت د علاماتو نه دا ده چه علم به د کمې درجې خلقو نه زده کولی شي.

نعيم وائي تپوس اوشه د ابن مبارک رحمه الله چه اصاغر څوک دی؟ دهٔ اوئيل هغه کسان چه خپله رائې وائي نو هر هغه وړوکې چه د لوئ خبره نقل کوي نو هغه وړوکې نه دی.[3]

---

[1] ايضاً : ۲۳۸ ج۲

[2] ايضاً : ۳۳ ج۲

[3] ايضاً : ۱۵۸ ، ۱۵۹

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د ابن مسعودؓ نه نقل دی هغه وائی : همیشه به خلق په خیروی څوپورې چه دوئ علم د خپلو مشرانو نه اخلي نو کله چه دوئ ئې زده کوي دوړو او وینځو نه نو هلاک به شي.

د دې په شان روایت د عمر بن خطابؓ نه هم نقل دی او محققین تیر شو تفسیر د ابن مبارک چه دوئ هغه کسان دي چه د خپلې رائې نه خبرې کوي . او دارنګه د ابو عبید نه هم نقل دي نو هر هغه څوک چه فتوی ئې ورکړه بغیر د دلیل د قرآن او سنت نه نو هغه صغیر (وړوکې) دی. او یقیناً لوئ نه مراد عالم دی په هر عمر کښې چه وی او دوئ وئیلي دي چه جاهل وړوکې دی اګر که بوډا وي او عالم مشر دی اګر که ځوان وي دا خبره ابن عبدالبر کړیده.

## په مذکور قاعدې باندې تفریع

مونږ په داسې زمانه کښې پیدا شوي یو چه خلقو رائې د شیخ او قول د ده دلیل ګرځولي دی د دلائلو د دین نه او مونږ باندې فتوې لګوي که چه دوئ نه دلیل او غواړو د قرآن او سنت نه او وینې به ته دوئ لره چه تابعداری کوی دوئ په هر هغه څه کښې چه د دوئ مشران ئې کوی لکه بدعات د میلاد او دعرس او د حیله اسقاط او دعا پس د سنتو نه په هیئت اجتماعیه سره (دا کوی) بغیر د دلیل نه او څه اوګرځیدم خائی د وینځو د غشو کله چه ما اولیکه "الانتصار لسنة سید الابرار" په داسې حال کښې چه څه مخ اړونکې ووم د دوئ د بدعاتو نه او ما اعلان اوکه دوئ ته : ﴿قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ راوړئ دلیل ستاسو که تاسو رښتینې یئ په خپلو افعالو او اقوالو کښې (اوکه ئې تاسو) تابعدار د کتاب د الله تعالی او د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سنتو د پیغمبر عَلَیْہِ السَّلَام او ما دوئ ته ښکاره او پټ اوئیل : راوړئ ما ته څه دلیل د کتاب د الله تعالی نه او د سنتو د نبي عَلَیْہِ السَّلَام نه. نو دوئ پاڅیدل او کیناستل خو دلیل ئې پیش نه کړی شو سیوا د کنځلو او د بدو ردو او د تهمت او دروغو نه. او دوئ اوئیل چه : دا عاق (نافرماني) د مشائخو او د مشرانو سردارانو دی. او دوئ اوئیل: نه دی دا مکر دروغ جوړ کړی شوی مونږ نه دی اوریدلی دې لره په دین روستنی کښې (دا ئې اوئیل)په شان د هغه کسانو چه تیر شویدی په تیرو شوؤ پیړو کښې. ﴿ أَتَوَاصَوْا بِهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴾.

"ایا دوئ وصیت کړیدی په دې بلکه دوئ دې یو قوم سرکش".

## اتمه قاعده قول او عمل د مشائخو دلیل نه دی د دلائلو د شرع نه

الله تعالی فرمائی: ﴿ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ﴾ [التوبه: ۳۱]

"دوئ نیولي دی ملیان او پیران خپل مدد کاران سیوا د الله نه".

او په حدیث کښې راغلی دی چه عدی بن حاتم رضی الله عنه نبي عَلَیْہِ السَّلَام ته اوئیل : دوئ عبادت نه وو کړی د دوئ؟ نو نبي عَلَیْہِ السَّلَام ورته وفرمائیل چې دوئ ئې تابعداري کړی وه نو چا چه تابعداري اوکړه د یو تن په دین کښې د هغه څه چه الله تعالی د هغې اجازت نه وي کړی نو دهٔ د هغه عبادت اوکړو او دهٔ هغه رب کنړهٔ.

او الله تعالی فرمائی : ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ ﴾ [الشوری: ۲۱]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



"ایا شته دوئ لره حصداران چه څرګند کړی ئی دی دوئ لره د دین نه هغه چه اجازت نه دی کړی په هغې باندې الله تعالی".

نو چا چه پیدا کړو ( په دین کښې) یو څیز چه ځان په هغې الله تعالی ته نزدې کوې ( که هغه نوی څیز) قول وي یا فعل بغیر د دینه چه الله تعالی مشروع کړی وي نو دهٔ شریعت جوړ کړو ( د ځان نه) په دین کښې.

او تحقیق سره رد کړی وو صحابه کرامو په بدعاتو باندې او هغه ئی دین نه وو ګڼړلې لکه څنګه چه نقل شویدی د عبدالله بن مسعودؓ نه هر کله چه خبر شه د هغه ډلې نه چه هغوئ به کیناستل پس د ماښام نه او دوئ کښې به یو سړي وئیل: لوئې بیان کړئ د الله دارنګه او پاکي بیان کړی د الله دارنګه . الحدیث . او کثرت دلیل نه دی په حق باندې.الله تعالی فرمائی: ﴿ وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ [ الانعام: ١١٧]

"او که ته تابع شوې د زیاتو دهغه چاچه زمکه کښې دي وابړوي (ګمراه به کړي) تالره د لارې د الله نه".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴾ [ سبا: ١٣]

"او ډیر لږ د بندیکانو زما نه دي شکر ګزار".

او شیطان الله تعالی ته وئیلي وو ﴿ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ ﴾ [الاعراف ١٧]

"او ته به اونه مومې اکثر د دوئ نه شکر ګزار".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ ﴾ [ یوسف: ١٠٦]

"او ایمان نه روارې اکثر د دوئ نه په الله مګر وي دوئ مشرکان".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او بعضې د هغه اسبابونه چه مقابله کولې شي په هغې د سنتو او پرېښودی شي په هغې کتاب (قرآن) نو هغه عمل کول دی په قول د مشائخو او مليانو چه د هغوئ باره کښې عقيده ساتي (دا خلق) د عصمت (د ګناهونو نه د پاکوالی) نو دوئ دليل نيسي په اقوالو ،اعمالو او فتوو د دوئ په شان د هغه مشرکانو چه جهګړې ئې کړې وې د انبياء عليهم السلام سره. د دوئ دليل صرف دا وو چه دوئ وئيل :﴿ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا﴾ [البقره: ۱۷۰]

"مونږ موندلي دي په دياندې خپل مشران".

او دوئ به وئيل : ﴿ إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّقْتَدُونَ ﴾

[الزخرف ۲۳]

"يقيناً مونږ موندلی دی خپل مشران په يو طريقه (دين) او يقيناً مونږ په نښو نښانو د هغوئ اقتداء کونکی يو".

نو دليل د دوئ په افعالو شرکيو وغيره کښې مينه د فائدو د دنيا او تابعداري د مشرانو وي لکه څنګه چه الله تعالى ذکر کړيدی په سورة البقره، سورة المائده ،سورة الانعام ،سورة يونس ، سورة النحل ، الاحزاب ، الصافات او سورة الجاثيه وغيره کښې .

او الله تعالى په قرآن کښې په ډيرو ځايونو کښې په دوئ رد کړيدی. او دوئ له ئې رټنه ورکړيده نو الله تعالى فرمائي : ﴿ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴾ [المائده: ۱۰۴]

"اګر چه وو مشران د دوئ چه نه پوهيدل په هيڅ شي باندې او نه وو په سمه لار روان".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اوکرخولي ده (الله تعالى) دا تابعداري دوئ افسوس دپاره د دوئ نو په قيامت کښې به دوئ وائي : ﴿ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ﴾ [الاعراف ۳۸]

"اى ربه زمونږه ! دغه کسانو مونږه گمراه کړي وو نو ورکړه دوئ ته عذاب دو چند د اور نه".

او دوئ به وائي: ﴿ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴾ [ الاحزاب ۶۷]

"يقيناً مونږ تابعداری کړي وه د خپلو ليډرانو او د خپلو مشرانو نو مونږ ئې گمراه کړو د صحيح لارې نه".

نو چا چې دا گمان اوکه چه شريعت د طرفه د مشائخو نه رواتي دى نو ده دين راون کړو لکه څنګه چه روان شوى وو په ديباندې دين د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ کله چه دوئ اونيول خپل مليان او پيران مددگاران سبوا د الله نه.

ابن قيم ؒ وائي:کرخولي دى هرې دلې طاغوت مخې ته د دين د الله او د شريعت د ده چه دوئ ورته فيصله اوړى نو دغه کسان وائي : تاسو له غوره والي دى او مونږ له عقل دى. او نور کسان وائي: تاسو د اثارو او اخبارو صاحبان ئې او مونږه صاحبان د قياسونو ، د رائې گانو او د فکرونو يو. دغه کسان وائي: تاسو ملګرى د ظاهر ئې او مونږه د حقائقو والا يو. او نور کسان وائي : تاسو له شريعت دى او مونږ له سياست دى. نو څه عجيبه مصيبت دى چه عام شويدى او (خلق ئې) رانده کړيدي . او څومره لوئ آفت دى چه زوړ شويدى نو پوخ شويدى. او څه لويه فتنه ده چه هغې زړونو ته دعوت ورکړو نو هر فتنه کښې غورزيدلى زړه ئې قبولتيا اوکړه. او څه عجيبه هواګانې دي چه دومره تيزې والوتې چه غوږونه ورسره کاڼه

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شو او سرکي رندې شوې. د احکامو نام ونشان د دې د اهمیت په کمیدو په وجه روان شه. لکه د دې په وجه د الله تعالی د صفاتو نه هم انکار اوکړی شو. هر قدم د خپلو خیالاتو په تیرو اعتماد کړیدی. او د خپلو خواهشاتو او فاسدو خبرو په وجه ئې د الله تعالی د بندیګانو مینځ کښې او د الله تعالی د ذات خلاف فیصله کړیده. او د دې وجې نه وحی الهی د هر تحریف نښه شوه.[1]

او په مدخل کښې دی: هر هغه څه چه د شارع نه نقل نه وي نو د هغې بریخودل واجب دی. او په دیکښې به د مشائخو تابعداري نه شي کولې اګر که دا کار رسي د دوئ جدایئ ته څکه صله رحمی په تابعداري کښې دهٔ نه په موافقت د بدعت کښې. او روایت کړې شویدی: خبردار تقلید دِ نه کوي (تابعداری دِ نه کوي) یو تن ستاسو د ژوندي څکه چه ژوندی نه بچ کیږي د فتنې نه.(۲)

امام غزالیؒ وائي: دارنګه کمزوری شوی وو دین په تیرو شوؤ پیړو کښې. نو ستا څه ګمان دی په دې زمانه باندې. او خبره اوس دې حد ته رسیدلې ده چه څوک د انکار اظهار کوي نو هغه ته لیوني وائي نو غوره دا ده چه انسان خپل نفس سره مشغول اوسی او غلی (خاموش) وي.

او بعضې د دینه دا چه وي (مسلمان) ډیر ځان بچ کونکې د بدعاتو نه اګر که متفق شوی وي په دیباندې ډیر خلق نو دهوکه نه کړی ئالره اتفاق

---

[1] او دین د هر فساد او بدلون دپاره وقف اوګرځیده.
[2] مدارج السالکین ص ۷۱ ج۲
[3] کذافی صفوة الصفوة : ١٦٦ واغاثة اللهفان : ١٥٩

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د خلقو په هغه څه باندې چه نوی پیدا کړی شوی وي پس د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه او پکار دی چه شي (بنده) حرصناک په لټونه د حالاتو د صحابه کرامو او د دوئ په عادتونو او عملونو باندې او د هغه څه چه په هغې کښې وو اکثر د دوئ انتهی.

امام اوزاعی وائی: لازم ده تا باندې تابعداري د طریقو د هغه چا چه بخوا تیر شویدی اګر که خلق تا پریږدي او ځان بچ کړه د رائی د سړونه اګر که دوئ دا ښائسته کړی وي په قول باندې نو قیامت مرګ، عذاب به راشي او ته به په نیغه لار یې.(۱)

امام مجدد الف ثانی وائی: عمل د صوفیاءُ په حل او حرمت کښې دلیل نه دی. (۲)

او د ائموُ متبوعینو ټول اقوال د قرآن او سنت (په وضاحت) مبني دي او په هغه اصولو د اجتهاد متفرع دی چه د عالمانو په نزد صحیح دی.او زباتي کړیدی بعضي زندیقانو چه شمیری تابعداری اوتقلید د دوئ (ائمه مجتهدینو) په شمیره د هغه مشرکانو کښې چه هغوئ به دلیل نیسه په مشرکانو مشرانو باندې حالانکه ثابت شویده تیرته د ائمو مجتهدینو د هغه قیاس، قول او رائی نه چه خلاف د الله تعالی د کتاب او د سنتو د پیغمبر علیه السلام وي. نو دغه جاهلان تهمت لګوي په دوئ باندې او تنقیص کوی په حق د دوئ کښې څنګه چه یهودو په حق د عیسی علیه السلام کښې کړی وو چه وئیل دا د زنا کارې بچې دی(معاذالله).

---

۱ تذکرة الحفاظ ص۱۵۰ ج۱

۲ دفتر اول : ۲۶۶

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او هر چه تیرنه د ائمو ده د هغه رائی نه چه خلاف د قرآن او سنت وي نو امام اعظم ابوحنیفهؒ وائی: نه دی روا بوتن لره چه عمل اوکړی زمونږ په خبره باندې څو پورې چه د دې ماخذ ئی نه وي پیژندلي د قرآن، سنت ،اجماع امت او د قیاس نه.(۱)

او امام ابو یوسف د وفات کیدو په وخت کښې وئیلي وو: هر هغه څه چه ما په هغې فتوی ورکړیده نو څه د هغې نه رجوع کوم سیوا د هغه څه نه چه د قرآن او سنت موافق وي.(۲)

او شاطبیؒ وائی: نه دی عمل د یو تن د امت نه دلیل (حجت) په سنت باندې ځکه چه سنت معصوم دی د خطا نه او صاحب د دې(نبی عَلَیْهِ السَّلَام) معصوم دی او د امت دپاره عصمت ثابت نه دی.۳

عالمانو وئیلي دی: تولې خبرې اغستې شوې پریخودی شویدی مګر هغه چه د خبرو د نبی عَلَیْهِ السَّلَام نه وي.

فتابع الصالح ممن سلفا　　وجانب البدعة ممن خلفا

"تابعداري کوه د نیک سړي د هغه چانه چه مخکښې تیر شویدی او ځان بچ کړه د بدعت د هغه چا نه چه روستو دی."

په مذکوره قاعدې باندې تفریع

نو اوګوره دوئ څه رنګې اقوال او اعمال د مشائخو حجت (دلیل) نیولي

---

۱ کذافی النافع الکبیر: ۱۰۱،والجواهر المضیئة ص ۵۲ ج۱، والفوائد البهیة ص ۱۲ ومجموعة الشافی: ۳۱ ج۱ وهکذا قال الامام الغزالی عنه فی لواقح الانوار: ۱۶۰ ج۱ وهکذا من الامام مالک والامام الشافعی والامام احمد بن حنبل رحمهم الله. تفصیل په ضیاء النور: ۷۵ کې

۲ تذکرة الحفاظ: ۱۹۳ ج۱

۳ الاعتصام: ۱۷۲ ج۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


دی کله چه دوئ نه مطالبه اوکړی شي د دليل د قرآن، سنت او د آثارو د صحابه کرام ؓ نه نو د دوئ دليل نه وي مگر دا چه وائی دوئ ﴿ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴾ [ الزخرف: ۲۳]

"يقيناً مونږ موندلي دی خپل مشران په يو دين او يقيناً مونږ په نښو نښانو د هغوئ اقتداء کونکی يو".

بيا به دوئ کنځل کوي تا ته او قسما قسم دروغ او بدنامي به لګوي په تا باندې او به تا باندې به فتوی ورکوي د نافرمانئ او د زباتې او د بولينديې نه به تا په غشو اولي. او دوئ به وائی چه دا دشمن د مشائخو او مشرانو دی او نافرمان د استاذانو او د نيکانو دی.او خه مبتلا شوی يم د دوئ د طرف نه په قسما قسم تهمتونو باندې او ما برداشت کړی دی د دوئ سخت مصيبتونه او هغه وخت خو پوره مصيبت جوړ شه کله چه ما اوليکه کتاب" النشاط من حيلة الاسقاط" او" البصائر للمتوسلين بالمقابر" په داسې حال کښې چه ما په هغې کښې عمل او قول د مشائخو پريښودی وو کله چه دوئ فتوې ورکړې وې په جواز د بعضې بدعاتو لکه حيله اسقاط او دعا د سنتو نه پس په جمع باندې او مړي وسيله کول او ما رااوبلل دوئ په ديکښې کتاب د الله تعالى او سنتو د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته . الله تعالى فرمائی ﴿ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴾ [البروج ۸]

"او دوئ بد نه ګڼړل د دوئ نه مګر دا خبره چه دوئ ايمان راوړه په الله غالب ستائلي شوی ذات باندې".

او الله تعالى د مومنانو قول ذکر کوي چه هغوئ وئيل فرعون ته ﴿ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ﴾ [ الاعراف: ۱۲۶]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او نه بد نه گڼېږي زمونږ نه مکر دا خبره چه مونږ ایمان راوړې دی په دلائلو (معجزو) د رب زمونږ هر کله چه مونږ ته ښکاره شو".

## نهمه قاعده

## عام کیدل د یو کارد هغې په جواز دلیل نه دی

دا دلیل د هغه امتونو وو چه هغوئ الله تعالی هلاک کړی وو کله چه هغوئ خوښ گڼړلی وو هغه بې کاره عادتونه چه دوئ کښې رائج وو. او دوئ نیولی وو دلیل هغه کارونه چه دوئ کښې عام شوی وو" او د خپلو مشرانو تابعداري یې هدایت گڼړه. الله تعالی فرمائي ﴿ بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ۝ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ۝ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۚ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ۝ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ﴾ [الزخرف: ۲۲ تا ۲۵]

"بلکه وائی دوئ یقیناً موندلي دي خپل مشران ب یو دین (طریقه) او یقیناً مونږ په نښو نښانو د دوئ لار موندونکي یو. او دارنگه مونږ نه دی لیږلي مخکښې ستا نه په یو کلي کښې یرونکي مکر وئیلي وو مالدارو د هغي یقیناً مونږ موندلي دي مونږ خپل مشران په یو دین او یقیناً مونږه په نښونښانو ددوئ اقتدا کونکي یو. اوبه وئیل (ورته پیغمبر) اگرچه ما راتله کړی دی تاسو ته ډیر په هدایتد هغه نه چه تاسو موندلی دی په هغی باندی خپل مشران. اووئیل دوئ یقینامونږ په هغه څه چه رالیږلی شوی یې تاسو په هغی باندی انکار کونکي یو.نو بدله واخسته مونږه د دوئ نه نو اوگوره څه رنگکی شه انجام د دروغژنو".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نو نه وي اعتماد د دوئ په هغه څه کښې چه دوئ کوم شرکيات کوي مګر په تقليد د پلارانو او نيکانو باندې. يعنې دا چه دا پلاران او نيکان په يو امت (طريقه) وو. او "امت" نه مراد د دوئ په معاشره کښې هغه دائمي طريقه وه چه هغه دوئ دين ګرځه اونسل په نسل د يو څيز راتلل ئې حجت (دليل) ګرځه.[1]

مخالفت کړي وو قريشو د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ د وجې د هغه عادتونو او رسمونو چه مينه ورسره کوله نفسونو د دوئ پس د هغه نه چه دوئ ته هدايت او بيان راغې نو مينه د عادتونو او رسمونو نه سره دا سبب د کفر او د سرکشئ دی نو عام کيدل د يو کار په جواز باندې دلالت نه کوي.

په مدخل کښې دی چه شريعت اغستی شويدی د صاحب د شرع نه صلوات الله عليه وسلامه او هغه واضح کړيدی چه امت ئې په هره زمانه کښې کوی نو که مونږ نيکان (صالحان) يو نو مونږ لره هغه څه جائز دی چه سلف صالحينو لره جائز وو. ځکه چه تعظيم او احترام د شعائرو د دوئ نه زده کولی شي . نه په هغه څه چه مونږ ته نفسونو بنائسته کړی وي او زمونږ عادتونه پرې جاري وي. ځکه د حکم د شريعت به تابعداری کولی شي نه د عادتونو او رسمونو پناه د راکړي مونږ ته الله تعالی د مصيبت نه به خپل احسان سره.[2]

او په مجالس الابرار کښې د "الاغاثة نه نقل دی. دا دلالت کوي په دې خبره چه عمل کله جاري وي په خلاف د سنتونو دې لره اعتبار نشته . او

---

[1] کما فی روح المعانی ص ۷۳ ج ۲۵

[2] کما فی المدخل : ۲۷۲ ج ۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



جاري شويدى عمل خلاف د سنتو د ډيرې زمانى نه نو دغه وخت كښې ضروري ده چه شې ته ډير ځان بچ كونكې د بدعاتو نه او كه اتفاق كړى وي په ديباندې جمهوررونو دهوكه نه كړى تالره اتفاق د دوئ په هغه څه چه دوئ د صحابه كرامو‌ؓ نه روستو جوړ كړيدى. بلكه مناسب دى تالره چه نه حرصناك ئى په لټونه د احوالو او د عملونو د دوئ. ځكه زيات پوهه د خلقو نه او ډير نزدې د دوئ نه الله تعالى ته هغه څوك دى چه دوئ (صحابؤ) مشابه وي او د دوئ طريقه پيژنى.نو د دوئ نه دين اغستى شويدى او دوئ اصول دى په نقل د شريعت كښې د صاحب د شرع نه. پكار دى تالره چه ته پرواه او نه كړې د هم عصرو په مخالفت باندى كله چه ته موافق ئى د هغه چه د نبي عَلَيْهِالسَّلَام په زمانه كښې وو. ځكه چه حديث كښې راغلي دى. كله چه اختلاف اوكړى خلق نو لازم ده تاسو باندې تابعدارى د لوئ ډلې. عبدالرحمن بن اسماعيل چه په ابو شامه مشهور دى هغه وائى.او كله چه راغې حكم په لزوم د جماعت نو مراد د دينه لزوم د حق او تابعدارى د حق د د. اګرچه منكول لكونكى په ديباندې لږ وي او مخالف ئى ډير وي. ځكه چه حق هغه دى چه هغې باندې رومبنې جماعت وو او هغه صحابه‌ؓ وو. او د دوئ نه پس ډير والې د باطل پرستو لره اعتبار نشته.

فضيل بن عياض‌ؒ وائى : د هدايت لارې اختيار كړه او ضرر او نه رسوى تا نه كموالې د تلونكو په ديباندې او ځان اوساته د ګمراهئ د لارونه او مه دهوكه كيږه په ډير والى د هلاكيدونكو.

ابن مسعود‌ؓ وائى : تاسو په داسې زمانه كښې يئ چه غوره په تاسو كښې

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



هغه څوک دی چه د نیکۍ په کارونو کښې تلوار کوی او زر دی چه رابه شي ستاسو نه پس داسې زمانه چه غوره د خلقو نه به په هغې کښې ثابت قدم او توقف کونکی وي د وجې د کثرت د شبهاتو نه.

او امام غزالی وائی: ابن مسعود رښتیا وئیلي دي ځکه چه څوک په دې زمانه کښې ثابت قدم نه وي او موافقت کوي د جمهورو په هغه څه کښې چه دوئ پکښې مشغول دی او دننه کیږي په هغه څه کښې چه دوئ پکښې دننه شویدی نو هلاک به شي (دغه کس) لکه څنګه چه دوئ هلاک شوی وو ځکه چه بنیاد د دین او د دې بهروسه (تیک) او د دې بقا نه ده په ډیروالی د عبادت او د تلاوت او نه د لوږې په مجاهدې سره. بلکه د هغه افتونو او مصیبتونو نه په بچ کولو سره دی (د دین بقا) چه په دیباندې راغلي لکه ځان نه جوړ کړی شوي څیزونه (بدعات) او نوی کارونه چه هغه د دې دین د بدلولو سبب جوړیږي. ځکه چه دا بدعات د زیاتیدو او د عام کیدو د وجې نه داسې ګرځیدلی دی ګویا چه دا د دین شعار دی او یا د هغه کارونو نه دی چه مونږ باندې فرض شویدی. هائ افسوس چه مونږ دا کول او بدعت هم ورته وئیل ځکه که داسې نو امید به د توبې او د استغفار وو خو لیکن مونږ دا تابعداری او عبادت اوګڼړه په داسې حال کښې چه مونږ تلونکی یو په دیکښې په قدمونو د هغه چا چه سهو شویدی یا د غفلت ښکار شویدی یا غلط شویدی پس د هغه نه چه زمونږ نه مخکښې شویدی او مونږ دَه لره په دین کښې مشر جوړ کړی وي. نو که چه رد اوکړی مونږ باندې یو تن چه (دا بدعات ولی کوئ) نو که د دغه سړی زمونږ په زړونو کښې عزت وي نو مونږ ورته جواب کښې وایو چه دا

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



جائز دی فلانکي ورته جائز وئیلي دي او مونږ ورته ذکر کوؤ هغه څوک چه مخکښ تیر شویدی د هغه چا نه چه هیر ترینه راغلی دی یا ترینه غفلت شویدی او یا غلط شویدی. او که وي دغه کس د هغه چا نه چه زمونږ زړونو کښ ئې عزت نه وي نو اوري زمونږ نه هغه بدې ردې چه د هغه خیال خاطر کښ هم نه راځي. (چه دې به راته داسې وائی ) د دې ټولو څیزونو سبب جهل مرکب دی په مونږ کښ. ځکه چه که مونږ ځانونه لیدل چه دیکښ څومره جهل دی نو مونږ به قبول کړی وو جواب د هغه چا چه مونږ ته ئې د حق ښودنه کوله او مونږ به په دین کښ دلیل نه وو کړځولی هغه څوک چه هیر ترینه راغلی وو یا ترینه غفلت شوی وو یا غلط شوی وو. دې وجې نه دا جائز نه دی چه تقلید اوکړي انسان په دین کښ مګر د هغه چا چه صاحب د شریعت وي یا هغه لره شریعت شهادت کړی وي د خیر نه د هغه چا چه شریعت د هغه د دروغو ګواهي کړیده. او د ده په وینا ئې د اعتماد کولو نه منع کړیده . حدیث کښ راځي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائی: خیر القرون قرنی الذین بعثت فیهم ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم ثم یفشو الکذب (الحدیث)

غوره خلق زما د زماني خلق دی چه هغوئ کښ څه لیږلي شوی یم بیا هغه خلق چه دوئ پسې دی بیا هغه خلق چه دوئ پسې وي بیا به دروغ خواره شي.

نو دوئ (په بې سنده) اقوالو او افعالو باندې اعتماد مه کوئ ځکه هر هغه څوک چه د دوئ نه روستو راځی نو بدعت ته به مستحب وائی بیا به د شریعت د اصولو نه بغیر په دیباندې دلیل پیش کوي نو دغه نامنظور دی.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



انتهی ص۳۰۰.

شرح جوهرة التوحيد كښې ذكر دى چه كوم اعمال په زمانه د صحابه كرامو رضی الله عنهم او تابعينو كښې باعث د ثواب وو نو هغه ثواب دى او هغه څه چه ( هغه زمانه كښې) باعث د ثواب نه وو نو هغه هډو باعث د ثواب نه دى اكرچه ټول خلق ئې كوى او نيک اعمال ئې ګنړى او دليل د خلقو په دې ټولو بدعاتو كښې صرف عام كيدل د دې كارونو او عمل د مشائخو دى. (كه داسې وي) نو مناسب دى چه كوم رسمونه دوئ كښې پيدا شويدى لكه په جماتونو كښې د طالبانو ګدا، او زمكې له خپې رابغول او نستونړې نيول او ګډيدل او كيږې خريل د عوامو او ګنړه د سرو او ښځو په عرس او غم كښې......... دا ټول دې جائز او دين شي (حالانكه دا جائز نه دى او نه دا دين دى). نو عادت شويدى نفسونه د دوئ په عادتونو د جاهلانو او لوئيږې وړوكې او لوئې په بدعت كښې او بدعت له ئې درجه د سنت وركړيده. او كه تاسو ئې د دينه منع كوئ نو دوئ سمدستې وائى چه د خلقو عادت داسې دى او مونږ د مشائخو عمل په ديباندې موندلې دى . او كه ته د دوئ نه دليل اوغواړې د قرآن او د سنت نو هيڅ دليل نه شي پيش كولى مګر دا وائى چه مونږ په دې خپل مشائخ موندلى دى هغه كسان چه مخكښې تير شويدى او هغوئ زمونږ مشران دي هغه كسان چه په دې (بدعت) ئې فتوى وركړيده او دوئ به پوهيدل ستا نه او ته خو يو كس ئې هيڅ ملكرې دې نشته او زمونږ كوم مشائخ چه مونږ په ديباندې دى نو هغه ډير زيات دى.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## لسمــــــه قــاعــــــده

چه کله یو معامله د سنت او د بدعت په مینځ کښې راشي د الله تعالی ارشاد دی. ﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ﴾ [ الانعام: ۱۵۴ ]
او تابعداري مه کوئ د کنړو لارو کنې تس نس به کړي تاسو لره د لارې د ده نه.

امام دارمی د مجاهد نه (د سبل تفسیر) بدعات او شبهات سره کړېدی.[1] او په صحیح حدیث کښې راغلي دي: دع ما یریبک الی ما لا یریبک.
"پرېږده هغه څه چه تا په شک کښې اچوي او لاړ شه هغه څه ته چه تا په شک کښې نه اچوي."

دا حدیث امام احمد د انس نه نقل کړېدی او نسائی او ابن حبان د حسن بن علی نه او ترمذی ورته صحیح وائی او طبرانی دوابصه بن معبد او خطیب د ابن عمر نه نقل کړېدی او په بل روایت کښې راغلي دي: دع ما یریبک الی مالا یریبک فان الصدق ینجی.
"پرېږده هغه څه چه تا په شک کښې غورځوي لاړ شه هغه څه ته چه تا په شک کښې نه غورځوي ځکه چه یقیناً رښتیا خلاصون ورکوي."
(دا حدیث قانع د حسن نه نقل کړېدی).

او په یو بل حدیث کښې داسې راغلي دي: دع مایریبک الی ما لا یریبک فان الصدق طمأنینة وان الکذب ریبة.
"پرېږده هغه څه چه تا په شک کښې اچوي لاړ شه هغه څه ته چه تا په شک کښې نه اچوي ځکه یقیناً رښتیا اطمینان دی او یقیناً دروغ سبب د

[1] الدارمی ص۳۸

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شک دی."

( دا حدیث امام احمد او ترمذی او ابن حبان په خپل صحیح کښې د حسن ؓ نه نقل کړیدی) او بل روایت کښې داسې راغلي دي: دع ما یریبک الی مالا یریبک فان تک لن تجد فقد شيء ترکته لله.

"پرېږده، هغه څه چه تا شک کښې اچوي لار شه هغه څه ته چه تا شک کښې نه اچوي ځکه چه کوم څيز ته د خدائ دپاره پرېږدې نو د هغې (فائده) به روکه او نه مومې."

( دا حدیث ابو نعیم په حلیه کښې او خطیب د ابن عمر ؓ نه نقل کړیدی. او په الجامع الصغیر کښې ورته سیوطی صحیح وئیلی دی[1].)

او ابن سعد ذکر کړیدی د ابن سیرین نه چه شک کښې نه وو اچولې ده لره یو شی مګر ده هغه پریخودی وو کله چه شک ئې راغلی وو.[2]

او په حدیث کښې راغلی دی چه ( د نبي عليه السلام نه تپوس اوشه) ګناه څه شي دی؟ یعنی ګناه څه ته وائی؟ نبي عليه السلام اوفرمائیل کله چه شک پیدا کړی په سینه ستا کښې یو شي نو هغه پرېږده.

او مونږ د مدخل او د اعتصام عبارت مخکښې ذکر کړی وو چه ټول خیر په طاعاتو کښې دی او ټول شر په بدعاتو کښې دی. او حافظ ابو شامه وائی. تحقیق سره فرمائیلي دي الله تعالی: ﴿ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ ﴾ [النساء ۱۷۱]

"ای اهل کتابو زیاتي مه کوی په خپل دین کښې اومه وائی په الله تعالی

---

[1] تفصیل دپاره ضیاء النور : ۱۴ ج ۲ اوګوره.

[2] الطبقات الکبری ص ۹۷ ج۷

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



مکر ربنتیا:

نو هر هغه څوک چه کار ئی اوکړو او دا ئی کمان وو چه (دا کار) روا دی او هغه روا نه وو نو دغه کس زیاتی کونکی دی په خپل دین کښې بدعت کونکی دی په دین کښې، وبونکی دی په الله تعالی نامناسب په زبان قال یا په زبان حال سره.(۱) او قول د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ : ما اجتمع الحلال والحرام في شئ الا غلب الحرام الحلال.

"نه دی جمع شوی حلال او حرام په یو شي کښې مکر غالب وي حرام په حلال باندی".

حدیث اګر چه ضعیف دی بعضې محدثینو پرې کلام کړیدی لکه په "الاشباه" کښې چه دی . خو لیکن زیلعی (شارح د کنز) په کتاب الصید کښې مرفوع ذکر کړیدی. او دارمی د عباد بن عباد نه روایت کړیدی : فعليكم بالوقوف عند الشبهات حتى يبرز لكم واضح الحق بالبينة فان الداخل فيما لا يعلم بغير علم اثم .

"په وخت د شبهاتو کښې توقف اختیار کړئ تر دې پورې چه څرګند شي تاسو ته واضح حق په دلیل باندې ځکه چه بې علمه په نا معلوم څیز کښې دننه کیدونکې ګنهار دی".(۲)

ترمذی روایت ذکر کړیدی چه "نه شي رسیدی بنده دې خبرې ته چه شي د متقیانو نه تر دې پورې چه پریږدې بې ضرره څیزونه د وجې د یرې د

---

(۱) الباعث على انكار البدع والحوادث : ۱۳

(۲) الدارمی : ۸٦

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ضرر رسونکی څیزونو نه (١).

بیا د اجتناب ( د ځان بچ کولو ) درې قسمونه دي . واجب ، مستحب او مکروه. نو دهغه څیزونو ∴ ځان ساتل واجب دي چه د هغې په وجه ارتکاب د حرامو لازمیږي. او د کوم سړي چه اکثر مال حرام وي نو هغه سره د معاملوتو نه ځان ساتل مستحب دی. او د غلو (زیاتی) په طور د شریعت د اجازتونو نه ځان ساتل مکروه دي.

امام شافعی رح وائی : نه دی جائز یو تن لره چه هغه د یو څیز د حلال کیدو او حرام کیدو باره کښې څه اوائی مگر وجهته د علم نه داسې کولې شي چه قرآن مجید ، سنتو د رسول الله صلعم او اجماع امت کښې واضح طریقې باندې حکم موجود وي یا په دې دریو وارو څیزونو باندې قیاس کولو نه ثابت وي چه هغه هم د نص په حکم کښې دی.

شیخ عبدالقادر جیلانی "د فتوح الغیب" په شلمه مقاله کښې فرمائیلي دي چې د شک والا څیز پریږده او بې شکه څیزونه اختیار کړه یعنې چه د شک والا څیزونه یو ځائې شي د هغه څیزونو سره چه هغې کښې هیڅ شک نه وي نو ( د رخصت په ځائې) د عزیمت لاره خپله کړه چه په هغې د هیڅ قسمه شک کیدون نه وی. او کوم څیز چه تا په شک کښې اچوي نو هغه پریږده .

شیخ عبدالحق محدث دهلوی د دې په شرح کښې فرمائی چې نه عزیمت اختیار کړه او عمل په هغه څه اوکړه چه زیات بهتر او فضیلت والا څیز وي چه په هغې کښې د شک او شبهې کیدون نه وي . نو سلفو ډیر جائز

---

١ کذافی فتح الباری : ٢٥٠ ج٤

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کارونه د دې برې پرېښودی وو چه خلق ئې سنت او نه ګڼړي.[1]

امام زرقانیؒ په مواهب اللدنیه او د دې په شرح کښې : ۱۵ ج ۸ کښې فرمائیلي دي چه "د عباداتو په سلسله کښې اصل توقف دی په داسې شان چه اکتفاء په هغه څه اوکړې چه هغه شریعت کښې وي او بغیر د څه دلیل نه بل څیز ته تجاوز او نه کړی. او دا یو مسلمه قاعده ده چه کله یو حکم دائر شي په مینځ د سنت او د بدعت کښې نو (په دې صورت کښې) پرېښودل د سنت غوره دی. او دارنګه حکم دی کله چه حلال او حرام جمع شي او حرام پرې غالب وي([2]) (نو دې صورت کښې د حلالو پرېښودل بهتر او غوره دی).

شمس الائمه السرخسیؒ فرمائي چې(د دواړو یعنی د بدعت او سنت یا د حلال او حرام) جمع کیدو په وخت کښې به د منع طرف غالب وي.[3]

او دارنګه د شرح سیر کبیر : ۲۵۳ ج۱ کښې لیکلي دي چې کله (د حرامو او حلالو) مقابله راشي نو د حرامو طرف لره به په حلالو ترجیح ورکولی شي.

او په "الاشباه والنظائر" کښې ذکر دی چې کله دوه دلیلونه د یوبل معارض شي چه یو تقاضا د حرامو کوی او بل تقاضا د حلالو کوي نو کوم چه تقاضا د حرامو کوي نو هغه دلیل به مقدم کولی شي.([4])

---

[1] الاعتصام : ۲۸ و : ۲۸۶

[2] کما فی شرح سیر کبیر : ۲۵۱ ج۱ : ۱۹۷ ، والاشباه والنظائر : ۴۳ و : ۲۷ ، واحکام القرآن للجصاص : ۱۵۸ ج۲ ، : ۲۸۷ ج۲ ، و : ۲۲۶ ج۳

[3] شرح سیر کبیر : ۷۴ ج۴.

[4] الاشباه : ۴۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



په شامی کښې راغلي دي چې کله شک مند شي حکم په مينځ د سنت او بدعت کښې نو پرېښودل د سنت به راجح وي په کولو د بدعاتو باندې.[1]

په سعايه کښې ذکر دي چې کله يو معامله د مکروه يا جائز کېدو په مينځ کښې راشي نو د منع تابعداري پکار ده ځکه چه د فائدې حاصلو په نسبت د نقصان دفع کول ډير غوره دي. ([2])

شمس الائمه السرخسي رح فرمائي چې د عباداتو معامله کښې به د احتياط نه کار اغستې شي . او فرمائي ځکه چه کله ( جائز او مکروه کښې ) معارضه راشي او د ترجيح څه صورت نه وي نو احتياط باندې عمل واجب دی.[3]

البحر الرائق کښې وائي : چې کله د بدعت او د واجب اصطلاحي په مينځ کښې تردد (شک) راشي نو د سنت په شان (په دې صورت کښې) واجب به هم پرېښودی شي.[4]

او فرمائي چې کوم ځائي معارضه راشي نو جانب د حرمت ته به په جانب د حلت ترجيح ورکولی شي.[5]

( البته) په مجالس الابرار کښې دي چه علامه ابن الهمام فرمائي چه هغه عبادات چه د هغې د بدعت او واجب کېدو کښې شک وي نو دغه

---

[1] الشامی : ٦٠٠ ج١

[2] السعاية : ٢٦٥ ج٢

[3] شرح سير کبير : ١٩٧ ج١

[4] البحر الرائق : ١٦٥ ج٢

[5] البحر الرائق : ٢٥٣ ج١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


(عبادت) به احتیاطاً کول شي (دې دپاره چه د ترک واجب ګناه لازم نه شي) او د کوم عبادت چه د هغې بدعت او سنت کښې شک وي نو ( دې صورت کښې) به دغه پرېښودی شي ځکه چه بدعت پرېښودل لازم دی او د سنتو ادا کول دومره ضروری نه دي .

دغه شان خبره البحر الرائق کښې هم ده چي کله د يو کار د سنت او بدعت کيدو کښې شک وي نو د سنت په ادا کولو باندې به د بدعت په پرېښودو ترجيح ورکولی شي .

او فرمائي چي د کوم څيز د سنت او د بدعت کيدو کښې شک وي نو دغه به احتياطاً پرېښودی شي([1]).

او داسې خبره په "الطريقه المحمدية" کښې هم ده([2]).

او امام مجاهد شهيد شاه اسماعيل رحمه الله فرمائي چي او هر کله چه يو څيز د حقيقي سنت او د حقيقي بدعت په مينځ کښې د ضعف روايت په اعتبار متردد د شي نو د هغې د بدعت اړخ لره (اسلافو) ترجيح ورکړيده او د دينه ځان بچ کول ئې ضروری ګڼړلي دي . لکه څنګه چه شيخ ابن همام په فتح القدير او مجالس الابرار کښې په ديباندې تصريح کړيده. چه کوم وخت کښې يو څيز متردد شي په مينځ د حکمي سنت او د حقيقي بدعت کښې نو د هغې د بدعت اړخ (طرف) به راجح ګرځولې شي او خامخا به دا د جنس د حقيقي بدعت نه شميرلی شي .[3]

---

[1] كما في المحيط : ۱۲۵ ج ۲

[2] كما في نظم البيان : ۵۱ و قواعد الاحكام : ۵۱ ج۱

[3] ايضاح الحق الصريح : ۶۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## ذکر کړی شوې قاعدې باندې تفريع

زمونږ په علاقو کښې چه کوم مروجه بدعات دي نو د دې قاعدې په وجه ئې پرېښودل پکار دي. او دليل د بدعتيانو په عام کيدو د يو کار يا په عمل د مشائخو باطل دی. علاوه د دينه محققين علماء کرامو د دې په مذمت صراحت کړيدی لکه ميلاد شريف کول، حيله اسقاط کول، عرس کول، د مړو دپاره ختمونه کول ( په پيسو باندې) يا په قبرونو باندې (ختمونه کول) . په عبادت او قرآن او حديث باندې اجرت اغستل او په هر د ثواب کار باندی لکه نکاح او د مړی په غسل باندی اجرت اغستل او په شامي کښې دي چه : د يو څيز پرېښودل د صحابه کرامو رضی الله عنهم د زماني نه تر اوسه پورې حجت دی (د هغې په پرېښودلو باندې) او د هر يو نقل شوي څيز تابعداري واجب ده.[۱]

### يولسمه قاعده

د مشتبه څيزونو پرېښودل د دين حصه ده.

الله تعالی فرمائي﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ﴾ [ العمران: ۷]

" نو هر چه هغه کسان دي چه د هغوئ په زړونو کښې کوږ والي دی نو دوئ تابعداري کوي د هغه چه متشابه وي د دينه دپاره د لټولو د فساد او دپاره د لټولو د غلط مطلب د دې. د (زيغ) مطلب ګمراهي او د حق نه باطل ته وتل دي. (فيتبعون ما تشابه منه) يعنی دوئ دغه متشابه لفظ باندې عمل کوي چه هغه دوئ په آسانه باندې خپل فاسد مقاصدو نه

---

[۱] الشامي : ۲۱۰

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اروي، او داسې کول دوئ دپاره ښکه ممکن وي چه په دغه (متشابه) لفظ کښې د دوئ د فاسدې معنی احتمال وي نو ترکومې پورې چه دغه (نص کښې) د حکم تعلق دی نو دوئ د هغې نه محروم وي چه هغه خو دوئ لره (د داسې کولو نه) منع کونکې وي او د دوئ حق کښې د دلیل جوړیدو په ځائې الټه په دوئ باندې دلیل وي. لکه ښکه چه عیسایانو دلیل نیولې وو چه قرآن کریم عیسی عَلَیْهِ السَّلَامُ ته (روح الله ) یعنی د الله تعالی روح او (کلمته القاها الی مریم ) یعنی خپله داسې کلمه ئې ورته وئیلې ده چه غرځولې ئې وه دې لره مریم ته او (روح منه) یعنی خپل طرف نه رالیږلې شوې روح ئې ورته وئیلی دی. لیکن هغوی ( دخپل فاسد مقاصدو په وجه د عیسی عَلَیْهِ السَّلَامُ په عبدیت ) د الله تعالی په دې ارشاد استدلال پریخوده.[1] ( حالانکه دا آیت محکم هم دی) ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ ﴾ "نه وو دا ( عیسی جَلَّ جَلَالُهُ ) مګر یو بنده چه احسان کړی وو مونږ په ده باندې."

امام ولی الله الدهلوی رحمه الله فرمائی ([2]):د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دین د اصولو نه توقف اختیارول دی په متشابهاتو باندې نو صرف د عقل په بنا باندې به په دیکښې خبرې نه شي کولې .

او د دې د مثالونو نه هغه ټول حالتونه او کیفتونه دی یعنی په قبر کښې د مړي کینول او د مړي نه تپوس او د قبر کهولاویدل او تنګیدل او د مړي چغې. او ( هغه حالات او کیفیتونه هم دی) چه هغه د حشر او د مرګ نه

---

[1] تفسیر ابن کثیر : ۳۴۵ ج۱

[2] البدور البازغة : ۲۰۴

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



پس د ژوندي کيدو حال بيانوي. د بعضې واقعاتو په بعضو باندې د تقديم او تاخير وغيره متعلق د رواياتو تقريباً سل اختلافات دي. نو لازم دي چه د کومو امورو علم صرف شارع سره متعلق وي چه د هغې باره کښې خبره اونه کړې شي.

﴿ لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا ﴾ [ البقره: ۱۰٤] هم د دې قبيلې نه دی. امام طرطوشيؒ فرمائي چې مسلمانانو به پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وئيل چه" راعنا وارعنا سمعک "يعنې زمونږ لحاظ اوکړه او مونږ ته توجه اوکړه . او لفظ د" راعنا" (د عربې لغت خلاف) په عبرانۍ کښې د رعونة نه ماخوذ د کنځلو په معنی کښې دی نو يهوديانو به دا لفظ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د کنځلو په غرض استعمالوه . نو الله تعالى مسلمانان د دې لفظ وئيلو نه منع کړل اګرچه ( د عربې لغت په اعتبار) د دې وئيل جائز وو. دې دپاره چه يهوديان ناجائزه معنی راو نه باسی. په حقيقت کښې دا منع د جائز ده چه په ظاهر کښې جائز وي خو د ناجائز او باطل دپاره لاره جوړيږي.

او د دې قبيلې نه د صبيغ العراق قيصه ده چه دارمی د سيدنا عبداللهؓ د غلام نافع نه نقل کړيده" صُبيغ عراق به د مسلمانانو په لښکرو کښې د قران کريم د بعضو څيزونو تپوسونه کول تردې پورې چه مصر ته اورسيده نو (ګورنر) عمرو بن العاصؓ دغه سړې د سيدنا اميرالمومنين عمرؓ په خدمت کښې روان کړو. چه کله قاصد امير المومنين ته خط ورکړه نو هغه اولوسته نو وئ وئيل چه دا سړی کوم ځائې دی؟ قاصد اوئيل قافله کښې دی. سيدنا عمرؓ اوفرمائيل اوګوره هسې نه چرته لاړ شي (او که لاړ) نو زه به درله دردناکه سزا درکړم. نو قاصد دا سړی راوسته او عمرؓ ته ئې پيش

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



کړو نو سیدنا عمرؓ ورته اوئیل چي ته د نوی نوی څیزونو باره کښې
تپوسونه کوې؟ بیا ئې شنې لختې راوغوښتې او دا سړی ئې پرې اوهغه تردې
پورې چه شا ئې زخمی شوه په وهلو وهلو باندې بیا ئې پریخوده تردې چه
زخمونه ئې ورغله (یعنی ټهیک شه ) نو بیا ئې اوهغه بیا ( چه بنه زخمي شه)
نو پرئې خوده تر دې پورې چه ښه شو نو بیا ئې راوغوښته چه سزا ورله
ورکړی نو صبیغ اوئیل که ته ما وژل غواړې نو په ښه طریقه مې اووژنه او
که ته زما علاج کول غواړې نو قسم په الله زهٔ شوی یم . نو عمرؓ دهٔ له
اجازت ورکړو چه خپلې علاقې ته لاړ شي او ابو موسی اشعریؓ ته ئې
اولیکل چه دې سړي سره دې یو مسلمان نه کیني او نه پاسي. تر دې پورې
چه دا کیفیت دهٔ ته ډیر گران محسوس شه نو سیدنا ابو موسیؓ امیر
المومنین عمرؓ ته اولیکل چه" د هغه سړي حالت ټهیک شویدی نو (عمرؓ)
ورته اولیکل چه اوس خلقو ته دهٔ سره د ناستې پاستې اجازت ورکړی."[1]

او دارمیؒ د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړیدی عائشهؓ وائی او لوسته
پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ﴿ هُوَ الَّذِيٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ
الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ﴾

" دا الله هغه ذات دی چه رالیږلې ئې دی په تا باندې کتاب بعضې د دینه
ایتونه دي مضبوط دا اصل د کتاب دی او نور ( آیتونه ) متشابه دی."

نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمائیل چي کله تاسو هغه خلق اوینئ چه د قرآن
متشابهاتو پسې روان وي نو د هغوئ نه ځان اوساتئ."([2])

---

[1] سنن الدارمی : ۳۱ الحوادث والبدع : ۲۰

[2] الدارمی : ۳۱ وهکذا فی مشکل الآثار : ۳۰۷ ج۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



امام طحاويؒ وائی چه "زیغ" د اعتدال او د استقامت د لارې نه اوړېدو ته وائی . او هغې تس نس کېدو (اختلاف) ته وائی چه د هغې په وجه احکام الهی د هغه منشأ په خلاف جاري وي چه د هغې دپاره الله تعالی دا احکام رالېږلي دي.[1]

او دارمیؒ د امام اوزاعیؒ نه نقل کړېدی چه ما ته وئیلې شوېدي چه د عبادت نه بغیر د فقاهت د عوې کونکو او د شبهې په وجه حرام روا کړونکو له هلاکت او تباهی ده.[2]

او د مجاهد نه دارمیؒ په تفسیر د دې آیت ﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ ﴾ کښې نقل کړېدی چه "السبل" نه مراد د بدعات او شبهات دي.[3]

او شیخ عبدالقادر جیلانیؒ د فتوح الغیب په شلمه مقاله کښې وائی : نو که ته په حالت د تقوی کښې ئې نو د نفس مخالفت کوه په داسې طریقه چه دا (نفس) راوباسې د حرامو د مخلوق نه ، د دوئ د شبهاتو ، د دوئ د آرزوګانو ، دوئ باندې بهروسې او اعتماد کولونه ، د دوئ دېرې نه او د طمع د هغه څه نه چه دوئ سره د دنیا فائدې دي نو طمع مه کوه د دوئ د دالو په طریقې د تحفې او د زکوة او د خیرات او د کفارې او د نذر.

او مونږ په لسمه قاعده کښې حدیث "دع مایریبک الی مالا یریبک" ذکر کړی وو. سفیان ثوریؒ وائی. هغه څه چه ستا په زړه کښې شک پیدا کوی نو هغه پرېږده . امام بخاریؒ او امام مسلمؒ دواړو د نعمان بن بشیر نه

---

[1] الطحاوی : ۲۰۹ ج۲
[2] الدارمی : ۳۶
[3] الدارمی : ۳۸

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



روایت کړېدی. چه وائی : ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اورېدلی وو چه فرمائیل ئې" حلال واضح دی او حرام واضح دی او په مینځ د دواړو کښې مشتبه څیزونه دی نه پوهېږي په دیباندې ډېر د خلقو نه . نو څوک چه بچ شه د شبهاتو نه نو ده خپل دین او عزت بچ کړو او څوک چه شبهاتو کښې پرېوته نو په حرامو کښې پرېوته . لکه شپنکې چه څروي ( کډی بیزې ) چاپېره د اورشو (چراګاه) نه قریب ده چه دی په کښې واقع شي. خبردار د هر یو بادشاه اورشو (چراګاه) وي. خبردار یقیناً د الله تعالی اورشو د الله تعالی حرام کړی شوی څیزونه دي. خبردار یقیناً په بدن کښې د غوښې یو ټکړه ده چه کله هغه صحیح وي نو ټول بدن صحیح وي او چه کله هغه روانه ( خرابه ) شي نو ټول بدن خرابیږي او خبردار هغه د غوښې ټکړه زړه دی".

حسان بن ابي سنان ؒ وائی چه " ما د پرهیزګارئ نه ډېر آسان هیڅ شې نه دی لیدلې. پرېږده هغه چه تا په شک کښې اچوي او اختیار کړه هغه څه چه تا په شک کښې نه اچوي".

امام خطابي ؒ وائي چه " هر هغه څیز چه تا په شک کښې اچوي نو پرهیزګاري هم دا ده چه د هغې نه ځان او ساتلې شي".[1] او د دې په شان په عیني شرح د بخاری کښې هم دي. : ۳۵۰ ج۱ . نو هغه کارونه چه د هغې حلال او حرام کیدو کښې اشتباه وي نو دهغې نه ځان ساتل پکار دي او دا اشتباه په هغه چا نه راځي چه د علم په اعتبار پاخه ( مضبوط ) وي.[2]

او امام شاطبي ؒ وائی. د تابعدارئ د متشابهاتو په عموماتو باندې بغیر د

---

[1] فتح الباری : ۲۵۰ ج۴

[2] کما قال ابن رجب فی جامع العلوم والحکم : ۵۶

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سوچ نه چه دي لره مخصصات شته یا نه ؟ او دارنګه د دې په عکس چه نص مقید وي نو مطلق اوګرځولې شي یا (نص) خاص وي نو عام اوګرځولې شي په صرف رائۍ سره بغیر د دلیل نه . ځکه چه دا مسلک په اصل کښې جهالت او د خواهش تابعداري ده. او دا د دې وجې نه چه مطلق نصوص کله مقید نه وي نو په خپل اطلاق باندې جاري وي او چه کله ( د شارع د طرف نه ) مقید کړی شي نو واضح اوګرځي.

او علماء کرامو وئیلي دي[1] چه "د دین فساد په دوه قسمه دی (۱) غلطه عقیده ساتل او د هغې بیانول او دا ( مختلف قسم) بدعات دی. (۲) عملي فسق وفجور وغیره رومبې قسم د شبهاتو په وجه او دویم قسم د شهواتو په وجه پیدا کیږي. او د دې وجې نه سلفو به وئیل چه "د بدکار عالم او د جاهل عبادت ګزار د فتنې نه او ړېږئ ځکه چه د دې دواړو فتنه د هر آزمائیلي شوی دپاره فتنه ده. نو دا (بدکار عالم) په شان د مغضوب علیهم دی هغه کسان چه حق ئې پیژندو او تابعداري د حق ئې نه کوله . او دا ( جاهل عبادت ګزار) په شان د ضالینو دی هغه کسان چه علم ورسره نه وو او عمل ئې کولو. نو خواهشات نفسانیه ( شهوات ) به د صبر په ذریعه پریخودی شي او شبهات به د یقین په ذریعه پریخودی شي".

خلاصه دا چه د بدعتیانو دین التباس (خلق ګډوډول) او دلیل نیول دي په متشابهاتو باندې لکه څنګه چه ( علماء) فرمائیلي دي. چه "بیماری د بدعتیانو شبهات دي او بیماري د فاسقانو شهوات ( د خواهشات نفسانیه ) دي". او وینې به ته دوئ لره چه دوئ وائي: دعا عبادت دی او صدقه ثواب

[1] اقتضاء الصراط المستقیم : ۱۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دي او د قبرونو زيارت مسنون دی ( سنت طريقه دی). او دوئ تميز نه کوی په مينځ د دعا کښې د ژوندی او د مړي نه او د حاضر او غائب نه او هغه چه د بنده وس او طاقت کښې وي يا نه وي ( بلکه الدعاء هوالعبادة هر قسم دعاګانو دپاره دليل ګرځوي) دغه شان ( دوئ تميز (فرق) نه کوي) په مينځ د هغه صدقې کښې چه شارع ئې بغير د تخصيص د زمانې نه حکم کړيدی او په مينځ د هغه څه کښې چه د دوئ په ګمان خيرات او صدقه وي (لکه شومه ، ماښامې ، ځلوېښتی وغيره ) او دارنګه دوئ د زيارت شرعی او زيارت بدعی په مينځ کښې تميز نه کوی.

## يوولسمې قاعـــــدې بانـــــدې تفريــــع

کوم اصول چه مونږ ذکر کړل نو د دې په وجه هغه ټول بدعات چه خلقو جوړ کړيدی نو هغه ممنوع او ناجائز دی. او په دې (يوولسمې) قاعدې به دا نه واضح شي ناجائز کيدل د هغه څه چه دوئ جوړ کړيدی د اذکارو او وظائفو نه لکه هغه درود چه دوئ ورته درود تاج وائی. او په برکت د فلانکې دعا غوښتل او دعا کول په دې الفاظو چه ( يا شيخ عبدالقادر جيلاني شيأ لله) يعنی ای شيخ عبدالقادر جيلانی د الله دپاره څه شی راکړه.

دارنګه هغه نومونو کيخودل چه هغې کښې داسې الفاظ وي چه د حرامو نومونو په شان وي لکه غلام غوث ، علي بخش ، پير بخش او دارنګه لوئ لوئ لقبونه کيخودل لکه ابو الاعلی وغيره . نو بحث کول په هغه غيبی امورو کښې چه شارع د هغې کيفيت نه دی بيان کړی لکه کيښول د مړي په قبر کښې او د مړي قبر کهولاويدل اويا (۷۰) اويا(۷۰) ګزه او په برزخ کښې د مړی ژوند. دا بحث باطل (فضول) دی .او اوريدل دي د ستونه . د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دې دباره کښې بحث جائز نه دی او نه زمونږ په نیز دا قیاس کولی شي په امور حاضرۋ (موجودۋ څيزونو) باندې. نو سلامتیا دې کښې ده چه نه خان بچ کړې د مشتبهاتو نه او متشابهاتو نه او خان اوساتې د هغه خابونو د اشتباه نه چه ته په هغې کښې یقیني دلیل نه مومې. ځکه چه دین قوی او مضبوط دی دا په کمزوري اوسپکو څیزونو (قیصوقتارو) باندې نه ثابتیږي. الله تعالی ډیر داسې څیزونه ذکر کړیدی چه مونږ پرې ایمان لرو او په کیفیت ئې نه پوهیږو لکه د پیالې تسبیح بیانول او (موجوداتو کښې) د هر څیز تسبیح بیانول (الله تعالی فرمائی) ﴿ وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِنْ لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾ [بنی اسرائیل: ٤٤]

"او نشته هیڅ یو شی مګر پاکي بیانوي په ستائنه د ده (لګیاوي)".

او الله تعالی د شهیدانو باره کښې فرمائی: ﴿ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَّا تَشْعُرُونَ ﴾ [البقره: ١٥٤]

نو څوک چه د دې څیزونو د علم دعوی کوي او د دې کیفیت بیانوي نو دی دننه شویدی په باطلو (فضولو) کښې په شان د هغه چه ننوتلی وي بخوانی د دوئ نه.

وكان الناس في لبس عظيم | فجاءو بالبيان فأظهروا

او خلق لویه اشتباه کښې پراته وو نو حق پرست راغلل او دا اشتباه ئې د بیان په ذریعه واضحه کړه.

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## دولسمه قاعده

هر هغه جائز کار چه د سنتو درجې ته رسي يا د ناجائز کار دپاره ذريعه جوړيږي نو هغه مکروه دی.

الله تعالی فرمائی ﴿ وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ ۙ لَا تَأْتِيهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ○ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ○ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ ○ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَا نُهُوا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴾ [اعراف:۱۶۳،۱۶۶]

او تپوس اوکړه د دوئ نه په باره د هغه کلي کښې چه وو په غاړه د درياب کله چه دوئ زياتې کولو په ورځ د خالی کښې په هغه وقت کښې چه راتله به دوی له مهيان په ورځ د خالی د دوئ کښې ښکار او په هغه ورځ چه به خالی کښې به نه وو دوئ نه به راتله دوئ له همدارنګه ازميښت کولو مونږه به دوئ په سبب د هغې چه وو دوئ فسق به ئې کولو. او ياد کړه هغه وقت چه ووېلې يوی ډلې له دوئ نه ولی نصيحت کوئ تاسو هغه قوم ته چه خدائی هلاکونکې د هغوئ دی او يا به عذابونکې د هغوئ دی په عذاب سخت سره ووېل دوئ دپاره د عذر رب ستاسو ته اودی د پاره چه دوئ اوبريږي پس هر کله چه هېر کړو دوئ هغه چه پند ورکولی شو دوئ له په هغې سره نو نجات ورکړو مونږه هغه کسانو ته چه منعه ئې کوله له بدئ نه اوو نيول مونږه هغه کسان چه ظالمان وو په عذاب سخت سره په

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سبب د هغې چه وو دوئ چه ګناهونه به ئې کول . پس هر کله چه نافرمانې وکړه دوئ له هغې نه چه منع کولی شو دوئ له هغې نه نو وویل موږه دوئ ته چه شئ شادوګان بدشکله."

امام طرطوشي وائي : الله تعالى د خالى په ورځ يهوديانو باندې د مهيانو ښکاره حرام کړې وو او باقي ټولو ورځو کښې ئې ورته (د ښکار) اجازت کړې وو نو د خالي په ورځ به مهيان لختو کښې د دوئ د کورونو د دروازو پورې راتلل او بعضې وائي چه د اوبو د پاخه به دې ئې شميره لا رو په ذريعه رارسيدل او باقي ورځو کښې به دا مهيان نه راتلل. نو اراده اوکړه بعضې خلقو د دوئ نه د جمعې په ورځ نو نهرونه ئې اوکنستل او د ښکار آلات ئې پکښې کيخودل نو مهيان به دې (آلاتو) کښې داخل شو نو دوئ هغه د اتوار په ورځ رانيول او د اتوار ورځ هغه ورځ وه چه ښکار پکښې جائزوو نو دا خبره به دوئ کښې خوره شوه نو الله تعالى د دوئ مذمت (بدى) بيان کړه او د دوئ شکلونه ئې روان کړل شادوګان او خنزيران ئې ترينه جوړ کړل.

ابو زيد وائي اول د دوئ نه د اتوار په ورځ يو سړي مهي اونيسه نو وريت ئې کړو نو ګاونډي باندې ئې د مهي بوئ اولګيده. نو دهٔ (ګاونډي) ورته اوئيل چه ډير زر به الله تعالى تا نه عذاب درکړي نو هر کله چه (الله تعالى) ورله زر عذاب ورنه کړو نو بل خالي لره ورسره دی هم لاړ او مهيان دوارو راګير کړل. نو کله چه دوئ باندې (الله تعالى) زر عذاب رانه وستو (بلکه دوئ له ئې مهلت ورکړو نو دوئ د هغې نه غلطه فائده واغسته ) نو دوئ د يو بل تابعداري اوکړه (د خالي په ورځ مهيانو نيولو کښې) نو دوئ به نيول اوخوړل به ئې. دا خلق تقريبا اوبازره وو چه د مدين او د طور به

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



مینځ کښې "ایله" نومې کلی کښې آبادوو. نو د دوئ (دا کلی) په دریو حصو کښې تقسیم شو۔ (ښکاره کونکی د خالی په ورځ - نه ښکاره کونکی او نه منع کونکی نورو لره . ښکار نه کونکی په ورځ د خالی او نورو لره منع کونکی).

قتاده وائی چه" د ځوانانو نه شادوګان جوړ شو او بوډاګانو نه خنزیران . صرف هغه خلق خلاص شو ( د عذاب نه) چه منع ئې کوله او نور ټول هلاک شو. نو ښکار جائز وو خو لیکن کله چه د یو ناجائز کار دپاره سبب جوړیدۀ نو هغه خپله هم داسې ممنوع اوګرځیدۀ چه الله تعالی د هغې مذمت بیان کړو او د هغې کونکی تباه شو. او الله تعالی فرمائی

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوا ﴾ [ البقرة: ۱۰۴]

"ای مومنانو مه وایئ " راعنا" او اوایئ لحاظ اوکړه زمونږه او واورئ (حکم د الله)". نو الله تعالی مومنان د لفظ " راعنا" نه منع کړل دې دپاره چه یهودیان ئې د ناجائز و دپاره ذریعه جوړه نه کړی. نو په حقیقت کښې دا منع د هغه څه ده چه په ظاهر کښې جائز وي خو باطن کښې د ناجائز کار دپاره لاره جوړیږي.

او د دې قبیلې نه د الله تعالی دا ارشاد هم دی.

﴿ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾
[ الانعام: ۱۰۹]

"او کنځل مه کوئ هغه کسانو ته چه دوئ به کنځل اوکړي الله تعالی ته د وجې د دشمنئ بغیر د علم نه".

نو الله تعالی مسلمان د یو مباح کار نه منع کړل دې دپاره چه د الله تعالی ته

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


د کنځلو ذریعه جوړه نه شي. او په حدیث کښې راغلي دي چه "تولو نه لوی گناه دا دی چه یو سړی لعنت وائی په خپل پلار باندې . صحابه کرامو تپوس اوکړه چه ای د الله پیغمبره! ایا یو سړی به خپل پلار ته کنځل کوي ؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامْ اوفرمائیل آو" دی به د یو سړي پلار ته کنځل اوکړي نو هغه به د دهٔ پلار ته کنځل اوکړي ."او د دې قبیلې نه د الله تعالی دا ارشاد هم دی. ﴿ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ ﴾ [ النور: ۳۱] "او نه دِ رابغی خپلې خپې دې دپاره چه څرګند شي هغه چه پټوي دوی د خپل زینت نه".

یعنی الله تعالی زنانه د یو مباح کار نه منع کړې. دې دپاره چه دوی دا د ناجائز کاره دپاره ذریعه جوړه نه کړي او هغه ناجائز کار خپل طرفته ته خلقو له دعوت ورکول دي. او ابن عطیه په تفسیر د ﴿ وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ ﴾ [ البقره: ۳۵]کښې وئیلي دي چې دا (د ناجائز کار) د لار بندولو یو واضح مثال دی.[1]

امام طرطوشیؒ وائی چه بدعت کول ډیره لویه د هلاکت خبره ده؛ نو هر هغه څه چه د بدعت دپاره ذریعه جوړیږي هغه ممنوع دی لکه څنګه چه مونږ په "لسمه قاعده" کښې ذکر کړې وو.

او د دې قبیلې نه مونځ کول دې په وخت د ختو او پریوتو د نمر کښې چه د مشرکینو سره مشابهت رانه شي او دارنګه اهل کتابو سره د مشابهت کولو نه منع ده او دارنګه محرم (احرام تړونکي) باندې د خوشبوئي حرام کیدل دي څکه چه دا د کوروالي دپاره ذریعه (لار) جوړیږي . دغه شان

---

[1] قرطبي ص ۲۰۴ ج ۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شارع د شک د روژې نه منع کړېده دې وجې نه چه نفلي روژه او فرضي روژې یو ځائی نه شي. او د دې قبیلې نه نهی ده صرف د رجب روژې نیولو نه او کراهت د جمعې په ورځ د روژې نیولو او د جمعې په شپه د نفلې مونځونو کولو، د داسې شرع اختیارولو لار بندول دي چه د هغې اجازت الله تعالی نه دی ورکړی. یعنی د یو زمانې (وخت) او د یو ځائی تخصیص کول چه الله تعالی د هغې تخصیص ( د دغه کارونو) دپاره نه وي کړی. او د دې قبیلې نه مذمت د هغه خطیب دی چه هغه وائی "من یطع الله ورسوله فقد رشد ومن عصاهما فقد غوی ":(ځکه چه ده الله تعالی او پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یو ضمیر راجع کړېدی).او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائیلي وو چه" ماشاء الله وشاء محمد" مه وایئ . دې دپاره چه دا د شرک ذریعه جوړه نه شي. او کوم سړي چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وئیلي وو چه" ماشاءالله وشئت" هغه ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائیلي وو ایا تا ځه د الله تعالی سره شریک جوړ کړم؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د شرک جرړې غوځې کړې. دغه شان نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منع کړېده چه یو سړی بل سړي ته د ملاقات ( د ملاویدو) په وخت راټیټ شي وغیره علامه ابن قیم رحمه الله تقریباً یو کم سل مثالونه د دې ذکر کړېدي.[۱]

او سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه وائی چه" په تاسو کښې دې یو سړی په خپل مونځ کښې د شیطان حصه نه کرځوي چه (مونځ نه د فارغیدو نه پس ) صرف سم (ښي) طرفته راتاوېږي او دا په ځان لازم کنړي . نو اوکرځو (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) دا لږ مقدار مونځ د بنده نه حصه د شیطان . نو د دینه ډیر که

[۱] کما فی اعلام المقعین : ۷۰ ج۴

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



څه حرکت وي نو د هغې باره کښې (ستاسو) څه ګمان دی ؟[1]

امام غزالی رحمه الله وائی چه "د دې باره کښې تحقیق دا دی چه مباح څیز باندې زینت کول حرام نه دی لیکن دې (مباح څیز) کښې د دننه کیدلو په وجه د دې مینه پیدا کیږي تردې پورې چه بیا د دې پریخودل ګران ښکاري. او همیشګیږي د زینت غالباً د داسې اسبابو اختیارولو په وجه ممکن وي چه د هغې د لحاظ کولو د وجې ارتکاب د ډیرو ګناهونو لازمیږي لکه مداهنت ( د دین معامله کښې سستي کول) ، د خلقو لحاظ کول ، خلقو سره جنګیدل او نو ډیر داسې کارونه چه هغه ناجائز دي. حرام په اصل کښې همدغه کارونه دي. د دینه نه ځان بچ کول لازمي دي . ځکه چه څوک په دنیا کښې ډوب شي نو هغه یقیناً د دینه نه شي بچ کیدی. که دنیا کښې ( محبت د دنیا کښې) ډوبیدو (مشغولیدو) سره سره سلامتیا موندی شوی نو نبی علیه السلام به د دنیا په پریښودلو دومره زور نه ورکولوتر دی پورې چه نبي علیه السلام د نقش و نګار والا قمیص اوښکه او دغه شان د خطبې په مینځ کښې ئې د سرو زرو کوته اویسته وغیره (نور مثالونه هم شته) چه د هغې بیان به راشي .

حافظ ابن حجر رحمه الله د شیخ بخاری رحمه الله نه په واسطې د ابن المنیر رحمه الله په فتح الباری کښې نقل کړیدي چه د سرې او د مکروه په مینځ کښې دا مباح بو غنډئ ( ډیرئ) ده نو څوک چه مباح کار کثرت سره کوي نو مکروه طرفته به

---

[1] مدراج السالکین : ۹٤ ج۲

[2] احیاء العلوم : ٦٧ ج۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


راوړي.[1]

حافظ ابن قیم[2] وائی چه د هغې حاصل دا دی: (د ګناهونو) د لاروېندولو باب د مکلف د تکلیف څلورمه حصه ده. ځکه چه د تکلیف د مکلف دوه قسمونه دي. (۱) امر (۲) نهي. بیا امر په دوه قسمه دی رومبی قسم د داسې څیز امر چه هغه په خپله مقصودي وي او دویم قسم د داسې څیز امر چه هغه د مقصود ذریعه وي. دغه شان نهي هم په دوه قسمه ده. یو دا چه د داسې څیز نه منع کول چ هغې کښې خپله رواني او فساد موجود وي .او دویم دا قسم د داسې څیز نه منع کول چه هغه د فساد او رواني ذریعه وي. نو حرامو طرفته د بوتلونکو ذرائعو لاربندول د دین څلورمه حصه شوه.

حیلې جائز ګڼړل د ګناهونو د ذرائعو د سد باب نکاره خلاف ورزی ده.

حیله کونکي ( په اصل کښې) دهوکه باز دی او په حیلول کښې د هغه یهودیانو د دین تابعدار دی چه هغوئ به په حیلو باندې د الله تعالی او د پیغمبر عَلَیْهِ السَّلَام حرام کړی شوی څیزونه روا (حلال) ګڼړل. دارنګه حیله کونکي سړی د شریعت ممنوع څیزونو طرف تهلار کهولاوئ او په لعنت باندې مشتمل ډیر حدیثونه په باره د حیله کونکو کښې راغلی دي.

نبي عَلَیْهِ السَّلَام فرمائی: لعن الله المحلل والمحلل له.

"د الله تعالی لعنت دې وي حلاله کونکي باندې او په هغه سړي چه د هغه دپاره حلاله کولی شي".

---

[1] حافظ الباری : ۱۱۸ ج۱ ومثله فی شرح العینی علی صحیح البخاری : ۳۵۱ ج۱

[2] اعلام الموقعین : ۷۲ ج۳

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائي : لعن الله اليهود حرمت عليهم الشحوم فجملوها و باعوها واكلو ثمنها .

" د الله تعالى لعنت دِ وي په يهوديانو باندې چه دوئ باندې وازدې حرامې کړې شوې وې نو دوئ به ويلې کړې او خرڅې به ئې کړې او د هغې قيمت به ئې خوړه."

او دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ارشاد دى : لعن الله الراشي والمرتشي ولعن الله اكل الربوا ومؤكله وكاتبه وبائعه وشاهده .

"د الله تعالى لعنت دِ وي په رشوت اغوستونكې او رشوت وركونكې باندې . او د الله تعالى لعنت دِ وي سود خوړونكې باندې ، سود خوريونكو لره (په بل باندې) د سود ليكونكې باندې ، او د سود معاملې كونكې باندې او د سود په معاملې گواهې كونكې باندې."

او په حديث كښې راغلي دي : لاترتكبوا ما ارتكبت اليهود حتى تستحلوا محارم الله .

"ارتكاب مه كوئ د هغه څه چه يهوديانو ئې ارتكاب كړې وو دې دپاره چه حلال اوكنړئ تاسو هغه څيزونه چه الله تعالى حرام كړيدى."

دا روايت د حيلو باره كښې بالكل واضح دى. حافظ ابن كثير دا روايت ذكر كړيدى. د ايوب السختياني نه نقل دى چه حيلو والا دهوكه كوى د الله تعالى سره لكه څنګه چه دوئ د ماشومانو سره دهوكه كوى .

او شيخ السلام ابن تيميه" وائي چه " خالي والو (يهوديانو) د تورات او موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ نه انكار نه وو كړى ليكن دوئ دا كار د داسې تاويل او حيلې په طور باندې كړى وو چه دهغې ظاهر تابعدارى وه او حقيقت د هغې

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



حقیقت د زیاتي (گناه) وو. او د دې وجې نه والله اعلم د هغوئ نه شادوگان جوړ شو ځکه چه د شادو شکل کښې د انسان شکل سره څه نا څه مشابهت هم دی. او دغه شان د دې بعضې صفتونو کښې د انسان د صفتونو سره مشابهت دی. لیکن د انسان نه په ډیرو څیزونو کښې مخالف دی او په حقیقت کښې هم جدا دی.

او مونږ وفقهاء په حواله اوس ذکر کړل چه [۱] مستحب کار هم په مکروه باندې بدلیږي او هر مباح چه موذی کیږي سنتو ته (یعنی خلق بیا دغه مباح سنت گنړي ) هغه مکروه دی. لکه څنګه چه امام شاطبی وائی. خلاصه د خبرو دا ده چه هر هغه عمل چه د هغې اصل په شرعی اعتبار ثابت وي خو په هغې باندې د عمل کولو اظهار او په هغې همیش کیږی کول د هغه څه نه وي چه د هغې د سنتو د اعتقاد یره وي نو د هغې پریخودل پکار دی ځکه چه دا هم د قبیلې د سدالزرائع نه دی.

نن (دې زمانه کښې ) ته اوگوره هغه چل ول کونکو ته (حیله گروته) هغه کسان چه دین ئې ذریعه د خوراک گرځولی دی . نو بعضې د دوئ نه چل کونکي دی دپاره د خوړولو د مالونو د یتیمانو په حیلې د اسقاط سره . دوي الله تعالی سره دهوکه کوی (په خپل خیال). او بعضې د دوئ نه هغه خوک دی چه قرآن ئې ذریعه د معاش (گزران) گرځولی دی نو قرآن مړو

---

[۱] کما ذکر الذرقانی عن ابی منیر ۱۷؛ ومجالس الابرار ۲۹۹ والحلی شرح منیة المصل ۵۷۲: وفتح الملهم : ۲۶۹ ج۲ وتذکیر الاخوان : ۴۷ ولعالمکیری : ۱۳۶ ج۱ وقول ابن مسعودؓ ينصرف عن شماله کما فی شرحی الذرقانی والنووی : ۴۰۹ ج۱ وابو داؤد االطیاسی : ۲۷ والداری : ۶۳.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نه وائی. او دارنګه دوئ اذان او امامتی ذریعه د دنیا ګرځولی ده یا درس د حدیثو کوي دپاره د جمع کولو د فائدو د دنیا او (دې باره کښې) د دوئ دلیل اقوال د هغه متأخرینو دی چه هغوی د متقدمینو خلاف کړیدی. سره د دینه چه متاخرینو دا جائز کړیدی په قدر د ضرورت او د حاجت نه دپاره د مال ډیرولو.

او دارنګه بعضي خلقو پټکی سنت ګرځولی دی د پټکي نه بغیر هډو مونځ نه کوي حالانکه نبي عَلَيْهِ‌السَّلَام د توپۍ نه بغیر پټکی وهلی دی او توپۍ ئی په سر کړیده بغیر د پټکي نه . او سلف صالحین به یو ځائی کیدل بیا به جدا کیدل او یو بل ته به ئی دا نه وئیل چه ما له دعا اوغواړه یا ما له ښنه اوغواړه د دې یرې نه هسې نه چه خلق ئی سنت اوکنړی. او دارنګه نقل کړی شویدي د عمر رضي الله عنه نه کله چه ده ته یو سړي اولیکل چه ما له دعا اوغواړه نو عمر رضي الله عنه ورته جواب کښې اولیکل چه زه پیغمبر نه یم . او دارنګه د سعد بن ابي وقاص نه هم نقل دی کله چه دې شام ته راغی او دارنګه د حذیفه رضي الله عنه نه هم نقل دي لکه څنګه چه مونږ په ضیاءالنور : ۱٤٤ کښې ذکر کړیدی.[۱]

نو په نفلي عبادت باندې عمل چه د هغې تعین په شرعي دلیل ثابت نه وي هغه په شریعت کښې (خپله) رائی ده . دغه شان هغه نفلو باندې عمل چه هغه سنت نه وي خو داسې عمل پرې اوکړی شي لکه څنګه چه په سنتو کولې شي نو دا په اصل کښې دا نقل د هغه مقام نه رایستل ړي کوم مقام

---

[۱] وهكذا ذكر ابن عبدالبر عن كثير من السلف مثل اويس القرني واحمد والنخعي فى مع العلم ص ۱۸۹

منهاج السنة ص ۴۳ ج ۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



چه شرعي طور باندې ورله خاص کړی شویدی. بیا د عوامو دې نفلو لره د سنتو عقیده ساتل لازمي وي. او دا لویٔ فساد دی ځکه چه غیر مسنون څیز سنت ګنړل یا چه کوم عمل سنت نه وي په هغې باندې د سنتو په شان عمل کول په اصل کښ د شریعت د بدلولو یو قسم دی. لکه چه یو (سړی) د فرض څیز باره کښ دا عقیده اوساتي چه دا فرض نه دی یا چه یو څیز فرض وي او دی وائی چه دا فرض نه دی.(۱)

## دیارلسمه قاعـــــده

## استحباب یو شرعی حکم دی

حکم شرعي صرف هغه څه وي چه شارع د هغې حکم کړی وي . نو هر هغه څوک چه د یو څیز د مستحب کیدو دعوی کوي نو هغه لره شرعي دلیل پیش کول ضروري دی. الله تعالی فرمائی﴿ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ﴾ [البقره: ۱۱۱]

"اوایه راوړئ دلیل ستاسو که یئ تاسو رښتني".

دارنګه الله تعالی فرمائی : ﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴾ [ بنی اسرائیل: ۳٦]

"او تابعداري مه کوه د هغه څه چه نه وي تاله په هغې باندې دلیل، یقیناً غوږونه او سترګې او زړونه د دې ټولو باره کښ به تپوس کولی شي".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ اِئْتُونِي بِكِتَابٍ مِنْ قَبْلِ هَٰذَا أَوْ أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴾ [ الاحقاف: ٤ ]

راوړئ ماته کتاب مخکې د دینه یا څه نښه د علم (د پخوانو) که یئ تاسو رښتني

---

(۱) كذافی الاعتصام ص۲۸٤ ج ۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


او الله تعالى بدي بيان کړيده د هغه چا چه بغير د علم او دليل نه جهګړې کوي : ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ ﴾ [الحج: ۸]

"او بعضې د خلقو نه هغه څوک دي چه جهګړې کوي په (دين د) الله کښې بې د علم او بې د هدايت او بې د کتاب روښن نه".

او الله تعالى مومنان منع کړيدی د داسې خبرې نه چه دوئ ته ئې علم نه وي. ﴿ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [الاعراف: ۳۳]

"اوايه ! بې شکه حرام کړيدی رب زما د بې حيائی کارونه هغه چه ښکاره وي د دينه او هغه چه پټ وي او ګناه او زياتې نامناسب او دا چه حصه دار اوګرځوئ د الله سره هغه چه نه ئې دی راليږلې په هغې باندې دليل او دا چه اوايئ تاسو په الله باندې هغه چه تاسو پرې نه پوهيږئ".

امام ابن تيميه رحمه الله فرمائی چه "هر هغه سړی چه نبی عليه السلام نه منقول څيز باندې دليل نيسې نو هغه باندې لازم دي چه د دې (منقول څيز) صحت معلوم کړي ځکښې د دينه چه دې عقيده اوساتې د هغې په موجب يا په هغې باندې دليل اونيسي . او چه کله دی په دې سره بل باندې دليل نيسې نو دۀ باندې لازم دي چه د دې صحت بيان کړي ګني وي به دی وبونکې بغير د علم نه او بغير د دليل نه به استدلال کونکې وي.[١]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه : حالت د بدعتيانو دا دی چه دوئ د ځان نه

---

[١] منهاج السنة ص ۱۸ ج ٤

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


خبرې جوړوي او په دين کښې ئې لازم ګرځوي بلکه دوئ ئې د ايمان حصه ګرځوي.چه د هغې نه بغير بله چاره نشته . او کافر وائي هغه چا ته چه دوئ مخالفت کوي په دې کښې او د هغه قتل روا ګڼړي په شان د خوارجو ، د جهميو ، دروافضو او معتزلو . او اهل السنة د ځان نه خبرې نه جوړ وي او نه هغه چا ته کافرر وائي چه هغه اجتهاد کښې خطا شي .[1]

او شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله فرمائي چه يقيناً الله تعالى د واجب ، مستحب ، مباح ، مکروه او د حرام باره کښې فيصله کړيده. بيا ځکښې وائي چه کوم سړی بغير څه د ثبوت او اعتماد نه وائي چه دا (څيز) واجب يا حرام دی نو ده په الله تعالى باندې دروغ جوړ کړل .[2]

او حافظ ابن تيميه رحمه الله فرمائي چه يو څيز ته بغير څه دليل شرعي نه جائز يا مستحب وئيل هيڅ کله جائز نه دې او نه دا جائز دي چه په ضعيف حديث باندې شريعت ثابت کړي .

نو اهل السنة والجماعة د دليل نه پس عمل کوي او بدعتيان اول بدعت کوي بيا د هغې دپاره (د جواز) لاره کوري.

امام شاطبي رحمه الله وائي : احکام د اسلام صرف صحيح طريقه باندې ثابتيږي .

او امام غزالي رحمه الله وائي : عقل (انساني) ذريعه د پيژندو د څيزونو ده نه څيزونو له د جائز کولو ځکه چه دا عقل (دوؤ څيزونو کښې يو څيز ته) ترجيح ورکونکي نه دی او نه دا عقل ذريعه د مشروعيت ده .[3]

---

[1] تفهيمات ص ۱۱ ج ۱

[2] تفهيمات ص ۲۱۱ ج۱

[3] مستصفی من علم الاصول ص ٤١ ج۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



عز بن عبدالسلامؒ فرمائی چه دا ثابته شوی خبره ده چه مصلحتونه دوه قسمه دی (١) اُخروی (٢) دنیوی . نو ړومبي قسم به کتلی شي په شرعي ادلو کښ او هغه (ادله شرعیه) قرآن او سنت ، اجماع او صحیح قیاس دی.[1]
بیا ئی ذکر کړیدی چه استحباب هم شرعي حکم دی ځکه چه دا تقاضا د کولو کوي (نو د استحباب دپاره به هم شرعي دلیل پکار وي).

امام غزالیؒ رد کوي په هغه چا چه هغوئ ګمان کوي چه اصل په هر څیز کښ اباحت (جواز) دی. نو هغه وائی چه "مباح (جائز کار) تقاضا د مبیح (د جائزونکي) کوي ځکه چه علم او ذکر تقاضا د ذاکر او د عالم کوي او مبیح صرف الله تعالی دی .[2]

او مسلم الثبوت کښ دی چه اباحت یو شرعي حکم دی ځکه چه دا د شریعت داسې خطاب دی چه مکلف ته پکښ (د کولو او نه کولو) اختیار ورکړی شویدی[3]

او په "الدرالمختار" کښ ذکر دی چه صحیح مذهب د اهل السنة والجماعة دا دی چه اصل په اشیاء کښ توقف دی او (اصل په اشیاء کښ) اباحت رائی د معتزلؤ ده .[4]

شیخ عبدالقادر جیلانیؒ فرمائی چه که تا د یو څیز حرمت یا اباحت په قرآن او سنت کښ او نه موندهٔ نو ځکښ بیا وائی چه مونږ به په دیکښ

---

[1] قواعد الاحکام ص٨

[2] المستصفی ص ٥٠ وص ٢٤٥ ج١

[3] مسلم الثبوت ص ٤٥

[4] الدرالمختار ص ٥٠ ج١ وص ٢٤٥ ج ١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



توقف کوؤ.[1]

دا بو ثابت شوی حقیقت دی چه بنده ته په کولو د مستحب ثواب ملاوېږي نو وي دا بنده مامور د طرفه د شارع نه او حُسن (ښه والي) او قبح (بدوالي) په کارونو د دين کښې نقلي څيزونه دي عقلي نه دي. (يعنی حسن او قبيح په عقل نه معلومېږي بلکه د دې تعلق د نقل سره دی).

او د اصول فقه کتاب "المولوی" کښې دی چه حکم شرعي صرف په دليل شرعي ثابتېږي.

او ابن الهمام رح فرمائی چه د شرعي دليل نفی د يو حکم د نفي دپاره کافي ده.

علامه عينی په شرح د الصحيح البخاری کښې وائی څکه چه مکلف کيدل په يو کار په نيز د اهل حق صرف د شريعت نه ثابتېږي (٢).

او بعضو حضراتو وئيلي دي چه "اباحت" يو شرعي حکم دی او د هغه چا نسبت ئی معتزلؤ ته کړيدی چه وائی ټول کارونه مخکښې د راتلو د شريعت نه په حالت د اباحت (جواز) وو.

او شوکانی رح وائی کوم څيز کښې چه خلاف وي او د هغې باره کښې داسې څه دليل نه وی چه د هغې تخصيص اوکړي يا دهغې نوعيت خاص کړي نو ايا ديکښې اصل اباحت دی يا توقف دی؟ نو د فقهاء کرامو يو جماعت او شوافعو يو جماعت او د محمد بن عبدالله بن الحکم موقف دا دی چه (دغه څيز) کښې اصل اباحت دی او بعضو متاخرينو دا قول جمهورو ته منسوب کړيدی.

---

[1] فتوح الغيب ص ٦١

[2] العينی : ٣٤٨ ج١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او د جمهورو موقف دا دی چه د یو څیز حکم صرف دا داسې دلیل نه معلومیدی شي چه هغه د دغه څیز تخصیص اوکړی یا د دې نوعیت خاص کړي نو چه کله دا قسم دلیل او نه موندی شي نو ( دغه څیز کښې ) اصل منع ده.

د امام اشعری او د ابوبکر الصیرفی او د بعضې شافعی المسلک فقهاء موقف دا دی چه داسې صورت کښې په توقف به دې معنی وي چه معلومه نه شوه چه دلته واقعی حکم شته یا نه ؟ او امام رازی (په داسې صورت کښې) د منافعو په صورت کښې اجازت ورکړیدی او د نقصان په صورت کښې ئې منع کړیده[1].

او امام غزالیؒ دې مذهب ته باطل وئیلی دی په خپل کتاب "المستصفی" کښې. بیا دا ورډ کلام نه پس ئې وئیلي دي چه مباح د شریعت د احکامو نه یو حکم دی او بعضې معتزله وائی چه دا (مباح) شرعي حکم نه دی.

او هغه وائی چه مستحب او مباح کښې فرق دا دی چه مستحب مامور بهٖ وي (یعنی د دې حکم شوی وي) او مباح مامور بهٖ نه وي. نو په مستحب باندې د الله تعالی قرب حاصلیږي او الله تعالی ته تقرب (نزدیکت) صرف په هغه څه حاصلیږي چه هغه مشروع وي او خوښ کړی شوی وي او د هغې حکم کړی شوی وی نو چه یو سړی (د ثواب یو کار) کوي او نه ئې کنړي نو پکار دی چه په هغې دلیل شرعي پیش کړي .

نو هغه خلق چه بدعاتو او د ځان نه جوړ کړی شوؤ کیفیتونو او هیئاتو او د ځان نه وختونو خاص کولو ته مستحب وائی او دا (استجاب) ډیر کم

---

[1] ارشاد الفحول ص ۲۸۵

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



د هغه څه نه دی چه بنده ته پرې ثواب ملاویږي نو (دې خلقو) لره په دېياندې دليل شرعي پيش کول ضروري دي. او نشته په دويمه ډله باندې "د شارع د ترک" يا د "اصلي براءت" نه سيوا هيڅ دليل پيش کول. او هغه چه وئيل شويدی چه نافي (د يو کار نفي کونکی) دليل ته محتاج دی نو دا د بعضي حضراتو قول دی او د دينه د هغوئ مقصد دا دی چه د يو کار مطلقاً نفي کونکې يا دا چه هغه د خپل علم نفي اوکړې، نو په دې صورت کښې به هم هغه د دليل محتاج نه وي. او مزيد تفصيل په ضياء النور : ۱٦٦ کښې دي. او مستحب کار چه کله د خپلې مرتبې نه اوچت کړی شي يا په هغې هميشکيري اوکړی شي نو بيا هغه مکروه کرځي لکه څنګه چه مجمع البحار، شرح د مشکوة د طيبي ، فتح القدير، فتح الملهم : ۲٦۹ ج۲ او دارنګه "رد الاخوان" کښې ذکر دي.

علامه طيبي رح وائي چه څوک يو مستحب کار باندې هميشکيري کوي يا دا لازم ګنړي او په رخصت عمل نه کوي نو شيطان د دهٔ په ګمراه کولو کښې کامياب شو نو څه حال به وي د هغه چا چه بدعت باندې هميشکيري کوي[۱] ؟

او د شامي په کتاب کښې دی او هغه څه چه د مونځ نه روستو ئې (خلق) کوي نو هغه مکروه دي ځکه چه جاهلان خلق به عقيده اوساتي چه دا سنت دي يا واجب دي او هر هغه مباح چه دې درجې ته رسي نو هغه مکروه دی : ۷۳۱ ج۱ او دارنګه په مجموعة الفتاوى : ۲۸۳ ج ۱ کښې هم دي.

[۱] وهکذا قال کما فی فتاوی ديوبند ص۹٤، والسعاية ص ۲٦۳ ج۲ وفي الاعتصام ۲/ ۲۸

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نو دې بدعتيانو ته مونږ وايو چه دا د خان نه هيئتو نه جوړول لکه د ذکر دپاره حلقه جوړول او د دعا دپاره هيئت اجتماعيه او حيلې د اسقاط دپاره کم نه کم تاسو به د دې باره کښې عقيده د استحباب لرئ او استحباب حکم شرعي دی نو په ديباندې مونږ ته د قرآن او سنت نه دليل پيش کړئ يا به دا کارونه په هغه بهترينو پيړو کښې شوي وي (نو مونږ ته ئې اوښايئ) او که داسې نه وي نو بيا دا نوی کار دی په دين کښې او هر نوی کار په دين کښې بدعت دی نو دا بدعت دی. او هر چه مونږ يو نو مونږه وايو چه دا رد خان نه جوړ کړی شوی کارونه) مونږ په قرآن او سنت او په هغه بهترينو پيړو کښې نه دي موندلي. نو پريږدو مونږ هغه څه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغه صحابؓ پريخودي دي. او مونږ لره دغه کافي دي. الله تعالى فرمائي ﴿ فَإِنْ لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّٰلِمِينَ ﴾ [القصص: ٥٠]

"که دوئ قبول نه کړه ستا (د خبرې) نو پوهه شه چه دوئ تابعداري کوي د خپلو خواهشاتو او څوک دی زيات گمراه د هغه چا نه چه تابع شه د خپل خواهش بغير د هدايت د طرفه د الله نه يقيناً الله توفيق نه ورکوي قوم ظالمانو ته".

## څوارلسمه قاعده

نيک عملونه هغه دی چه شريعت جائز کړی وی. عملونه به د قرآن او سنت په تله باندې تللې شي . الله تعالى فرمائي ﴿اتَّبِعُوا مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ﴾ [الاعراف: ٣]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے

تابعداري اوکړئ د هغه څه چه رالیږلی شویدی تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه".

او الله تعالی فرمائی ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾ [ البقره: ۲۷۷ ]
"یقیناً هغه کسان چه ایمان ئی راوړه او عمل ئی او که نیک".

قاضي بیضاوی" وائی چه نیک اعمال هغه دی چه شریعت ورته جائز وائی.
او الله تعالی فرمائی : ﴿ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ [ البقره: ۱۱۲ ]
"بی شکه چا چه کیخوده غاړه خپله الله ته او وی دی تابعدار د سنتو نو ده لره اجر د ده دی په نزد د رب د ده او نه به وي په دوئ باندي او نه به دوئ غمژن شي".

حافظ ابن کثیر د دي آیت په تفسیر کښ وائی چه سعید بن جبیر" وائی چه (اسلم وجهه) ای اخلص دینه یعنی خالص ئی کړو خپل دین لره (وهو محسن) ای اتبع فیه الرسول صلعم یعنی په دیکښ د نبی" تابعداري کوي. ځکه چه د عمل د قبلیدو دپاره دوه شرطونه دي یو دا چه دا (عمل) خالص د الله تعالی د رضا دپاره وي او دویم دا چه دغه (عمل) صحیح او موافق د شریعت وي. نو کله چه عمل خالص د الله تعالی د رضا دپاره خو صحیح نه وي نو هغه نه قبلیږي . د دې وجې نه نبی عَلَيْهِ السَّلَام فرمائیلي وو چه " چا داسې یو عمل اوکه چه هغې باندي زمونږ حکم نه وو هغه (عمل) مردود (ناقابل قبول) دی. (دا حدیث مسلم د عائشې" نه نقل کړیدی).

نو عمل د پیرانو او د دوئ په شان د نورو خلقو اګرچه فرض کړی شي چه دوئ په دیکښ اخلاص کونکی دی نو هغه به دوئ نه قبول نه کړی شي

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


سیوا د دینه چه دغه عمل د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په تابعداري کښ وي . او محققینو عالمانو قرآن او سنت باندې منګول لګولی وه او دوئ په دیباندي (د دې پیرانو وغیره ) کارونه ، مجاهدې او کشفونه تللی دي نو ځه چه په دې (د قرآن او سنت) تله باندې برابر نه وو او په دې دوؤ شاهدانو باندې ثابت نه وو نو هغې له ئې نه اعتبار ورکړیدی او نه ئې ورته توجه کړیده.
ابو سلیمان الدارانی وائی چه کله کله زما په زړه کښ د قوم ( د صوفیاء کرامو) د نکتو نه یو نکته راشي خو زه دا د قرآن او سنت چه عادلان ګواهان دي . نو د دوئ په شهادت ئې منم .
ابو حفص الکبیر وائی چه کوم یو (صوفی) خپل کارونه او خبرې او حالونه د قرآن او سنت په تله اونه تلي او د ده په زړه کښ د دې غم هم نه وي نو دی د سړو په دفتر کښ مه شمیرئ .

مونږ ضاء النور : ۷۱ کښ اقوال د ائمو او زاهدانو تفصیلي ذکر کړیدی.
علامه شامی وائی :چه ئې شکه مونږ دین ، حصول د ثواب او عذاب د شارع د طرف نه پیژنو.[1]
او امام شاطبی وائی چه صحیح او صریح نقل باندې دا ثابت دی چه د الله تعالی تقرب (نزدیکت ) صرف په هغه څیزونو حاصلیږي چه هغه جائز وي او په هغه طریقه باندې حاصیلدی شي چه هغه شریعت مقرر کړې وي.[2]
امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وائی په خپله رساله : ۱۰ کښ چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام د الله

---

[1] الشامی ۵/ ۹۸۸، وهکذا فی تفسیرات ابن قیم ص ۱۱۱ وهکذا فی مجالس الابرار : ۱۲۸

[2] الاعتصام ص۸۷ ج ۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



تعالی کتاب سره طریقه مقرر کړیده او هغه څیز ئې بیان کړیدی چه هغې کښې د کتاب الله معیَن نص نه وي. او هر هغه طریقه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ متعین (مقرر) کړیده نو الله تعالی هغه په مونږ لازم کړیده او د هغې په تابعدارئ کښې ئې ثواب ګرځولی دی او د هغې د تابعدارئ نه تجاوز کولو کښې ئې ګناه ګرځولی دی. چه د هغې نه هیچا ته د معذرت ګنجائش نشته او د هیچا دپاره ئې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د طریقو اختیارولو نه سیوا هیڅ لار نه ده پرېښودې.

او په مدخل کښې دي چه "هر هغه څیز چه کتاب الله او سنتو د پیغبر عَلَيْهِ السَّلَامُ کښې نه وي نو دیکښې هیڅ جهګړه نشته چه دا په دین کښې نوی پیدا شوی څیز دی او نوی څیز په دین کښې ممنوع (ناجائز) دی.[1]

نو صرف وحی هدایت او نور دی. داسې څیز دی چه د هغې حکم شویدی او د زړونو (د باطنی ) مرضونو دپاره شفا ده. الله تعالی فرمائی.

﴿ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌۙ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ [مائده: ۱۵-۱۶]

"راغی تاسو ته د طرفه د الله نه نور او کتاب ښکاره توفیق ورکوي په دې سره الله تعالی هغه چا ته چه تابعداري د رضامنتیا د الله تعالی کوي د لارو د سلامتیا او اوباسي دوئ لره د تیرونه رڼا ته په خپل حکم سره او توفیق ورکوي دوئ ته په طرف د نیغې لارې)

او الله تعالی فرمائی : ﴿ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ

[1] المدخل ص ۳۸۱ ج ۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴾ [ ابراهيم: ١]

"دا کتاب راليږلی دی مونږ تا ته دي دپاره چه ته خلق اوباسې د تيرو نه رڼړا ته په حکم د رب د دوئ لارې د غالب ستاېلي شوي ذات ته".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴾ [ بنی اسرائیل: ٩]

"يقيناً دا قرآن ښئ هغه لار چه ډيره نيغه ده او زيرى ورکوى هغه مومنانو ته چه نيک عملونه کوي چه يقيناً دوئ لره لوئ اجر دى".

او الله تعالى لازمي طور باندې په قرآن باندې د منګل لګولو حکم کړيدی نو الله تعالى فرمائی : ﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ﴾ [ الانعام: ١٨٥]

او يقيناً دا (قرآن) زما نيغه لار ده نو د دې تابعداري اوکړئ او تابعداري مه کوئ د کږو لارو (د بدعاتو کڼی تس نس به کړی تاسو لره د لارې د ده نه )

او الله تعالى فرمائى : ﴿ قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ﴾ اية المومنون ٦٦.

"تحقيق سره وو زما ايتونه چه تاسو باندې لوستې شو نو وئ تاسو په خپلو پوندو اعراض کونکي".

او الله تعالى فرمائى : ﴿ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ [ العنكبوت: ٥١]

"ايا دوئ لره کافي نه ده چه مونږ راليږلی دی تا باندې کتاب چه دوئ باندې لوستلې شي يقيناً په دېکښې رحمت او نصيحت دی د هغه قوم دپاره چه

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ایمان راوړي )

او په حدیث شریف کښې راغلي دي چه د یو قوم دپاره د ګمراهي کافي ده چه دوئ د خپل نبي د کتاب نه سیوا د بل کتاب تابعداري اوکړي چه هغه د دوئ د نبي نه بغیر په بل نبي باندې نازل شوی وي . ( ابو داؤد په مراسیلو کښې ذکر کړیدی)

او الله تعالی معذور نه دی ګرځولی داسې یو سړی چه هغه د یو سړي د ربنا په وجه ، د یو بزرګ د تابعداري په وجه ، د یو عالم د خپلې مرضۍ نه د تصرف کولو په وجه او د زیاتي کونکي د تاویل په وجه ، د نص مخالفت اوکړي . بلکه په کومو څیزونو چه دوئ دلیل نیسي نو الله تعالی په خپل کتاب کښې د دغې بدی بیان کړیده . دوئ به وائی (قیامت کښې) ﴿رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَ كُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا۝ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَ الْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴾ [ الاحزاب: ٦٧-٦٨]

"ای زمونږه ربه مونږه د خپلو مشرانو او لیډرانو تابعداري کړی وه نو دوئ مونږه خطا کړو د صحیح لارې نه ای زمونږه ربه دوئ ته دو چند عذاب ورکړه او په لعنت کړه دوئ لره په لوئ لعنت".

او الله تعالی رشد و هدایت په کتاب او سنت کښې منحصر کړیدی. الله تعالی فرمائی : ﴿ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى ﴾ [ طه: ١٢٣]

"نو چا چه زما د هدایت تابعداري اوکړه نو (دی) به نه ګمراه شي او نه به بدبخت شي".

او د (قرآن نه) د مخ اړونکو الله تعالی بدي بیان کړیده. الله تعالی فرمائی

﴿ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ۝ كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ۝ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴾

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



[ المدثر: ۴۹-۵۱ ]

"څه دي دوئ لره چه دوئ د نصیحت (قرآن) نه مخ اړونکي دي؟ ګویا چه دوئ خرهٔ دی تربدلي . تختیدلي د زمري نه".

د الله تعالی ارشاد دی چه ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنْتَقِمُونَ ﴾ [ السجده: ۲۲ ]

"او څوک دی لوئ ظالم د هغه چا نه چه پند ( نصیحت ) ورته ورکړی شو په ایتونو د خپل رب بیا ده مخ واړوهٔ د دي نه .یقیناً مونږ د مجرمانو نه بدله اغستونکي یو".

امام شعرانی" " میزان الکبری " کښې ذکر کړی دی چه ما د جناب علی الخواص" نه اوریدلي دي چه خبردار ! ځان اوساته د دینه چه ته ځان لره څه لار (په دین کښې) جوړه کړې ځکه چه د الله تعالی امداد دیو بنده سره صرف په هغه کار کښې وي چه هغه الله تعالی د خپل نبی ﷺ دپاره مشروع (جائز) کړی وي.[1]

نو دي (بدعتیانو) د قرآن او سنت او د صحابه کرامو" د طریقې نه مخ اړولی دی. او دوئ تابعداري د بزرګانو او عمل د صوفیاء کرامو دین ګرځولی دی. دا افعال او اعمال دوئ د قرآن او سنت په تله نه دی تللی. نو دوئ جوړ کړی دي هغه څه چه الله تعالی د هغې اجازت نه دی کړی او دوئ د ځان نه شریعت جوړ کړیدی. دوئ دین (په خلقو) کډوډ کړیدی او نیک عمل او بدعمل ئې کډوډ کړیدی. لکه د قبرونو نه مدد غوښتل او د قبرونو والاؤ په نوم منخته کول او د سامري د ملکرو په شان قبرونو

[1] الداء والدواء ص ۱۴۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ښخه کېدل ، وجد کښې راتلل او سندرې ونيل . او دوئ د خپل رب د کتاب نه مخ اړولی دی او مشرانو چه د ځان نه څه جوړ کړېدی نو هغې پسې لګيدلی دی . قرآن کريم دوئ برباد کړو ځکه چه دوئ دا د قسمت معلومولو ، د مينې د دنيا ، د دوستانو تابع کولو او د دشمنانو هلاکولو دپاره اوکرځو او د ختمونو دپاره ئې اوکرځوو دپاره د مړو نو دوئ دا قرآن په محفلونو د غم او خوشحالو کښې لولي. ﴿ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ [الفرقان:٤٤]

"ايا ته ګمان کوې چه اکثر د دوئ اوري(قران) يا پوهيږي (په قرآن) نه دی دوئ مګر په شان د ډانګرو بلکه دوئ ډير ګمراه دی د لارې نه".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴾ [المومنون: ٦٣ ]

"بلکه د دوئ زړونه په غفلت کښې دي د دې نه او دوئ له عملونه دي سيوا د دينه چه دوئ هغې له کونکي دي".

## پنځـــــمه قاعـــــده

هغه عمل به قبليږي چه (شريعت) د هغې حکم کړی وي الله تعالی فرمائی: ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ ﴾ [الشوری: ٢١ ]

"ايا دوئ له شريکان دي چه واضح (ښکاره) کړی ئې دی دوئ له د دين نه هغه چه الله تعالی د هغې اجازت نه دی کړی".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَٰذَا حَلَالٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ﴾ ( ) [ النحل: ١١٦]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


"او مه وايئ هغه څه نه چه تاسو ژبې ئې دروغ بيانوي چه دا حلال دی او دا حرام دی دې دپاره چه جوړ کړئ په الله تعالی باندې دروغ."

د سيدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل دی چه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه نشته داسې يو عمل چه تاسو جنت ته نزدې کوي مگر ما تاسو ته د هغې حکم کړی دی (دا حديث حاکم په مستدرک کښې ذکر کړيدی)

امام نسائئ هم د دغه (ابن مسعود رضی الله عنه) نه داسې روايت کړی دی چه داسې يو څيز نشته چه تاسو جنت ته نزدې کوي مگر ما تاسو ته د هغې حکم کړيدی او نشته داسې څيز چه تاسو جهنم ته نزدې کوي مگر تاسو ما د هغې نه منع کړيد يئ.

او په بل حديث کښې راغلی دی چه ما نه دی پريښودی داسې يو څيز چه تاسو الله تعالی ته نزدې کوي مگر ما تاسو ته د هغې حکم کړيدی او ما نه دی پريښودی يو څيز چه تاسو د الله تعالی نه لرې کوي مگر ما تاسو د هغې نه منع کړی يئ.

د سيدنا ابن عباس رضی الله عنه نه طبرانئ رحمه الله او بيهقی روايت کړيدی چه الله تعالی زيات نا خوښ په کارونو (څيزونو) کښې بدعت دی.

نو هر هغه څوک چه د الله تعالی په دين کښې نوي نوي کارونه جوړوي نو د دهٔ دين سره هيڅ تعلق نشته.

او د نبي عليه السلام نه نقل دی چه خان بچ کړئ په دين کښې د نوې څيزونو نه ځکه چه هر نوی څيز (په دين کښې) بدعت دی او هر بدعت گمراهی ده.

نو هر هغه عمل چه په هغې د شارع امر (حکم) نه وي نو هغه مردود (

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ناقابل قبول) دی. مقبول عمل هغه دی چه د شارع د طرفنه د هغې حکم شوی وي. او پکار دی چه ټول عملونه د عمل کونکو د شریعت د احکامو لاندې شي . او شریعت د امر او نهی په ذریعه دوئ باندې حاکم وي. نو کوم سړی چه د الله تعالی قرب غواړي په هغه عمل چه الله تعالی او پیغمبر عَلَیْهِ السَّلَام د ثواب ذریعه نه وي ګرځولی نو عمل د دهٔ باطل او ناقابل قبول دی. او دا (سړی) په شان دهغه کسانو دی چه د دوئ مونځونو په نزد د بیت الله ټانړی او شړړی (شپیلی) وو او دا (سړی) په شان د هغه چا دی چه الله تعالی ته ځان په اوریدلو د سندرو (ګانو) یا په ګډا یا د احرام نه بغیر په سر ښکاره کولو او دغه شان په نورو خرافاتو او بدعاتو باندې نزدې کوي چه د دغه ( مذکوره څیزونو) په ذریعه الله تعالی او پیغمبر عَلَیْهِ السَّلَام تقریب (نزدیکت) بالکل نه دی جائز کړی. او دین کښې نشته چه یو څیز په یو عبادت د ثواب کاروی نو هغه به بل عبادت کښې هم مطلقاً د ثواب کاروي . لکه اذان د پنځو مونځونو دپاره عبادت او کار د ثواب دی خو د جنازې او د اخترونو او د استسقاء (دزارئ) د مونځ دپاره ثواب باعث نه دی. دارنګه نبي عَلَیْهِ السَّلَام باندې درود وئیل د ثواب کار دی لیکن د (څلورو رکعتو) د مونځ په ړومبنئ قعده کښې د تشهد نه بعد درود وئیلو باندې مونځ کښې فساد راځي او د قرآن کریم تلاوت عبادت دی خو سجده او رکوع کښې مکروه دی. نو کوم سړی چه د شریعت په عمل زیادت کوي چه هغه په شریعت کښې د دې عمل حصه نه وي یا نبي عَلَیْهِ السَّلَام هغه نه وي کړی نو دا زیادت به قابل قبول نه وي.

او په مدخل د ابن الحاج رحمه الله کښې دی چه عبادت هغه عمل دی چه شریعت

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



مقرر کړی وي او بیان کړی وي او کوم عمل چه شریعت نه وي مقرر کړی نو هغه هغوی عبادت نه دی. او ځکښ مونږ د حضرت حذیفه روایت نقل کړی وو چه هر هغه عبادت چه نبي علیه السلام او صحابه کرامو نه وی کړی نو تاسو هم هغه مه کوئ ځکه چه ړومبنو د روستنو دپاره (د عبادت) هیڅ خبره هم نه ده پریښودی لکه څنګه چه ابو داؤد فرمائیلي دی. (¹)

او په اصول فقه کښ ذکر دی چه د یو عمل ښه والی او بد والی (حسن او قبح) صرف د شارع د طرفه پیژندی شي په دیکښ د عقل هیڅ دخل نشته. نو هر هغه سړی چه د (ځان نه) یو عمل مستحسن (ښه) کنړي نو دهٔ ځان نه شارع اوګڼیل. امام شافعی وائی چي یقیناً نه دین او حصول د ثواب او د عذاب صرف د شارع نه پیژندی شي (²).

او شیخ عبدالقادر جیلاني فرمائی چه هر هغه حقیقت چه شریعت د هغې ګواهي نه کوي نو هغه زندیقت دی. (³)

او بل ځائی وائی چي عملونه د الله تعالی کتاب ته پیش کړه (⁴) (چي د قرآن سره موافق دی او کنه از مترجم).

امام عبدالوهاب الشعرانی وائی چه نه دی مناسب دپاره د یو تن ځان نږدې کول الله تعالی ته مګر په (هغه عمل) چه د شارع حکم په هغې کښ

¹ جامع العلوم والحکم ص ۲۲ وهکذا فی الباعث ص ۱۵ ، والاعتصام ص ۱۱۳ ج۲.

² الشامی : ۲۸۸ ج۵ وهکذا فی تفسیرات الامام ابن تیمیه : ٤٤١.

³ فتوح الغیب : ۱٦۰ مع شرح فارسی

⁴ فتوح الغیب : ۱٤۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



موجودد وي او د دهٔ نفس (طبيعت) په دې کهولاؤ (مطمئن) شوی وي د مندوباتو نه. او هغه (عمل) چه د شريعت حکم د هغې باره کښې نه وي نو هغه بدعت ته ډير نزدې دی. (۱)

د ابو ثعلبه الخشنی رضی الله عنه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا ارشاد منقول دی چه الله تعالی څه فرائض (احکام) مقرر کړيدی نو دا مه ضائع کوئ. څه پولې (حدود) ئې مقرر کړيدی نو د دينه تجاوز مه کوئ او څه څيزونه ئې حرام کړيدی نود دينه پرده مه اوچتوئ او د څه څيزونو نه (الله تعالی) بې د هيريدلو (نسيان) نه چپ پاتې شويدی نو دهغې باره کښې بحث مه کوئ ( دا حديث دار قطنی نقل کړيدی)(۲)

امام مسلم د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړيدی چه هلاک د شي متنطعين ، دا خبرې نبي عليه درې ځله اوکړې او متنطع هغه کس ته وائی چه بې ضرورته خبرو کښې بحث کوي.

او د ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دي چه "تنطع او تعمق ( بې ضرورته څيزونو کښې بحث کولو) نه ځان بچ کړئ او هغه پخوانی څيز باندي کلک شئ په کوم چه (عمل) د صحابه کرامو رضی الله عنهم وو.(۳)

نو دې بدعتيانو چه کوم بدعات جوړ کړيدی نو د دې باره کښې دوئ نه

---

(۱) ميزان الکبری : ۱۳ ج۱

(۲) کذافی جامع العلوم والحکم وتکلم فيه حفاظ لکن قال الدار قطنی الاشبه بالصواب المرفوع وکذالک حسنه الحافظ ابوبکر السمعانی وقد اخرج مثله البزار فی مسنده والحاکم فی مستدرکه وکذالک اخرجه الطبرانی والدار قطنی عن ابی الدرداء و مثله اخرج الترمذی وابن ماجه .

(۳) جامع العلوم : ۲۵۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



تپوس اوکړه چه ايا د دې حکم شريعت کړيدی ؟ يا چا د دې حکم کړيدی؟ او ايا نبي عليه السلام او صحابه کرامو دا کړی وو؟ نو دوئ توان نه لري چه د قرآن سنت نه څه دليل (په ديباندې) پيش کړی خو د دې باره کښې په خپلو مشرانو صرف ښه ګمان کوي. (الله تعالی فرمائی) (دوئ تابعداري صرف د ګمان کوي او دوئ نه دی مګر اټکليان ).

## شپاړلسمه قاعده

عبادتونه به په هغه طريقه کولی شي په کومه طريقه چه شارع وئيلي دي.

د اميه بن عبدالله بن خالد نه نقل دي چه دهٔ عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته اوئيل چې مونږ ته قرآن کريم کښې د حالت اقامت او د حالت خوف د مونځ (احکام ) ملاويږی خو د عام سفر د مونځ(احکام) مونږ قرآن کريم کښې نه مومو. (نو اصل سوال دا دی چه مونږ د سفر مونځ کښې قصر ولې کوو ) نو عبدالله بن عمر رضي الله عنه ورته جواب کښې اوئيل چه وراره ! الله تعالی مونږ ته محمد عليه السلام په داسي حال کښې راوليږهٔ چه مونږ په هيڅ څيز نه پوهيدو نو اوس به مونږ هغسې عمل کوو څنګه چه نبي عليه السلام (هغه عمل کولو) باندې مونږ ليدلی وو . حاکم په مستدرک کښې د دې روايت تخريج کړيده او هغه وائی چه روايان ئې ټول مدني او ثقه دي خوشيخينو د دې تخريج نه دی کړی او علامه ذهبي رحمه الله په "التلخيص علی المستدرک" کښې د دې تائيد کړيدی . او دغه شان په مدخل کښې د ابن عمر رضي الله عنه نه هم نقل دی.

حاکم په مستدرک کښې د نبي عليه السلام نه نقل کړي دی چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : ما تاسو په واضح دين باندې پريښودئ چه د هغې شپه هم په

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



شان د ورخ ده . زما نه پس به د دینه صرف هلاکیدونکی کږیږي.او
خوک چه تاسو نه ژوندی پاتې شه زما نه پس نو هغه به ډیر اختلافات
اوینی نو (داسې حالت کښ) تاسو هغه څیز مضبوطیا سره اونیسئ چه
تاسو ته زما د سنتو او زما د خلفاء راشدینو د سنتو نه معلوم وي .
دغه شان امام بخاری هم دا په خپل صحیح کښ نقل کړیدی او نووي په
اربعین کښ او ابوداؤد او ترمذی هم ذکر کړیدی او ترمذی وائی چه دا
حسن او صحیح دی.

نو څوک چه مقدار ، کیفیت او جهت کښ د سنتو مخالفت کوي نو ګویا
چه دی د الله تعالی او د پیغمبر علیه السلام سره جهګړه کوي ځکه چه دا
(کم ،کیف ، این) د شارع حق دی. او الله تعالی فرمائی : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ
يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ﴾ [المجادله: ۲۰]
"یقیناً هغه کسان چه خلاف کوي د الله او د پیغمبر علیه السلام دغه کسان
به ذلیلو خلقو کښ وي".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ
مِن قَبْلِهِمْ ﴾ [مجادلة:۵]
"یقیناً هغه کسان چه خلاف کوي د الله او د پیغمبر علیه السلام ذلیل به شي
دوئ لکه څنګه چه ذلیل شوي وو هغه کسان چه دوئ نه مخکښ وو".

او (بل ځائی) الله تعالی فرمائی ﴿ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ
خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴾ [الجن: ۲۳]
"او چا چه نافرماني اوکړه د الله تعالی او د پیغمبر علیه السلام نو یقیناً ده له
اور د جهنم دی همیشه به وي په دیکښ".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


او دارنګه چا چه عباداتو کښې د شارع هیئت بدل کړو نو دهٔ د الله تعالی د حدودو (پولو) نه تجاوز اوکړو. او الله تعالی فرمائی: ﴿ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ ﴾ [ الطلاق: ۱]

او هغه څوک چه تیر شه د حدودو (پولو) د الله نه نو ده ځان باندې ظلم اوکه.

او صحابه کرامو په هغه چارد (تنقید) کړی وو چه د شارع هیئت ئې بدل کړی وو یا ئې د ځان نه نوی هیئت جوړ کړی وو لکه سیدنا ابن مسعود هغه ډله وجمات نه یستې وه چه هغوئ کلمه طیبه او درود شریف په تیزه تیزه وئیلو او ورته ئې وئیل: څه نه وینم تاسو مګر بدعتیان.

دوئ الله تعالی په اذکارِ منقولؤ سرهٔ یا دولو خو صفت د اخفاء (د پټ وئیلو) ئې ورله بدل کړی وو او دې لره ئې په تیزه یو آواز د ځان نه جوړ کړو. او دوئ الله تعالی یا دولو خو د ځان نه جوړ شوی یو نوی هیئت باندې.(۱)

حافظ ابن رجب حنبلی په خپل کتاب "جامع العلوم والحکم" کښې وائی چې امام احمد بن حنبل د غضیف بن الحارث الشمالی دا روایت نقل کړیدی چه دهٔ له عبدالملک ابن مروان استاذې (قاصد) اولیږه (چه تپوس ترینه اوکړي په باره د دې کښې) چه مونږ خلق په دوؤ کارونو د جمعې په شپه باندې د ممبرونو دپاسه لاسونو اوچتولو او د سحر او د مازیګر مونځ نه روستو واقعات بیانول او جمع کړیدی. نو (غضیف) ورته جواب کښې اوئیل

(۱) دا واقعه دارمی: ۳۸ کښې ذکر کړیده، دارنګه ابن وضاح: ۱۰ او شامی: ۳۵۰ ج۵ او نظم البیان: ۷۳ وغیره کښې هم ده.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



جې خبردار دا خو ستاسو ښکاره بدعت دی او زه تاسو ته په دیکښې د پرهیز د جواز نه شم وئیلې خکه چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي چې که یو قوم د خان نه بدعت جوړ کړیدی نو هغوئ د دې په شان د سنتو نه محروم شویدی. نو په سنتو منګولې لګول د بدعت د جوړولو نه ډیر غوره او بهتر دی.

بیا د څه خبرو نه پس حافظ ابن رجب فرمائي چه دغه حضراتو دا داسې څیزونو په یو معین وخت کښې اجتماعي طور باندې کولو ته بدعت وئیلې دی. خکه چه نبي علیه السلام د جمعوں او د اخترونو د خطبوں نه علاوه د واقعاتو او وعظ دپاره څه خاص معین وخت نه وو مقرر کړی. نبي علیه السلام به کله کله صحابه کرامو ته نصیحت کولو یا هغه وخت چه کله به یو داسې واقعه (حادثه) اوشوه چه د هغې په وجه د نصیحت ضرورت وو.[1]

نو (ثابته شوه چه ) عباداتو کښې د خان نه هیئت جوړول بدعت دی. البته که د داسې هیئت بنیاد په سنتو کښې وي نو دیته به "لغوي بدعت" وئیلې شي نه اصطلاحي. سیدنا عمر چه د تراویح باره کښې چه کوم د بدعت لفظ (نعمت البدعة هذه) استعمال کړی وو نو دهغې نه مراد هم دا (لغوي بدعت ) دی. ( لغت کښې بدعت په معنی د اظهار دی یعنې دا څه بنه ښکاره کول دي) ځنګه چه ابن رجب : ۲۳۵ کښې هم وئیلي دي.

د سیدنا ابن مسعود نه سند صحیح سره نقل دی چه نبي علیه السلام اوفرمائیل چه "تاسو نن په فطرت باندې یئ. زر ده چه تاسو به خبرې نقل کوئ او تاسو ته به هم خبرې نقل کیږي. خبردار کله چه تاسو یو نوی څیز

[1] جامع العلوم والحکم : ۲۳۴ و : ۲۳۵

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اوبنئ نو په تاسو باندې د پرومبي زماني تابعداري لازمه ده.

حافظ ابن رجب وائی چي په جائز عمل باندې زياتوالي يا خو دا (عمل باطلوي لکه زيادت د رکعت او يا ئی (گرځول) خلاف د سنتو لکه د اودس اندامونه دريو ځلونه زيات وينځل.(¹)

امام شاطبي وائی چي د تعبدی امورو ترتيب صرف شارع مقرر کړی وي او په ديکښې هيڅ خلاف نشته.(²)

او په مجالس الابرار کښې دی چه يو تن لره دا جائز نه دی چه عبادات د شارع د طرفنه د شغي د مقرر کړی شوي مقام نه بل مقام ته اورسئ يا ئی د هغه طريقي نه بدل کړي په کومه چه د اسلافو عمل جاري وو.³

پخواني شريعتونه هم د عباداتو د صفتونو او هيئتونو د بدلولو په وجه بدل شوبدی. مشرکينو د ملت ابراهيميه د هيڅ څيز انکار نه وو کړی خو دوئ په دې ملت کښې داسي بدعات ايجاد کړی وو چه دوئ د ځان نه جوړ کړی وو. دوئ مونځو نه کول، حجونه ئی کول، ودونه ئی کول، مړي ئی ښخول، خيراتونه ئی کول، په دوباره ژوندی کيدلو ئی يقين وو او الله تعالی ته ئی د ځان نزدی کولو.نو دوئ په شک کښې مبتلاشو او د حق نه لری شواو ځان ئی الله تعالی ته په شرکي وسيلو باندې نزدې کولو ( د الله تعالی ارشاد دی) ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ ﴾ [الزمر: ۳]

(چه دوئ وئيل) مونږ د دوئ عبادت صرف دې دپاره کوو چه مونږ الله

---

¹ جامع العلوم والحکم: ۴۳

² الاعتصام: ۱۰۱

³ مجالس الابرار: ۲۸۹

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


تعالى ته په درجه کښې نزدې کړي".

دارنګه دوئ د انبياء کرامؑ او د اولياء عظامو په نومونو او د دوئ په تصويرونو ( شکلونو) برکت حاصلولو. او دوئ د الله تعالى ورکړې رزق صرف په خپلې رائې داسې حرام اوکړخو لکه څنګه چه يو څيز شريعت حرام کړې وي. او دوئ حرام کړو د الله تعالى ورکړې شوې رزق د وجې د دروغو جوړولو نه په الله تعالى باندې. نو صحيح دين ئې د باطل سره ګډوډ کړو دې دپاره چه خلقو باندې دين ګډوډ کړي. نو دوئ په دين کښې زياتې اوکړو او هغه قوم د خواهشاتو تابعدارې ئې اوکړه چه هغوئ ګمراه وو او په سمه لار نه وو روان.

او د دې وجې نه الله تعالى په خپل کتاب کښې قبائح د مشرکينو او د اهل کتابو ذکر کړيدې چه تاسو د دينه ځان بچ کړئ نو دوئ شرکې وسيلې اختيار کړې په داسې حال کښې چه الله تعالى ته ئې د نزديکت ګمان کولو (په دې شرکې وسيلو باندې) او دوئ حلال او حرام د ځان نه جوړول او خپل اولاد ئې د بې وقوفتيا په وجه وژلو د وجې د دروغ جوړولو نه په الله تعالى باندې. دې دپاره چه ( عامو خلقو باندې) د دوئ دين ګډوډ کړي.

دې وجې نه الله تعالى فرمائي ﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ ﴾
[ المائده: ۷۷]

"اې اهل کتابو! په خپل دين کښې زياتې مه کوئ".

او رب العزت فرمائي : ﴿ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَلْبِسُونَ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ [ العمران: ۷۱]

"اې اهل کتابو! ولې ګډوئ تاسو حق د باطل سره او پټوئ حق او تاسو به

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



**پوهیږئ:**

نو" غلو" (زیاتې) بدعت دی او" تلبیس" (ګډوډول د حق او باطل) دا ګډوډول د سنتو دې بدعت سره او ګډوډول د توحید دې د شرک سره. او دا ټول څیزونه اهل کتابو کښې په دې وجه راغلي وو چه دوئ د عبادت کارونه د شارع د ښودلې شوې طریقې نه خلاف په خپله طریقه کول. د دین بنیاد او د دې قوام او دې له د قائم ساتلو څیز د عباداتو زیاتوالي نه دی بلکه هغه څیز صرف اتباع ده او لحاظ کول د هغه طریقې دې چه شارع د عباداتو دپاره مقرر کړیده. او په جوهرة التوحید کښې دي چه" دا ضروري خبره ده چه د دین ټولو کارونو کښې نبي عَلَيْهِ السَّلَام او دهغه صحابه کرامو رض ته مرجع وی تردې پورې که ټول خلق په خپله زمانه کښې په یو عقیده متفق شي. خو د دې عقیدې تفسیر د هغه دریو پیړو (چه د هغوئ د خیر ګواهي شویده) د خلقو نه ثابت نه وي نو د دغه (اسلافو) نه روستو د یو تن دپاره به د دغه عقیدې تفسیر جائز نه وي. بلکه دی به عقیده اخلي لکه څنګه چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه منقول وي (دا عقیده به اخلي) بغیر د تشبیه او بغیر د تعطیل او بغیر د تمثیل نه او په دې به داسې ایمان راوړي څنګه چه الله تعالی اراده کړې وي. او څنګه چه د الله تعالی د ذات سره مناسب وي. د عقائدو په شان عباداتو کښې هم دا ضروري خبره ده چه دوئ نه (اسلافو نه) دا (عبادات) واغستې شي څنګه چه دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَام او د صحابه کرامو رض په زمانه کښې وو. نه به په دیکښې زیاتې کیږي او نه به نړینه کمې کیږي. نو هغه کس چه د ځان نه داسې عبادت جوړوي چه د دوئ (د نبي عَلَيْهِ السَّلَام او د صحابه کرامو) په زمانه کښې نه وو یا د ځان نه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بو عبادت لره شکل جوړوي چه په دغه زمانه کښې نه وو نو دغه کس بدعت کونکي دی په دين د الله تعالى کښې .څکه چه ټول عبادات د خپل ذات ، د شکل وصورت ، د حدودو ، د وختونو او زمانون په اعتبار د دغه اسلافونه حاصل کړی شویدی.[۱]

(زمونږ د زماني بدعتيانو) عبادات په هغه طريقه مقرر کړيدی په کومه طريقه چه شريعت نه دی مقرر کړي لکه خاص خاص وختونو کښې مخصوص قسم عبادات . چه د هغي داسي هيئت يا داسي تعين په شريعت کښې نه وي ( څنګه چه ئې دوئ کوي لکه په يو آواز اجتماعي طور باندي ذکر کول ، د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ميلاد مناوُل ، د دې دپاره اجتماعات منعقد کول ، او د عاشوراء ، د صفر ، د رجب ، د شعبان او د اخترونو د شپو بدعات . چه ضاء النور کښې مونږ په هغې تفصيلي کلام کړيدی : ۱۶۰ و : ۱۹۳ تر : ۲۱۳ پورې . دغه شان د بعضي ځايونو او قبرونو فضائل او دارنګه هغه ټول کارونه (بدعات چه خلق ئې په دغه ځايونو ، قبرونو کښې يا د هغې خوا کښې کوي لکه څنګه چه مونږ هلته (ضاء النور) کښې بيان کړيدی.

---

[۱] جوهرة التوحيد : ۱۶

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## اوولسمه قاعده

په عباداتو کښ هئیت او مقدار مقرر کول او تخصیص (د زمان او مکان) صرف د شارع حق دی.

الله تعالی فرمائی: ﴿تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَ مَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾ [البقره: ۲۲۹]

"دا پولې (حددونه) د الله تعالی دی او څوک چه تیر شو د پولو د الله تعالی نه نو دغه کسان هم دوئ دي ظالمانو".

د عائشې رضي الله عنها د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا ارشاد نقل دی چا چه نوی کار اوکه زمونږ په دې دین کښ هغه (کار۔ څيز) چه دې دین حصه نه وه نو دغه څيز رد دی (قابل قبول نه دی)".

او د امام احمد په روایت کښ داسې دی چه چا چه زمونږ دین پرېښوده او نوی څیز ئی جوړ کړو نو هغه به مردود (ناقابل قبول) وي.

نو گویا د عائشې رضي الله عنها په روایت کښ "رد" مصدر مبني للمفعول دی یعنی په معنی د مردود دی. نو شرعي امورو کښ د مقدار تعین او د کیفیت په اعتبار د عباداتو د هئیت تعین (مقرر کول) او د دې (عباداتو) دپاره د "این" "په اعتبار سره د وختونو تخصیص، دا ټول د شارع حق دی. يو تن لره د دې د تعین، د حد مقرر ولو او دې لره د هئیت جوړولو هیڅ حق نشته.

او الله تعالی خپل پیغمبر ته حکم کړیدی چه خلقو ته هغه احکام واضح بیان کړی کوم چه دوئ ته رالیږلي شویدی. نو (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) مونږ ته د مونځ هئیت او مقدار د رکعتونو بیان کړیدی او د دې وختونه ئی مونږ لره مقرر کړیدي. نو تحدید (دیو کار دپاره حد مقرر کول) او توقیت (دیو کار دپاره وخت مقرر کول) او هیئت په دوه قسمه دی. یا خو به دا د یو

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



حکم د تکمیل دپاره وي یا به د لزوم په طور باندي وي. او دا دواړه قسمونه د نبوت د منصب سره متعلق دی. ځکه چه دین کامل دی ناقص نه دی. او د بندیانو دپاره ئې داسې څه ګنجائش نه دی پرېښودی او نه ئې یو تن له د خبرو موقع پرېښودې ده .

نو د مقدار حد مقرر کول لکه (د اودس اندامونه) درې درې ځله وینځل ، د هر رکعت دپاره دوه سجدې کول ، د رکعتونو تعداد ، او د وختونو دپاره تحدید لکه د پینځو مونځونو د وختونو تحدید ، د حج دپاره د میاشتې د ذوالحجه تعین ، د فرض روژو دپاره د رمضان المبارک تخصیص ، دغه شان د مکروه یا د مسنون وختونو تخصیص او دغه حال د عباداتو د تکمیل یا تحسین دپاره د وخت د مقررولو دی. لکه د رمضان شپې د بیدارئ دپاره خاص کول او ایام بیض د روژو دپاره خاص کول ، او اخترونه د مونځ دپاره خاص کول ، دا به صرف او صرف د شارع د طرف نه وي. یا (د عباداتو دپاره) د مکان خاص کول که د لزوم په طور وي لکه کعبه شریفه د طواف دپاره صفا او مروه د سعی دپاره او عرفات د وقوف دپاره خاص کول. یا په عباداتو د کمال دپاره د یو ځائې خاص کول وي لکه د فرض مونځونو او د نکاح تړلو دپاره جماتونه او د نفل مونځونو دپاره کورونه خاص کول یا دغه ځایونه د دعا د قبلیدو دپاره خاص ګڼړل چه هغه (ځایونه) علامه جزری ؒ ذکر کړیدی . یا د عباداتو دپاره شرائط لکه اودس کول دپاره د مونځ یا د مونځ دپاره تیمم کول یا د تکمیل او د تحسین په طور وي لکه د مونځ دپاره اذان او اقامت او د نکاح دپاره د ولی اجازت او د فرض مونځونو نه مخکښې او روستو سنت .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او د دینه علاوه د زکوة او د سرسائی او د مالي کفاراتو او د مالي نذرونو (منختو) دپاره د مصارفو تعین (مقررول) یا د اذکارو دپاره د الفاظو تعین لکه په اذان او اقامت کښې او په ټولو رکعتونو کښې فاتحه وئیل او په رکوع او سجدو کښې تسبیح وئیل او دارنګه د بعضې ذکرونو دپاره جهر لکه تلبیه او په ایام تشریق کښې تکبیرونه او په ټولو ذکرونو او دعاګانو کښې اخفاء (یعنې په پټه وئیل) او دارنګه عبادات په اجتماع سره خاص کول لکه مونځ د جمعې او عام مونځونه په جمعې سره او د اخترونو مونځ او مونځ د جنازې او بعضې (عبادات) ځان له او خفیه طریقې سره متعین کول لکه نفلونه او وظیفې او د قبرونو زیارت کول ځکه چه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د شپې مقبرې ته تشریف اوړې وو او قبرونو والؤ دپاره ئې دعا اوکړه لکه څنګه چه د عائشې ؓ نه نقل دي.

نو (د عباداتو) د مقدار او کیفیت حد بندي او د وخت د تعین په ذریعه (عباداتو کښې) کمال پیدا کول. که هغه د لزوم په طور وي یا صرف د تحسین په طور وي. دارنګه (مالي عباداتو کښې) د مصارفو تعین ،( لساني عباداتو کښې) د الفاظو تعین ، یا بعضې عبادات په جهر سره خاص کول او بعضې نور عبادات په اخفاء (خفیه طریقې) سره خاص کول یا اجتماعي او انفرادي هیئت سره ( د دغه عباداتو) تخصیص کول. دا ټول د شارع حقونه دي . د بندیانو دپاره په دیکښې ( د وینا) هیڅ ګنجائش نشته .

نو ګویا چه ټول جائز کارونه سره د ډیروالي د شعبوں نه په دوو بابونو کښې منحصر دي.(۱) د تحدید (د حدبندو) باب (۲) د مرتبو د رعایت باب .
او دې ټولو امورو مدار په نقل دی. ځکه چه شریعت کامل دی . ناقص

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



(نیمګړی) نه دی. نو څوک چه د عباداتو دپاره د ځان نه هیئت جوړوي لکه د سنتو نه پس دعا دپاره اجتماعي هیئت یا ( د یو عبادت دپاره د ځان نه ) د وخت تعین کوي لکه د سورة ملک د تلاوت او د خیرات دپاره د جمعې شپه متعین کول یا د عباداتو دپاره د ځان نه یو وصف جوړوي نو ګویا چه دې نوی شریعت روارې. الله تعالی فرمائی ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ اللَّهُ ﴾ [ الشوری: ۲۱]

"ایا دوئ لره حصه داران دی چه واضح کړی ئې دی دوئ لره د دین نه هغه چه اجازت نه دی کړی الله تعالی په هغې باندې."

او طبرانی په کبیر کښې او ابو نعیم په حلیه کښې او بیهقی په سنن کښې د ابو ثعلبه الخشنی نه روایت کړیدی چې یقیناً الله تعالی څه فرائض (احکام) مقرر کړیدی نو دامه بربادوئ او څه حدونه ئې مقرر کړیدی نو د دینه تجاوز مه کوئ او څه څیزونه ئې حرام کړیدی نو دیته مه نزدې کیږئ او ډیر څیزونه ئې بغیر د هیرې نه پریخودلې دی ( یعنی د هغې بحث ئې نه دی کړی) نو تاسو د هغې باره کښې بحث مه کوئ .

او په دې روایت کښې دا الفاظ هم دی چې د ډیرو څیزونو باره کښې ئې خاموشي اختیار کړیده نو د دې باره کښې تکلف مه کوئ . دا د الله تعالی مهرباني ده نو قبوله ئې کړي". دا د "فروه" نه صرف اصدام بن حوشب نقل کړیدی.[1]

او په "طریق الاصول" کښې دی چه "ښکه چه عبادات د شارع حق دی او د شارع حق د مقدار او کیفیت په اعتبار او دارنګه د زمان او مکان د تعین

---

[1] المعجم الصغیر :۲۳۰

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



په اعتبار صرف د شارع د طرف نه پیژندل ممکن دي. نو چا چه یو جائز کار د ځان نه جوړ شوی هیئت باندې یا په یو نوې طریقې باندط اوکړو نو ده دین کډوډ کړو. او داسې یو کار ئې اوکړو چه هغې باندې زمونږ دین نه وو. نو صاحب د بدعت اضافیه په مشروع او غیر مشروع ( دواړو طریقو) باندې الله تعالی ته ځان نزدې کوي.

صاحب د توضیح وائی چه " او د متابعت صرف دغه صورت دی چه (مکلف) یو کار په داسې طریقه اوکړي ( چه د شارع نه ثابت وي) .امام رازی په خپل تفسیر کښې وائی چه متابعت(تابعداری) په اصل کښې نوم دی د بل چا د کار په شان د کار کولو. دې وجې نه چه دا کار اصل کښې د دې بل کار دی.[1]

او امام ابن تیمیه ؒ وائی چې د سنتو مرک یا د زیاتي او یا د کمي په وجه وي: نو څوک چه یو مشروع کار کښې یو طریقه یا هیئت زیاتوي نو گویا چه دی دغه مشروع کار ختموي.

صاحب د مدخل وائی چې عبادات به په هغه طریقون کولې شي کومې چه دې لره مقرر کړی شویدی .([2])

او هغه وائی چې مونږ لره دا حق نشته چه په خپله طریقه عبادات اوکړو سیوا د هغه طریقه نه چه شارع وضع کړیدی او د امت د اسلافو (مشرانو) عمل په هغې جارې وو . ایا ته نه گورې قول د عبدالله بن عمر ؓ ته چه هغه ونیلي وو چه الله تعالی مونږ ته محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ په داسې حال کښې

[1] تفسیر کبیر ص۵۰۳ ج ۵.

[2] المدخل ص ۲۵۵ ج۲

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



راولېږه چه مونږ په هیڅ نه پوهیدو اوس به مونږ هغه شان (عمل) کوؤ څنګه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کوی.

د ابو الحسن رزین د کتاب نه منقول دی هغه د نافع نه روایت کوي چه" یو سړي د عبدالله بن عمر رضی په خوا کښې اینګې اوکړو نو" الحمد لله والسلام علی رسول الله " ئی اوئیل ابن عمر اوئیل چه څه داسې نه وایم مونږ ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اینګې کولو په موقع داسې نه وو خودلی. مونږ ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ صرف الحمد لله رب العالمین وئیل ښودلي وو.

دینه بعد صاحب د مدخل وائی چه مشرانو عالمانو کښې د یو عالم واقعه ده چه هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا حدیث (روایة) واوریدهٔ چه څوک د هر مونځ نه روستو ۳۳ ځله سبحان الله ، ۳۳ ځله الحمد لله ، ۳۳ ځله الله اکبر وائی او په آخر کښې یو ځل " لا اله الا الله وحده لاشریک له ، له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر" وائی د دهٔ ګناهونه به اوبښلې شي اګر که هغه په شان د زګ د سمندر (زیات) وي.

نو دې عالم اوئیل چه ما به هر یو د دینه سل ځله وئیل. ډیره زمانه ئې داسې اوکړل بیا ده خوب اولیده چه قیامت ګویا راغلې دی او خلق میدان حشر کښې جمع شوېدي. دغه عالم وائی چه څه دي خلقو سره پاڅیدم نو مونږ داسې یو ځائ ته اورسیدو کوم ځائ چه فرښتو د دغه (مذکور عمل) ثواب ورکولو. ما د خلقو سره مزاحمت کولو خو فرښتو دوئ ته ثواب ورکولو او ما ته ئې هیڅ (ثواب) را نه کړو. څه د دغه ( مزاحمت) به حالت کښې اوم تر دې چه ټول خلق فارغ شو نو څه مخکښې شوم او د فرښتو نه مې ثواب اوغوښته نو هغوئ ما ته اوئیل چه مونږ سره ستا دپاره هیڅ( ثواب) نشته نو

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



ما دویٔ (فرښتو) ته اوئیل ! چه تاسو دغه خلقو ته بیا ولې ثواب ورکړو؟ نو فرښتو ما ته (جواب کښې) اوئیل چه دویٔ به د هر مونځ نه پس د الله تعالی ذکر کولو. ما ترینه تپوس اوکړو چه دویٔ به څه ذکر کولو ؟ نو فرښتو راته اوئیل چه دویٔ به ۳۳ ځله سبحان الله ، ۳۳ ځله الحمد لله الخ وئیل. نو ما ورته اوئیل چه ما خو به هر (قسم) ورد د (۳۳ په ځائې) سل ځله وئیلو ( نو زما ثواب خو د دې خلقو په نسبت زیات پکار دی). نو فرښتو جواب کښې اوئیل چه صاحب د شریعت (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) د داسې وئیلو حکم نه وو کړی بلکه هغه صرف د ۳۳ ، ۳۳ ځله وئیلو حکم کړی وو. ( نو د دې وجې نه ) مونږ سره ستا دپاره هیڅ ثواب نشته . دغه عالم وائی چه څه ډیر په یره راپیدار شوم نو ما الله تعالی ته توبه اویسته چه بیا به د صاحب د شریعت په مقرر شوي تعداد هیڅ زیاتوالې نه کوم": ۲۵۷ ج۲ نو ( دغه شان) صلوة او سلام عبادت او د الله تعالی د قربت ذریعه ده خو په خپل ځائې کښې نه په نورو ځایونو کښې بلکه په دیباندې مونځ فاسدیږي کله چه په ړومبیٔ کښې د تشهد نه پس اوئیلې شي .او دارنګه دعا عبادت دی خو هغه ځائې عبادت نه دی چه هلته شارع بل حکم کړی وي. لکه د جنازې نه پس دعا کول څکه چه شارع د ( جنازې) نه پس د مړي په زر اوړلو (قبر ته ) حکم کړیدی. د دې وجې نه فقهاء کرامو دیته مکروه وئیلي دي.

او دارنګه سبحان الله ، الحمد لله او الله اکبر وئیل عبادت دی خو په شرط د هغه طریقې چه شارع پرې حکم کړیدی.نو څوک چه بو مشروع (جائز) عمل باندې زیاتې کوي نو دې به د اجر نه محروم وي. او دارنګه د

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



قبرونو زيارت مسنون طريقه ده خو په شرط د سنت باندې. نو څوک چه په دغه موقع د شريعت په حکم زياتي کوي او په مقبره کښې (د مړو) را مدد کولو بدعت کوي نو دهٔ د الله تعالی او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نافرماني اوکړه. او عرس کول، مقبره کښې اجتماع کول (راجمع کيدل) او هلته ختمونه کول وغيره په دغه موقع بدترين بدعات دی. نو دعا د الله تعالی ذکر دی خو دې لره د څه خاص کيفيت او هيئت جوړول او د وختونو پورې د خاص کولو او مقيد کولو التزام نه دی کړی شوی. خوهغه چه څه تعين دليل شرعي کړی وي نو هغه جدا خبره ده. نو څوک چه دعا د خپل ځان نه په يو هيئت خاص کوي او چه په هغې شرعي دليل نه وي نو دغه کس د الله تعالی د حدودو نه تجاوز کوي او دهٔ د هغه خلقو مخالفت اوکړو چه هغوئ د ده نه په شريعت ښه پوهيدل او هغه سلف صالحينؒ وو.[1]

په اولسمه قاعده باندې تفريع

نو څوک چه عباداتو لره د ځان نه يو خاص هيئت يا طريقه جوړوي يا د عباداتو دپاره (د ځان نه) وختونه خاص کوي نو دهٔ د الله تعالی د حدودو (پولو) نه تجاوز اوکړو او دا ګمان ئې اوکه چه دغه (زما اضافه) الله تعالی نه هيره شوې وه او پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې وئيلو نه کوتاهي کړی وه. لکه په مختلفو ورځو او شپو کښې نيک بختي او بدبختي ګنړل، او د ځان نه جوړې شوې وظيفې او دارنګه د درود هغه الفاظ چه ( د خيرالقرون) نه نقل نه وي .

[1] کذافی الاعتصام : ۲۰۰ ج۱ و اصول السنن : ۳۸

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## اتلسمه قاعده

/ : مطلق مقید کول ( د ځان نه) په يو وصف او هیئت باندي دا د ځان نه شریعت جوړول دی.

الله تعالی فرمائی: ﴿ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ ﴾ [ النحل: ٤٤]

"او مونږ رالیږلی دی تا ته پند دې دپاره چه ته خلقو ته بیان کړې هغه څه چه دوئ ته رالیږلي شویدی".

او الله تعالی فرمائی ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ﴾ [ التوبه: ١١٥]

"او نه دی الله تعالی چه مهرد گمراهي اوهي په يو قوم باندې پس د هغه نه چه دوئ له ئې توفيق ورکړی وي تر دې پورې چه دوئ ته بیان کړی هغه څه چه دوئ د هغې نه ځان ساتي".

نو د قرآن کریم کومه حصه چه مشکل (گرانه) وي نو د هغې د وضاحت ذمه داري نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته ورکړی شویده . لکه څنگه چه صاحب د کشاف په تفسير د دې قول د الله تعالی ﴿ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ کښې وئيلي دي چه" قرآن کریم د دین ټول امور بيان کړيدي په داسې شان چه د بعضې احکامو باره کښې ئې صراحت کړيدی او بعضې (احکام) ئې سنتو د پیغمبر ته حواله کړیدی و د دې باره کښې ئې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د تابعدارئ حکم کړيدي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونږ ته پوره پوره دین بیان کړيدی. نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونږ ته د رکعتونو حد بندي ، رکوع ، سجده او وختونه (د مونځ) بيان کړيدی. او مونږ ته ئې د زکوة مصارف ، د حج مناهي (منع شوي څيزونه) او د روژې مناهي بيان کړيدي. او مونږ ته ئې د طواف چکرې ( گردشونه) او د مونځ

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


کیفیت یعنی قیام ، قعود او سم لاس په کس باندې کیخودل بیان کړیدي.
نو په هیڅ یو کار کښې ئې بندیکانو لره ( دبیان ) گنجائش نه دی پرینبودی.
نو د دینه معلومه شوه چه مطلق ( د ځان نه ) مقید کول په وصف یا وخت یا هیئت سره په دې حیثیت چه ثواب ئې کنړي نو دا د ځان نه شریعت جوړول دي.

امام غزالیؒ "اربعین" کښې فرمائی چه ځان بچ کړه په عقل د تصرف کولو نه ( په دین کښې ) چه ته اوائې چه هر هغه څه چه غوره او فائده مندوي نو هغه بهتر دی او هر هغه څه چه زیات وي نو هغه فائده مندوي. ځکه چه ستا عقل د خدائی د کارونو رازونو ته نه شي رسیدې او په دیباندې صرف د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ عقلي طاقت پوهیږي . نو تاباندې تابعداري (د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) لازمه ده . ځکه چه خاص کارونه په قیاس نه معلومیږي . ایا ته سوچ نه کوې چه ته (د مونځ دپاره) ځنکه اذان کوې او ته منع شوی ئې د اذان کولو نه په باقي تولو ورځ کښې .

نو قول او فعل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بیان د مطلق دی او په دیباندې ورته الله تعالی حکم کړیدی. ایا ته کورې نه چه الله تعالی مطلقاً د مونځ کولو حکم کړیدی نفل مونځ کول د شارع حکم شو. نو خاص قسم مونځ ته ترغیب ورکول بدعت دی لکه د شعبان په پنځلسمه شپه مونځ یا هغه مونځ چه " صلوة الرغائب " ورته وائی. او دارنګه مطلقاً ( د نفلي ) روژې نیولو حکم ثابت دی خو د یو وخت پورې روژه خاص کول لکه روژه د جمعې په ورځ او په اویشتم تاریخ د رجب ، بدعت دی. د دینه منع کړې شویده لکه ځنکه په حدیث د سلمانؓ کښې دی چه کله ده ابوالدرداءؓ (د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دینه) منع کړو نو نبي عَلَيْهِ‌السَّلَامُ د ده دا کار (منع کول) بنه اوګنړه. نو ډیر ځله به یو مطلق ثابت وي خو په یو وصف سره د هغې خاص کول بدعت وي لکه مطلق ذکر ثابت دی او تخصیص ئې په یو وخت او وصف سره بدعت ګرځي. لکه څنګه چه (داسې تخصیص نه ) ابن مسعودؓ منع کړی وه (واقعه مخکښې ذکر شویده ) او د ساخ مونځ (صلاة ضحی) مطلقاً ثابت دی خو دیباندې التزام کول (یعنې ځان باندې دا لازم ګنړل) یا په داسې التزام سره کول چه دې دپاره (خلق) را جمع کیږي نو دا بدعت ګرځي. لکه څنګه چه ابن عمرؓ د دینه (په التزام سره کولونه ) منع کړی وه. نو مطلق نصوصو کښې یو داسې قید لګول چه شرعي دلیل نه ثابت نه وي شریعت کښې خپله رائې چلول (استعمالول) دي.

او په مجالس الابرار کښې دي چه څوک د ځان نه جوړ کړی شوی عبادت د"ښه والي"او د عامو عباداتو مقابله کښې د دې د"خاص والي"دعوی کوي نو دی داسې دلیل ته محتاج دی چه هغه (دعام عباداتو نه) دغه (عباداتو نه چه د ځان نه ئې جوړ کړیدی) د خاص عبادت ثابتولو صلاحیت لري. ځکه چه عادتونه د اکثرو کلو (علاقو) او د ډیر زاهدانو او عابدانو اقوال د دې لائق نه وي چه د نبي عَلَيْهِ‌السَّلَامُ د خبرو مقابله اوکړي او دارنګه ( دا هم پیژندل پکار دی) چه تخصیص پیدا کولو والا دلیل ، قرآن او سنت او د هغه اجماع شرعي دلیل کیدی شي چه هغه د اجتهادی بصیرت لرونکو حضراتو سره خاص دی.[1]

نو د نبي عَلَيْهِ‌السَّلَامُ افعال چه دی نو دا اقوالو د نبي عَلَيْهِ‌السَّلَامُ د احادیثو او د

[1] مجالس الابرار : ۱۲٦

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



قرآن کریم د نصوصو تفسیر او بیان کونکي دي. ایا ته گوري نه چه الله تعالی د زکوة ورکولو حکم کړیدی حالانکه ائمه مجتهدین په دې متفق دي چه سبزو کښې هیڅ زکوة نشته . دا ځکه چه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سبزو نه زکوة نه وو ایستي او نه ئې دا بیان کړی وو چه دیکښې زکوة شته . نو (د زکوة باره کښې) مطلق حکم به خپل اطلاق جاری نه وي. او په شرح د سیر کبیر : ۴۱ ج۴ کښې دی چه د مطلق مقید کول صرف په دلیل (شرعي) جائز دي .

په دې قاعده باندې فقهاء کرامو د ډیر مسئلو بنیاد ایښې دی او ډیرې مسئلې ئې په دیباندې تفریع کړیدې. او په "اصول السنن" کښې دی چه" د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د فعل او ترک ( دیو کار کول یا نه کول) نه غفلت کول او په عامو نصوص استدلال کول (یو قسم) د هغه متشابه تابعداري کول دې چه د هغې د تابعدارئ نه الله تعالی منع کړیده .که مونږ په دې عموماتو (عام نصوصو) باندې د احکامو مدار اوګنړو او د (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) د بیان نه نظر تیر کړو (یعنی هغې ته نه ګورو) نو د بدعاتو به یو لوبه دروازه کهولاؤ شي چه د هغې بندول به ممکن نه وي او دین کښې به د بدعاتو جوړولو به هډو څه انتهاء نه وي .

امام شاطبي رح فرمائی چه مطلق نصوصو باندې قطع نظر د مقیداتو نه عمل کول، او په عموماتو باندې قطع نظر د مخصصاتو نه عمل کول (یعنی دا سوچ نه کوي چه دې په عموماتو دپاره مخصصات شته یا نه او عمل پرې کوي) نو دا د متشابهاتو د تابعدارئ یو قسم دی . او دارنګه په عکس د دې عمل کول یعنی چه نص مقید وي نو مطلق ئې واخلي یا نص خاص وي

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نو عام ئې واخلي او دا کار صرف په خپلې رائۍ کوي څه دليل ورسره نه وي.
نو يقيناً دا مسلک د ړوند تيراندازي ده (غشي ويشتل دي) او د دليل مقابله کښې دا د خواهش تابعداري ده. ځکه چه داسې مطلق چه بل نص مقيد کړی وي د په نه مقيد کيدو کښې په شان د متشابه دی. چه کله دا مقيد کړی شي نو دا واضح نص شي ( متشابه پاتې نه شي) لکه څنګه چه يو مقيد نص نه قيد لرې کړی شي ، د دې مقيد باره کښې داسې رائۍ ده چه هغه بغير د څه شرعي دليل نه د دې مقيد نص معارض (مقابل) ده.[1]

او په دغه اعتصام : ۲۰۱ ج ۱ کښې امام شاطبیؒ وائی چه کله کله دا وهم کولی شي چه د لفظ مطلق ذکر کيدل د هغه ټولو څيزونو د جواز خبرداری ورکوي چه هغه د دې لفظ په مدلول (مفهوم) کښې ځائيږي خصوصاً په عباداتو کښې داسې نشي کيدی ځکه چه عبادات ، په بندګۍ محمول دي په هغه طريقه چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د سلف صالحينوؒ نه زده کړی شوي وي .مثال په طور باندې د مونځونو ارکان ، د دې د وختونو ترتيب ، کيفيتونه ، د دې مقدارونه او داسې نور ډير څيزونه دي. چه هغه به د دې کتاب ( الاعتصام) د مصالح مرسلو په باب کښې انشاءالله تعالی بيانيږي .

نو په باب د عباداتو کښې به د قياس او دغه شان د استحسان مطلقاً هيڅ دخل نه وي ځکه چه ( په باب د عباداتو کښې ) قياس او رائۍ د عبادت په وضع کښې د منافي څيز په درجه کښې دی ځکه چه د انسان عقل د دې معاني په تفصيل سره نه شي معلومولی. د دې وجې نه علماء کرامو په باب د عباداتو کښې د قياس نه جاري کولو خيال ساتلي دی. لکه مالک بن

[1] الاعتصام : ۱۹۶ ج ۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



انس ؓ چه هغه همیشه په دې سلسله کښې د رائې تابعدارۍ پرېښودې وه او د قیاس په هیڅ قسم باندې ئې (په باب د عباداتو کښې) عمل نه وو کړې.

امام شاطبی ؒ وائې چه څوک هم د دې قاعدې خلاف کوې نو هغه د دلیل د اطلاق خلاف ورزې کوې ځکه چه دا ده په خپلې رائې باندې مقید اوګرځوله او د هغه چا خلاف ئې اوکړو چه د ده نه په شریعت ښه پوهیدل. او هغه خلق سلف صالحین ؒ وو.

نو د دې قاعدې (اصل) په بنیاد مونږ وایو چه نبی علیه السلام مقبرې ته تلو حکم کړیدې او خپله هم مقبرې ته تلې دې او مړو ته د دعا کولو او د آخرت د یادوولو نه سیوا د بل څیز حکم ئې نه کړې (په دې باب د زیات د قبرونو کښې از مترجم) نو چا چه په دیباندې یو څیز سیوا کړو نو دې په ښکاره ګمراهۍ باندې ګمراه شو. مثلاً څوک چه دوئ (مړو) نه امداد غواړې او دوئ ته فریاد کوې یا قبر باندې لاس راښکې یا قبر ښکلوې یا قبر ته سجده کوې یا د قبر خاوره ( د شفا او برکت دپاره) را اخلې یا د قبر نه طواف کوې. او دارنګه حکم کړیدې (نبی علیه السلام) د صدقې خو دا ئې د یو وخت یا د یو ورځې او شپې پورې خاص کړې نه وه. نو چا چه دا (صدقه) یعنې خیرات د جمعې د شپې پورې خاص کړو نو دې به بدعتې وې. دارنګه احادیثو کښې راغلې دې چه " دعا عبادت دې " او دا الفاظ هم راغلې دې چه " دعا د عبادت مغز دې " خو چرته هم د نبی علیه السلام نه دا ثابت نه دې چه په هیئت اجتماعې سره ئې د سنتو نه پس دعا کړې وې. (نو د دغه خاص هیئت التزام د دې دعا نه بدعت جوړ وې).

امام شاطبی ؒ وائې چه " کله شریعت یو عبادت مثلاً " د الله تعالی ذکر "

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



مستحب گرځولي وي او د دې ترغیب ئې ورکړی وي او یو ډله ئې په اجتماعي طور باندې په یو آواز او په ټولو وختونو کښې ئې په یو خاص وخت کښې التزام کوي چه شریعت کښې د دې تخصیص هیڅ دلیل هم نه وي بلکه هلته د دې د مخالفت دلیل وی (نو دا به د خپل طرف نه د شریعت جوړولو مترادف وي) ځکه چه شرعي طور باندې غیر لازمي څیزونه په ځان باندې لازم کول دا به داسې ګنړلې شي لکه د ځان نه شریعت جوړول "محکښې امام شاطبي" وائی چه "د سلف صالیحینو" داسې څیزونو لره په التزام سره پریښودل یا په هغې باندې عمل نه کول هم په دغه محمول دی حالانکه هغوئ د داسې کارونو زیات حقدار او لائق وو په دې شرط چه دغه کارونه د دې اصولون د تقاضې مطابق مشروع (جائز) وو.

بیا امام شاطبي" وائی چه دغه شان د دعا مثال هم دی او په خپل کتاب" الاعتصام" کښې ئې ځائې په ځائې په اجتماعي هیئت سره په دعا کولو رد کړیدی.[1]

دعا د الله تعالی ذکر دی لیکن د دې باوجود (اسلافو) په دعا کښې د خاص قسم کیفیتونو التزام نه دی کړی او نه ئې دا (دعا) خاص خاص وختونو پورې خاص کړیده چه د دې (دعا) د عبادت کیدو حیثیت د دغه وختونو پورې خاص اوګنړلې شي خو هه که شرعي دلیل په خپله د دې تعین اوکړي نو هغه جدا خبره ده.

او که د مطلق نصوصو په اطلاق او د عام نصوصو په عموم باندې استدلال صحیح وو نو د "اقیمو الصلوة" (مونځ قائم کړئ) د مطلق حکم

---

[1] اوګوره الاعتصام : ۱۱ : ۱۲ : ۲۰۶ : ۲۳۷ ج۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



( تقاضا به دا وه چه هر قسم مونځ د صحیح شي خو د دې باوجود د رغائب مونځ ، د پنځلسمې د شعبان مونځ او د قضاء عمرئ مونځ په بدعت کیدو باندې صحیح نص وار د شویدی. ( چه د هغې مطلب دا شه چه د اقیموا الصلاة په اطلاق عمل صحیح نه دی) دارنګه "اتوا الزکوة" د دې حکم د اطلاق تقاضا دا ده چه سبزوکښې دی هم زکوة واجب وي حالانکه په دیکښې د زکوة نه واجبیدو باندې د علماءُ د امت اجماع ده او د دې حضراتو دلیل په دې باره کښې صرف هغه قاعده او اصل دی کوم چه مخکښې مونږ بیان کړو.

## نولسمه قاعده

د احکامو دارومدار مقصود باندې وی او معروف په عرف کښې په شان د مشروط دې په نص سره .

الله تعالی فرمائی : ﴿ وَمَآ اُمِرُوٓا اِلَّا لِيَعۡبُدُوا اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ﴾ [ البینه: ۵ ]

"او دوئ ته حکم نه وو شوی مګر د دې چه عبادت اوکړي د الله تعالی خالص کونکي ده لره بندګي).

او الله تعالی فرمائی : ﴿ اِنَّآ اَنۡزَلۡنَآ اِلَيۡكَ الۡكِتٰبَ بِالۡحَقِّ فَاعۡبُدِ اللّٰهَ مُخۡلِصًا لَّهُ الدِّيۡنَ ﴾ [الزمر: ۲]

"یقیناً مونږ رالیږلی دی تا ته کتاب په رښتیا نو عبادت کوه د الله تعالی خالص کونکي ده لره بندګي خبردار الله تعالی ده بندګي خالص"

او بل ځائی الله تعالی خپل نبی عَلَيۡهِ السَّلَامُ ته فرمائی : ﴿ قُلِ اللّٰهَ اَعۡبُدُ مُخۡلِصًا لَّهُ دِيۡنِيۡ ۝ فَاعۡبُدُوۡا مَا شِئۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ ﴾ [ الزمر: ۱۴ ]

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



"ته اوایه! څه خالص د الله تعالی بندګي کوم خالص کونکي یم له په بندګۍ کښې نو عبادت کوئ تاسو د څه چه خوښه وي ستاسو ېی د الله تعالی نه".

او نبي علي عَلَيْهِ السَّلَام ته الله رب العزت فرمائی: ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴾ [الانعام: ۱۶۳]

"ته اوایه! زما مونځ (عبادت بدنی) او زما قرباني (زما عبادت مالي) او زما ژوند او زما مرګ خاص الله تعالی له دي چه پالونکي د مخلوقات دی نشته شریک دهٔ له او په دی باندې ما ته حکم شویدی او څه یم اول د غاړه کیخودونکو نه الله تعالی ته".

او بل ځائی کښې الله تعالی فرمائی: ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ [النساء: ۱۲۵]

"او څوک دی زیات ښائسته په دین کښې د هغه چا نه چه هغه کیخوده غاړه خپله الله تعالی ته اوي دې تابعدار د سنتو".

په دې آیت کښې د "اسلام الوجه" نه مراد د یو عمل او نیت الله تعالی دپاره خالص کول دي او په آیت کښې د "احسان" نه مراد د نبي عَلَيْهِ السَّلَام تابعداري ده.[1]

د اخلاص په تعریف کښې د عالمانو ګنړ اقوال دي بعضې وائی چه اخلاص د طاعت (تابعدارۍ) په باره کښې د نیت په ذریعه الله تعالی یو ګنړل دي او بعضې وائی چه خپل فعل (کار) د مخلوقاتو د لحاظ نه پاک (صفا) ساتل دي.

---

[1] مدارج السالکین: ۹۰ ج ۲

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او د فضیل بن عیاض ؒ قول دا دی چه پرېښودل د عمل د خلقو د وجې نه رياء ده او د خلقو د وجې نه عمل کول شرک دی او اخلاص دا دی چه الله تعالی تا د دې دواړو نه بچ کړي.

شيخ الاسلام ابو اسماعيل الانصاری ؒ وائی چه اخلاص په اصل کښې د هر عمل د ملاوټ نه د پاکولو نوم دی.

او په صحيح حديث کښې راغلي دي چه هغه (حديث) سيوا د امام مالک نه په مؤطاء کښې ټولو ائمو د حديثو ذکر کړيدی: انما الاعمال بالنيات.
"د عملونو (د ثواب) دارومدار په نيتونو باندې دی".

دا حديث بخاري شپږ ځايه راوړی دی، او امام مسلم په جهاد کښې او ابو داؤد په طلاق کښې او ترمذی په حدود کښې او نسائی څلورو بابونو (ايمان، طهارة، عتاق او طلاق) کښې او ابن ماجه په زهد کښې او امام احمد او دارقطنی او ابن حبان او بيهقی او حاکم په "اربعين" کښې او ابن الجارود په "المنتقی" کښې او رافعی په شرح الکبير کښې راوړی دی.

علامه عينی د دې حديث په تشريح کښې وائی چه په دېکښې دې خبرې ته اشاره ده چه انسان ته په اندازې د نيت بدله ملاوېږي. نو که د دهٔ نيت خالص د الله تعالی د رضا وي دهٔ ته به ثواب او د دواړو جهانو خير ملاوېږي. او که د دهٔ نيت د خلقو د رضا کولو وو نو دهٔ لره به هيڅ حصه د ثواب نه وي او نه به دهٔ لره د دنيا او آخرت څه فائده وي.[1]

او امام ابو حنيفه ؒ وائی چه د عملونو ثواب صرف او صرف په نيت دی. او د نيت باره کښې د فقهاء کرامو اختلاف دی يعنی چه دا د عبادت جزء دی

[1] کما فی العينی: ۳۸ ج۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


یا د عبادت د صحیح کیدو دپاره شرط دی. د جمهورو مسلک رومنی قول دی او د دویم قول څه وجه په پوهه کښې نه راځي. او کله چه یو سړی په عبادت کښې یو د نیوی څیز شریک کړی یا ریاء نو امام غزالي په دې صورت کښې د دې عمل اصلي باعث لره اعتبار ورکول غوره کړیدی نو که اراده د دنیوي کار پرې غالبه وه نو دهٔ لره په دې (عبادت) کښې هیڅ اجر نشته او که دیني اراده پرې غالبه وه نو دهٔ لره د دې په اندازه اجر وثواب وي او که دواړه (ارادې) برابروې نو دواړه به ساقط کیږي. د شیخ عزالدین بن عبدالسلام مسلک دا دی چه په داسې عمل کښې به مطلقاً هیڅ اجر نه وي.

نو (معلومه شوه چه) نیت د عمل روح او مغز او بنیادي څیز دی او دا عمل تابع د نیت دی. عمل به د نیت په صحیح کیدو صحیح او د نیت په خرابیدو به خرابیږي. او عمل کونکي ته صرف هغه ملاویږي چه دهٔ ئې نیت کړی وي او دا اصول په عباداتو کښې هم دی او په معاملاتو کښې هم.

او په حدیث کښې راغلي دي چه درې څیزونه داسې دي چه هغې کښې د مسلمان زړهٔ خیانت نه کوي (۱) د الله تعالی د رضا دپاره عمل کولو (۲) د حاکمانو خیرخواهي (۳) او د مسلمانانو د جماعت سره پاتې کیدل ځکه چه د مسلمانانو دعا ګانې دوئ نه چاپیره وي.[1]

نو هر هغه عمل چه د الله تعالی د رضا دپاره نه وي هغه باطل دی. دهٔ لره د هغې فائده نه دنیا کښې شته او نه آخرت کښې. دارنګه دا ابن رجبؒ هم

---

[1] اخرجه ابن عبدالبر فی جامع بیان العلم وفضله : ۳۹ . ذکره المنذری فی الترغیب وقال رواه ابن حبان فی صحیحه والبیهقی تتقدم و تاخیر.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


ونیلي دي.

او ابن مبارک ؒ نه منقول دی چه ډیر واړهٔ عملونه داسې وی چه نیت ترینه لوئ عملونه جوړوي او ډیر لوئ عملونه داسې وي چه نیت ترینه واړهٔ عملونه جوړوي او ابن عجلان ؒ وائی چه په دریو خیزونو عمل صحیح کیږي (۱) د الله تعالی په تقوی (چه د الله تعالی نه یره اوکړی شي ) (۲) په ښائسته نیت (۳) او دا چه د شریعت مطابق وی .

فضیل ابن عیاض ؒ د الله تعالی د دې ارشاد ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ د لاندې وائی چه "احسن عملا" نه مراد هغه عمل چه ( د نیت په اعتبار) ډیر خالص او ( د سنتو د تابعدارئ په اعتبار ) ډیر درست (صحیح) وي .

او هغه وائی چه عمل کله خالص ( د الله تعالی د رضا دپاره ) وي خو صحیح نه وي نو بیا هم نه قبلیږي څو پورې چه خالص او صحیح نه وي نو نه قبلیږي . او هغه وائی چه عمل به "خالص "هله وي چه صرف د الله تعالی د رضا د پاره وي او "صحیح" به هله وي چه کله دا (عمل ) د سنتو مطابق وي.

امام احمد ابن حنبل ؒ د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د ابی ابن کعب ؓ حدیث نقل کړیدی چه دې امت ته د تعریف ، عزت ، د اوچتوالي ، د دینداریٔ او زمکه کښې طاقت موندو خوشخبری (زیری) ورکړه .نو دوئ کښې چه څوک د آخرت بو کار د دنیا دپاره کوي نو د هغه په آخرت کښې ( د ثواب) هیڅ حصه نشته

: شارع هغه الفاظ لغو (فضول) کرځولی دی چه د هغې د معنو قصد متکلم نه وي کړی لکه د اودهٔ الفاظ ، د هیرونکی ، د نشې والا ،د جاهل او د مکره ( چه کوم کس باندې زور کړی شوی وي) مطابق د صحیح قول د عالمانو کښې . او د زیاتې خوشخالئ د وجې نه د هغه سړي الفاظ چه هغه

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


ته د ناامید کیدو نه پس خپله سورلي ملاؤ شوه نو خپله سورلي اونیوله او و ئی وئیل چه اللّٰهُمَّ انت عبدی وانا ربک .

یعني ای الله تعالی ته زما بنده ئی او زهٔ ستا رب یم.

او الله تعالی د منافقانو گواهي رد کړه (حالانکه دوئ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د رسالت گواهي کوله خو د زړه نه ئی نه کوله ) او دغه منافقانو ته الله تعالی دروغژن او دهوکه باز اوئیل. دارنگه یهودیانو چه کله د الله تعالی د طرف نه د حرام کړی شوؤ وازدو ویلې کول او خرخول شروع کړل نو رب العزت دوئ په لعنت کړل . په ضیاءالنور کښې مونږ د دې دپاره قاعده ذکر کړیده . نو د ثواب کارونو کښې (د ثواب) دارومدار په نیتونو دی او د خالص نیت نه بغیر هیڅ کار هم عبادت نه شي کیدی. او د مقدار، کیفیت او د عبادت د مقام باره کښې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام تابعداري لازمي ده.

نو د عبادت دپاره د ځان نه هیئت جوړول او د عبادت صورت (شکل) بدلول په هغه حیله کرو ته فائده ورنه کړي چه روا کښي هغه څه چه الله تعالی او د هغه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام حرام کړیدی. څکه چه دغه حیله کر قرآن لولي د خوراک او د پیسو دپاره او دا مړي ته د ثواب د تحفي بو شکل او صورت جوړوي . او دارنگه حیله د اسقاط هم ده چه د هغي د جواز صورت . د نیت د نه صحیح کیدو په صورت کښې هډو فائده مند نه دی لکه څنکه چه ( د غلط نیت په وجه) د خالي په ورځ د مهیانو ښکارو کونکو (بنی اسرائیلو) لره ( دغه حیلې) هیڅ فائده ورنه کړه.

هغوئ د مهیانو د رانیولو دپاره د نیولو صورت او هیئت بدل کړی وو نو الله تعالی دوئ نه بدشکله شادوکان جوړ کړل. حالانکه دغه خلقو نه د

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



تورات نه انکار کړی وو او نه ئی د نبوت د موسی علیه السلام نه انکار کړی وو.نو دغه حال د هغه خلقو دی چه ( ظاهر کښې ) قرآن مرو دپاره وائی او نیت ئی په دې باندې پیسې اغستل وي.

د ابن مبارک رحمه الله نه تپوس اوشه چه خلق څوک دي؟ نو هغه ورته اوئیل ا عالمان . بیا ترینه تپوس اوشه چه بادشاهان څوک دي؟ نو هغه اوئیل زاهدان یعنی د دنیا نه بې رغبته کیدونکي خلق . بیا ترینه تپوس اوشه چه "سفله" یعنی لاندې (بې کاره) خلق څوک دي؟ نو هغه ورته اوئیل چه هغه خلق چه په دین باندې دنیا خوري.[1]

امام سرخسی رحمه الله وائی چه د حکم مدار صرف مقصود باندې دی نه په ظاهري الفاظو باندې.[2]

او په مبسوط کښې هغه وائی چه عرف کښې مشهور په حکم کښې په شان د مشروط دی . : ٥٤ ج ١٢

او دارنګه په شرح د السیرالکبیر : ٢٣ ج ٤ کښې او شامی وائی : المعروف کالمشروط. ٤٨ ج٥ .

شرح د السیرالکبیر کښې وائی : چه مطلق کلام به مقید کولی شي په دلالت د عرف سره . : ١٦ ج٤

نو ته به وینې بدعتیان چه دوئ عبادت د دنیا د جمع کولو ذریعه ګرځولی ده . او دارنګه ناکاره ملیانو علم کسب ګرځولی دی. نو بعضو د دوئ نه د ختمونو (کاروبار) شروع کړیدی او بعضې د دوئ نه د عرس او میلاد

---

[1] کذافی المدخل : ٦٥ ج١ او صفوة الصفوة

[2] شرح سیر کبیر : ٢٣ ج٣

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



محلفونو کښې وعظونه ( تقریرونه ) کوي او دا ئې د خوراک او ګزران ذریعه ګرځولې ده.

د دې باره کښې ابن عبدالبر وائي چه خلاصه ئې داده چه څوک په علم فاني دنیایو څیز اخلي نو دې په شان د هغه سړي دی چه هغه سره قیمتي او عمده ملغلرې وي او دی هغه د اوښ په پچه یا په بو ګنده څیز چه بې فائدې وي نو په هغې ئې خرڅې کړي. نو دا حال د هغه سړي دی چه په خپل علم دنیا طلب کوي. او د ده نه ناکاره هغه څوک دی چه دنیا په ښکاره د زهد (یعنی د دنیانه په بې رغبتئ) طلب کوي نو دا ډیره بدترینه دهوکه ده.[1]

او ابن عبدالبر د سیدنا ابن عباس نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا ارشاد نقل کړیدی چه د دې امت عالمان په دوه قسمه دي یو قسم هغه عالمان چه الله تعالی په ورته علم ورکړی وي نو خلقو ته به ئې ښائي او دیاندې به سره زر نه اخلي او نه به پرې پیسې اخلي نو دغه عالمانو ته د آسمان مارغان، د دریاب مهیان او د زمکې زنده سره او کراماً کاتبین دعاګانې کوي. دویم قسم هغه عالمان دي چه هغوئ له به الله تعالی علم ورکړی وي نو خلقو ته به ئې نه ښائي او په دې به سره زر اخلي او پیسې به پرې اخلي نو داسې عالمان به د قیامت په ورځ داسې حال کښې راځي چه د اور واګې به ورته اچولې شوې وی.[2]

سیدنا شیخ عبدالقادر جیلاني وائي چه ته عمل د خلقو دپاره کوي

---

[1] جامع بیان العلم وفضله : ۱۷۵ ج ۱

[2] جامع بیان العلم وفضله : ۳۸ ج ۱

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



اوغواړي چه دا الله تعالى قبول کړي . الفتح الرباني: ٣٥

او هغه وائی : ای قومه زما ! په دې قرآن باندې ایمان راوړئ او عمل پرې اوکړئ او په خپلو عملونو کښې اخلاص پیدا کړې ځان خولی (ریاء) مه کوئ او خپلو عملونو کښې منافقت مه کوئ. او د خلقو نه ( دخپل عمل) صفت مه غواړئ او مه د دوئ نه د خپلو عملونو عوضونه اخلئ : ٦٤

او بل ځائې وائی : ته ناست په خپله عبادت خانه کښې ئې او زړه دِ د خلقو په کورونو کښې دی د خلقو د راتلو او د هغوئ د تحفون په انتظار ئې . عمر دِ ضائع شه : ٤٤

او بل ځائې وائي : چه ریاء کونکې منافق په دین باندې دنیا اخلي د نیکانو خلقو شکل جوړوي او اهلیت پکښې نه وي د هغوئ په شان خبرې کوي او دهغوئ په شان جامې (کپړې) اچوي او د هغوئ د عمل په شان عمل نه کوي .٨٠

او دارنګه هغه وائی "تعجب دی په تا باندې! دا ناکاره سپې د ښکار حفاظت زده کوي او خپل طبیعت (ترپا توب (حرص)) او شرارت (ناکار والي) پریږدي . او دارنګه د ښکار مارغه د تعلیم چه وجه د خپل طبیعت خلاف کوي. او دغه ښکارونه چه ته ئې دوئ ته حواله کوې نو دوئ ئې نه خوري . نو ستا نفس د تعلیم زیات حقدار دی . ته دي (نفس) له تعلیم او پوهه ورکړه چه ستا دین اونه خوري او توټې ئې نه کړی او د الله تعالى په امانتونو (حقونو) کښې خیانت او نه کړي. ٩١

دغه شان بل ځائی کښې هغه وائی چه په عمل کښې اخلاص فرض دی او په عمل باندې عوض نه اغستل فرض دي . : ٩٢

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



بل مقام کښې وائی چه ای د علم دعویداره! د دنیادارو نه دنیا غوښتونکیه ، دوئ ته ځان ذلیله کونکیه ، سره د علم نه ته الله تعالی گمراه کړې ئې ستا د علم نه برکت تلې دی گویا چه ستا د علم نه مغز ختم شویدی او صرف پوستکې ئې پاتې شویدی. او ای د عبادت داسې دعویداره چه د هغه زړهٔ مخلوق ته چغې وهې او د مخلوق نه یره او طمع کوې. ستا عبادت ظاهراً خو د الله تعالی دپاره دی خو باطناً د مخلوق دپاره دی . ستا ټول طلب او صبر د خلقو په لاسونو کښې د دراهمو ، دنانیزو او د دنیاوي فائدو په وجه دی . ۱۰۰

او بل ځائی کښې وائی چه ای خلقو هغه سړی پریږدئ چه داسې عمل کوي چه په هغې د خلقو رضا او قبولیت غواړي . (ځکه چه ) دی غلام دی د خپل مالک نه تختیدلې ، د الله تعالی دشمن دی او د الله تعالی او د هغه د نعمتونو منکر دی د الله تعالی په غصه کښې گرفتار او په لعنت شویدی . : ۱۲۱ . (دا حوالې ټولې د الفتح الرباني دی . از مترجم ).

امام مجدد الف ثاني شیخ احمد سرهنديؒ په خپل ۳۳ مکتوب کښې وائی چه ناکاره ملیان چه هغوئ د دنیا په محبت کښې گیر شویدي او علم ئې د دنیا د حاصلولو ذریعه جوړه کړیده .

مخکښې بیا وائی چه کوم څیز الله تعالی عزت مند کړی وي د هغې ذلیلول او چه کوم څیز الله تعالی ذلیل کړی وي د هغې عزت مند کول انتهائی ناکاره او بد دي. داسې کول اصل کښې د الله تعالی سره معارضه (مقابله ) ده . تدریس او فتوی ورکول په هغه وخت فائده مند وي چه کله خالص د الله تعالی د رضا دپاره وی .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


بیا وائی چه په دې مصیبت کښې مبتلا او د دې ذلیله دنیا په محبت کښې گرفتار ناکاره ملیان ، بدترین خلق او د دین ډاکوان دي .

بیا وائی چه د دین په اشاعت (خورولو) کښې چه څه کمزوري ښکاره شویده هغه ټوله د دې ناکاره ملیانو د نحوست او د دوئ د فساد په وجه ده .

## په مذکوره قاعدې باندې تفریع

دې بدعتیانو قرآن کریم د کسب ذریعه گرځولې ده. د قاري د قرآن دا حال دی چه د الله تعالی د رضا دپاره یو ټکې هم نه وائی . فقهاء کرامو رحمهم الله وئیلي دي چه اغستونکې او ورکونکې ( د اجرت په قرآن باندې دواړه گنهار دي که أجرت نه وی نو هیڅوا به د بل دپاره یو حرف هم نه وو وئیلې لکه څنگه چه دا په شفاءالعلیل کښې هم دی.

او دارنگه دوئ په امامت باندې (اجرت) اخلي. صاحب د مدخل : ۳۰۰ ج۲ کښې وائی چه پکار دی چه امامتئ ته هغه څوک مخکښې کړی شي چه په دې عوض نه اخلي نه هغه څوک چه په امامتئ عوض اخلي. نو که د اجرت اغستونکې نه بغیر بل څوک نه وو نو بعضې وائی چه دهٔ پسې مونځ جائز دی او بعضې ورته مکروه وائی او په فرض مونځ کښې به دا کراهت ډیر وي . امام شافعی رحمه الله دیته جائز وائی او امام اوزاعی رحمه الله وائی چه داسې سړی پسې مونځ کول باطل دي او امام ابو حنیفه رحمه الله او د هغه شاگردان ورته مکروه وائی.

خبر شئ څه په داسې زمانه کښې یم چه شریعت بدل کړی شویدی او خلقو عبادت ذریعه د گزران گرځولې ده . د ناکاره نیت دپاره صحیح الفاظ استعمالوي نو دوئ د هدیې (تحفې) په نوم رشوت روا اوگڼړه او د ډیرې په نوم ئې قتل ، د نکاح په نوم زنا او د منافع په نوم ئې سود روا اوگڼړه .

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



سندرغاړي ته "حُدی وبونکي"، ساز والا ته "قوال" او مداهنت کونکي ته ئي د "اصلاح کونکي" نوم کيخوده. او دهوکي ته ئی "سیاست"، دين پتولو ته "مصلحت"، د الله تعالی سره شریک کولو ته د "اولیاء کرامو تعظیم"، د قبرونو او بزرگانو عبادت ته ئی "تعظیم" وئیل شروع کړل. د الله تعالی د صفاتو نه انکار کولو ته ئی "تنزیه" او د الله تعالی صفاتو ثابتولو ته ئی "تجسّم" او بدعت ته ئی "سنت" اوئیل. نو دوئ د الله تعالی دين او احکام بدل کړل او الفاظ د خپلو معناګانو واړول. او زر دی چه پوهه به شي ظالمان چه څومره بدانجام ته دوئ واپس کيږي.

## شلمه قاعده

**د جهګړې په وخت (یو مسئله کښ) به د الله تعالی کتاب او سنتو د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام ته رجوع کولی شي.**

الله تعالی فرمائی: ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ [النساء: ٦٥]

"نه دی داسي کار څنګه چه د مخلوق ګمان دی مومنان نه شي کیدی دوئ څو پورې چه فیصله کن او نه ګرځوي تالره په هغه (مسئلو) کښ چه پیدا شوي وي په مینځ د دوئ کښ بیا دوئ نه موي په خپلو زړونو کښ څه تنګسیا (خفګان) د هغه نه چه تا فیصله کړې وي او غاړه کیږدي ستا سنتو ته غاړه کیخودل".

دې ایت کښ د "فیما شجر بینهم" مطلب دا دی چه کومو کارونو کښ د دوئ اختلاف وي. او د دې آیت حکم د قیامته پورې باقي دی.[1]

---

[1] روح المعانی: ۷۰ ج۵

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او الله تعالى فرمائي : ﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ [ النساء: ۵۹ ]

"ای مومنانو! حکم اومنئ د الله تعالی او حکم اومنئ د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام او کوم چه تاسو کښ اختیار مند دی. نو که ستاسو جهګړه راشي په یو څیز کښ نو واپس کړئ دي لره الله تعالی ته او پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام ته . که ستاسو ایمان وي په الله تعالی او په ورځ د آخرت".

په دې آیت کریمه کښ "اطیعو الرسول" نه مراد د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د سنتو تابعداري کول دي . نو الله تعالی د جهګړو دمعاملاتو خپل کتاب او سنتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته د واپس کولو حکم کړیدی. (دا حکم ئې نه دی کړی) چه د خلقو خیالاتو او رایو ته ئې واپس کړئ . او امام شافعی ؒ په خپله رساله کښ وائی چه الله تعالی ته واپس کول د هغه کتاب ته واپس کول دی او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د وفات کیدو نه پس هغه ته د واپس کولو نه مراد د هغه سنتو ته واپس کول دی.[1]

او دارنګه میمون بن مهران هم وائی څنګه چه مونږ په اول د کتاب کښ ذکر کړی وو. او الله تعالی فرمائی : ﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾ [ النور: ٦٣ ]

"او دِ یریږي هغه کسان چه مخالفت کوي د حکم د دهٔ ( د نبی ؐ ) دا چه اوبه رسیږي دوئ ته مصیبت یا به اورسیږي دوئ ته عذاب دردناک".

په دې آیت کښ وعید د هغه چا دپاره دی چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د سنتو

---

[1] الباعث : ۷

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



مخالفت کوي، او الله تعالی فرمائي ﴿ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ﴾ (الشورى ١٠)

"او هغه چه اختلاف اوکه تاسو په څه څيز کښ نو فيصله د هغې (واپس کړئ) الله تعالی ته"

حاکم د سيدنا ابوهريرة نه روايت نقل کړيدی چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : ما تاسو کښ دوه څيزونه پرېښودل چه د هغې نه پس به هيڅ کله تاسو ګمراه نه شئ (يو) د الله کتاب او (دويم) زما سنت ، او دا دواړه به حوض کوثر ته د رسيدو پورې هيڅ کله نه جدا کيږي .

او دغه شان روايت ابوبکر الشافعي په "الغيلانيات" کنز العمال : ١٥٤ ج ١ کښ هم ذکر کړيدی.

د انس نه روايت دی چه په خلقو به داسې زمانه راشي چه په هغې کښ به صرف په ګناه ګزران ممکن وي ترڅو پورې چه يو سړی به (د ګزران دپاره) دروغ وائی او قسم به خوري. نو کله چه دغه زمانه راشي نو لازم ده تاسو باندې تيختنه . تپوس اوشه د نبي عليه السلام نه چه چرته اوتختو؟ نبي عليه السلام اوفرمائی : د الله تعالی کتاب او د هغه د پيغمبر سنتو ته.[1]

هشام بن عروة به وئيل چه دې خلقو نه د ځان نه جوړ کړی شوؤ بدعاتو تپوس مه کوئ څکه چه دوئ ورله جواب تيار ساتلې دی خو دوئ نه د سنتو باره کښ تپوس اوکړئ دوئ سنت هدو پيژني هم نه. او سنتو نه اوړيدل (بنديدل) صفت د منافقانو دی. الله تعالی فرمائی : ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴾

---

[1] کنز العمال ص ١٧٧ ج ١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



[ النساء: ٦١ ]

"او کله چه اونیلې شي دوئ ته ، راشئ هغه ته چه الله تعالی رالیږلی دی او ( سنتو) د پیغمبرؐ ته . وینې به ته منافقان چه بندیږي به ستا نه په بندیدلو سره".

او الله تعالی فرمائی : ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ ﴾ [ محمد: ۳۳ ]

"ای مومنانو حکم اومنئ د الله تعالی او حکم اومنئ د پیغمبرؐ او مه بربادوئ خپل عملونه".

نو چا چه د قرآن او سنت مخالفت اوکه نو عمل ئې برباد شه او په آخرت کښې به د تاوانیانو نه وي. او الله تعالی فرمائی : ﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴾ [ محمد ۲۲ ]

نو تحقیق سره نزدې يئ تاسو که اختیارمند شوئ (حکومت درته ملاؤ شو) دا چه فساد به اوکړئ زمکه ( ملک ) کښې او پریبکړئ خپلولئ ستاسو.

نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د تعلق لحاظ کول ډیر بهتر او غوره دی . علامه ابو محمد عبدالرحمن بن اسماعیل سن ولادت ٥٩٤ ﻫ سن وفات ٦٦٥ ﻫ چه ابو شامه باندې مشهور دی هغه وائی چه یو عالم نه کوم واقعات او حادثې پیش کیږي او کوم شرعي مسائل چه د دهٔ نه ئې تپوس کیږي . نو دې باره کښې دهٔ باندې لازم دی چه د هغه حقیقت طرف ته رجوع اوکړي چه هغې باندې د الله تعالی نازل کړی شوی کتاب دلالت کوي. ( یا د هغه حدیث طرف ته ) چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه صحیح ثابت وي او چه په هغې د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د هغوئ نه پس د صدر اول د خلقو عمل وي . نو څه چه د دې

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



(ما خذونو) موافق دی د هغې اجازت ورکړی او څه چه د دې ( ماخذونو) نه مخالف وي د هغې نه خلق منع کړی او لرې ئې ترینه اوساتي . په دې صورت کښې به دی دغه (ماخوذونو) باندی ایمان راوړونکي او د دې تابعداري کونکي به وي . او چرې د یو څیز د ځان نه بنه نه ګڼړي څکه چا چه د ځان نه یو شي بنه اوګنړه نو دهٔ خپل شریعت جوړ که.[۱]

ابن رجب" وائی چه الله تعالی په خپل نبی عَلَيْهِ السَّلَام کتاب راولیږه او د کومو حلالو او حرامو چه ضرورت وو نو هغه ئې په دې (کتاب) کښې امت ته واضح کړیدی. لکه الله تعالی فرمائی : ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ [ النحل: ۸۹ ]

او رالیږلی دی مونږ تاباندې کتاب وضاحت کونکي د هر یو شي ( امورو د دین ).

امام مجاهد" د "کل شيء" په وضاحت کښې وائی چه هر هغه څیز چه د هغې دوئ ته حکم کړی شویدی او هر هغه څیز چه دوئ ترینه منع کړی شویدی او الله تعالی په آخر د سوره نساء کښې فرمائی : ﴿ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوْا ۚ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴾ [ النساء: ۱۷۷]

"بیانوي الله تعالی تاسو ته (نور احکام) چه ګمراه نه شئ تاسو او الله تعالی په هر څیز پوهه دی".

سوره نساء هغه سورت دی چه هغې کښې الله تعالی د مالونو او د ښځو ( پیسو) ډیر احکام بیان کړیدی.

او ابن رجب" مزید دا وائی چه د قرآن کریم هر هغه حکم چه واضح نه

---

[۱] الباعث : ۸

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



وي( مشکل وي) نو د هغې د واضح کولو ذمه داري نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته سپارلی شویده لکه د الله تعالی ارشاد دی : ﴿وَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ﴾ [النحل: ٤٤]

"او مونږ تا ته پند ( نصیحت ) رالیږلی دی دې دپاره چه ته بیان کړې خلقو ته هغه څه چه دوئ ته رالیږلې شویدی".

او نبي عَلَيْهِ السَّلَام الله تعالی هله وفات کړو چه هغه او د هغه امت لره ئې دین پوره (کامل) کړو . د دې وجې نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مرګ نه لږه موده مخکښ په عرفه کښ په نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا آیت نازل شه چه ﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ﴾ [مائده :۳]

"نن ما پوره کړو دپاره ستاسو دین ستاسو او پوره مې کړو په تاسو خپل نعمت او خوښ مې کړو دپاره ستاسو دین اسلام".

او نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمائیلي وو چه ما تاسو په یو صفا سپین دین باندې پریښودئ شپه د دې په شان د ورځې ده د دینه به صرف هلاکیدونکي کږیږی .

او ابو ذر ؓ وائی چه نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفات شو او د آسمان (په بلندئ) کښ دواړه وزرې خوزونکي هیڅ یو مرغئ نشته چه د هغې د حکم باره کښ مونږ ته نبي عَلَيْهِ السَّلَام خبره نه وي کړې .او کله چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په مرګ کښ خلقو شک اوکړو نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام تره عباس ؓ اوئیل چه په الله قسم ! پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام هله وفات شویدی چه د دین لاړ نه ئې واضحه شاهراه جوړه کړه . نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام حلال او حرام واضح واضح بیان کړل . نبي عَلَيْهِ السَّلَام نکاح هم کړیده جنګ ئې هم کړیدی او صلح (روغه ) ئې هم

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


کړیده.[۱]

شیخ عبدالقادر جیلانی "فتوح الغیب" کښې وائې چه او نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمائی چه څوک داسې يو کار کوي چه په هغې زمونږ د دين دليل نه وي نو هغه کار به مردود (ناقابل قبول) وي او دا حکم رزق ، عملونو او اقوالو ټولو ته شامل دی.نو زمونږ خو بل نبي نشته چه مونږ تابعداري اوکړو او نه زمونږ دپاره (د قرآن مجيد نه سيوا) بل کتاب شته چه په هغې عمل اوکړو. نو ( ای مخاطبه ) د قرآن او سنت نه بهرمه او څه ګنې تباه به شې او نفس او شيطان به دِ ګمراه کړی. الله تعالى فرمائی : ﴿ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ [ ص: ۲۶]

"دخواهش تابعداري مه کوه ګنې ګمراه به کړي تالره د الله تعالى د لارې نه".
د قرآن او سنت په تابعدارئ کښې سلامتيا ده او د دينه بغير نورو ( د قرآن او سنت خلاف) څيزونو کښې هلاکت دی او د قرآن او سنت په وجه بنده د ولايت درجې ته رسي .

او خپل بل کتاب الفتح الربانی : ۹۱ کښې وائی چه هر هغه څوک چه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام تابعداري نه کوي او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام شريعت په لاس کښې او قرآن مجيد بل لاس کښې اونيسي خو الله تعالى طرفته تلونکې لار کښې عمل نه کوي نو دغه کس به هلاک شي. خپله به هم ګمراه شي او نور خلق به هم ګمراه کوي. (ځکه چه ) قرآن او سنت دواړه الله تعالى طرف ته رهنمائی کونکي دي. قرآن کريم الله تعالى طرف ته ستا رهنمائی کونکې دی او سنت نبي عَلَيْهِ السَّلَام طرفته ستا رهنمائي کونکي دی . او دعوى د محبت (

---

[۱] جامع العلوم : ۵۹

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



دالله تعالی او د پیغمبر علیه السلام ) داسې دعوی ده چه هغه صرف په دوؤ ریښتینو او پاکبازو ګواهانو ( قرآن او سنت ) باندې ثابتیږي .

نو ګواهان په محبت د نبي علیه السلام تابعداري د قرآن او سنت ده لکه الله تعالی فرمائي: ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾ [العمران: ۳۱]

"اوايه! که تاسو مینه کوئ د الله تعالی سره نو زما تابعداري اوکړئ مینه به اوکړي تاسو سره الله تعالی".

نو دا (اتباع) د محبت دلیل دی. ګویا چه ټول خلق د نبي علیه السلام د محبت دعویدار وو. نو کله چه دوئ نه د دې دعوې دلیل اوغوښتلې شه نو ټول روستو شو. البته (صحیح معنوی کښې) د محبت کونکي (محبت) د خپل محبوب د اقوالو او افعالو د تابعدارئ په ذریعه ثابتیږي . بیا چه کله دوئ نه به دې قول د الله تعالی : ﴿ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ﴾ [المائده: ۵۴]

"جهاد کوی په لاره د الله کښې او نه بریږی د ملامتیا د ملامتګر نه".

د قربانۍ مطالبه اوشوه نو ډیر د محبت دعویدار د دینه روستو شو. او مجاهدین پاخیدل نو دوئ ته اوئیلې شو چه نفسونه د محبت کونکو او د دوئ مالونه ستاسو نه دی نو د خپل محبوب بیعت ته مخکښې شئ. (چه د دې آیت مصداق جوړ شئ ) ﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾[التوبه: ۱۱۱]

"یقیناً الله اغستي دي د مومنانو نه نفسونه او مالونه د دوئ په دې چه دوئ لره دی جنت".

نو د دغه خلقو محبت په موافقت د خپل محبوب کښې ښکاره شو د محبوب په

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



موجودګي کښې هم او غیر موجودګۍ کښې هم او په دشمن باندې دوئ حمله اوکړه.[1]

جنید بغدادی په همیشه وئیل چه زمونږ دا علم د قرآن او سنت سره مقید دی نو چا چه قرآن نه وي یاد کړی او حدیث لیکي او پوهیږي پرې نه نو د دهٔ اقتداء او تابعداري به نه شي کولی.[2]

او د دهٔ نه علاوه یو عارف بالله وئیلي دي چه هر هغه حقیقت چه نه وي لګیدلي هغې پسې شریعت نو دغه (حقیقت) کفر دی.

جنید بغدادی وائی چه زمونږ دا علم، د پیغمبر علیه السلام د حدیثو سره داسې تړلي شویدی لکه د دواړو لاسونو ګوتې چه یو بل کښې ورکړی شي.

ابو سلیمان الدارنی وائی چه (بعضې وخت) زما په زړهٔ کښې د صوفیاء کرامو د نکتون نه یو نکته راځي خو صرف د ربښتینو ګواهانو یعنی د قرآن او سنت په ذریعه ئې منم.

نصر آبادی وائی چه د دې مذهب اصل بنیاد د قرآن او سنت تابعداري، د خواهشاتو او بدعاتو پریښودل او د سلف صالحینو اقتداء او تابعداري او روستنو خلقو چه څه خرافات جوړ کړیدي د هغې پریښودل او د ړومبنو خلقو لاره باندې قائم اوسیدل دي.

د بزرګانو د دې اقوالو خلاصه دا ده چه مونږ به د هر نوي کار باره کښې وایو چه ایا دا د دین (د کارونو) نه دی یا نه؟ نو که د دین نه نه وي نو بیا خو هیڅ جهګړه نشته. او که د دین نه وي نو ایا الله تعالی خپل نبی ته د

[1] مدارج السالکین ص۱۰ ج ۳

[2] مدارج السالکین : ۱۴۳ ج ۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


دې حکم کړی وو او که نه ؟ نو که الله تعالی حکم نه وي کړی او ستا نفس (دغه کار) د ځان نه جوړ کړی وي نو تا داسې څیز شریعت جوړ کړو چه د هغې حکم الله تعالی نه دی کړی. الله تعالی فرمائي : ﴿ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ ﴾ [ الشورى: ۲۱]

"ایا دوئ لره حصه داران دي چه واضح کړی ئې دی دوئ لره د دین نه هغه چه د هغې اجازت الله تعالی نه دی کړی.

او که الله تعالی خپل نبي ته د دې حکم کړی وي نو ایا دا نبي عَلَيْهِ السَّلَام بیان کړیدی ( نو که بیان وي بیا خو) دا سنت دی او که (معاذالله) پټ کړی ئې وي او عمل ئې پرې نه وي کړی او مونږ ته ئې نه وي بیان کړی حالانکه دغه وخت د تشریع او د بیان وو ( که دا دویم ستا خیال وي) نو تا په نبي عَلَيْهِ السَّلَام عیب اولګو او نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته دِ نسبت د دین پټولو اوکړو . حالانکه الله تعالی فرمائي: وما هو على الغيب بضنين. [ التكوير: ۲٤ ]

"او نه دی دا (پیغمبرؐ) په غیبو باندې بخیل".

او بل ځائې فرمائي : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ﴾ [مائده :٦٧]

"ای پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام! اورسوه هغه چه رالیږلی شویدی تا ته ستا د رب د طرف نه او که تا دا کار اونه کړو نو تا د الله تعالی پیغام اونه رسو".

حافظ ابن قیمؒ د دې آیت ﴿ وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴾ [ الفرقان: ۲۳]

"او مونږ به وړاندې شو هغه ته چه دوئ کړی وو څه عمل نو اوبه ګرځو دې لره غبار نوستې شوی".

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



لاندې ليکي چه دينه مراد هغه اعمال دى چه د سنتو خلاف وي يا د الله تعالى د رضا دپاره ئى نه وي کړى.[1]

نو چا ته چه الله تعالى د خپل پيغمبرؑ محبت نصيب کړى نو هغه پيغمبرؑ خپل امام، معلم او استاذ، شيخ او قائد ګرځوي لکه څنګه چه الله تعالى پيغمبر عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ لره رسول، رهنما، زيرى ورکونکې او يره ورکونکى ګرځولې دى. نو دغه سړى د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ سنت، سيرت او فيصله د خپل زړه په روحانيت سره حکم کونکې او منع کونکى او واجب الا طاعت ګرځوي. او په ويښه، خوب، حرکت، سکون، خپلو دوستانو او اهل وعيال سره ژوند تيرولو، (دشمنانو سره) دشمنئ کولو، (د محبوبانو سره) محبت کولو، غمونو او خوشحالو کښې (هر حال کښې) د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ تابعدار وي. ګويا چه دغه سړى د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ د صحابه کرامو نه د يو صحابي په شان د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ سره وي. چه د هغوئ خائى د اوسيدو هم بنائسته دى او آرام ګاه هم بنائسته.

---

[1] مدارج السالکين ص ۹۰ ج ۲.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



## خـــاتمـــــه

### د رسمـــونو پرېښودل هـــم د دين حصـــه ده.

الله تعالی فرمائي: ﴿ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ [البقره: ۱۸۹]

"او دا نیکي نه ده چه تاسو راتله کوئ کورونو ته د شاګانو د دینه او راځئ کورونو ته په دروازو د دې او د الله تعالی نه اوبېرېږئ خامخا تاسو به کامیاب شئ".

دا آیت هغه وخت نازل شوی وو چه کله یوسړی د انصارونه په دروازه کور ته لاړ او دا رسم ئې مات کړو. (عام خلق) چه به کله د حج نه واپس شونو کورونو ته به په دروازون نه تلل. نو یو سړي د حج نه واپس شه او په دروازه کور ته داخل شه ګویا چه دی په دروازه تیر شه.[1] (یعنی رسم ئې مات که) او دارنګه مسئله د ظهار او د متبنّی د ښځې سره (د هغه د مرګ یا طلاق نه پس )د نکاح نه کولو مسئله وه. دا ټول د عربو داسې رسمونه وو چه ځان باندې ئې لازم کړځولي وو. نو الله تعالی په دوئ باندې رد اوکه او دینه ئې منع کړل. نو رسم د یو جائز کار په ځان باندې لازم کرځولو ته وائي چه د هغې نه کونکې ناکاره او بد ګڼړلې شي او کوُنکی ئې ښه (سړی) ګڼړلی شي. (او زمونږ علاقو کښې) د وادهٔ، سنت او غم په موقعو چه کوم کارونه خلقو په ځان لازم کرځولي دي نو هغه داسې رسمونه دی چه یو حالت کښې ئې هم نه پرېږدي. د غریبۍ، تنګدستۍ او مشکلاتو باوجود ئې کوی. او ډیرې طبقې په دې رسمونو کښې اخته شویدي دوئ

---

[1] اسباب النزول للواحدی ص ۳۶

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



باندې ګزران تنګ شوېدی تردې پورې چه د دې رسمونو په وجه دوئ د ډېر ګناهو نو مرتکب شو او خپلولئ ئې پرېکړې. دا اصل کښې د ښځو دين دی. نو ته به وينې دوئ لره چه دې (رسوماتو) کښې دوئ ډېر کوشش کوي او هره ورځ په ديکښې زيادت کوي او دې باره کښې ډېر اسراف کوي او د نورو ناجائزو او غلط کارونو ارتکاب هم کوي. او د دې رسمونو باره کښې خلقو حلال ، حرام کرځولی دی او حرام ئې حلال ګرځولی دی. او په خلقو د رسم ، مصالح مرسلۀ او د بدعت کښې فرق مشتبه (ګډوډ) شوېدی. او منشاء د اشتباه جاري کېدل د دې (دربواړو څيزونو) د يو کندې (څائې ) نه دی.

ځان پوهه کول پکار دی چه رسم د خپل اصل په اعتبار د بدعت اضافيه په شان مباح او جائز څيز وي خو د التزام په وجه مذموم (بد) ګرځي ( دوئ په دې التزام کوي) د دې پورې چه دغه رسم پرېښودنکي د خلقو په نزد بدګنړلی شي او طعن پرې وئيلي شي.

مصالح مرسله په نظر راتلونکي هغه مناسبت او د مقصود حاصلولو هغه اهمې ذريعې ته وائې چه د هغې نه بغير يو واجب نه شي پوره کېدی خو ( شرط دا دی چه ) خلق دا ذريعه دين نه ګنړي . دې وجې نه چه دا د بدعاتو او رسوماتو شکل اختيار نه کړي. نو دا "مصالح مرسله" بنيادي طور باندې جائز او مستحسن دی ځکه چه دا د مقاصدو حاصلولو ذريعې دي. دغه شان اضافي بدعات د خپل اصل په اعتبار جائز وي ځکه چه دا د شارع نه نقل وي. خو په وجه د زياتولو د يو وصف يا ځان نه د هيئت جوړولو يا د يو وخت يا يو ځائې پورې د خاص کولو د وجې مذموم

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


(ناجائز) گرځي . ځکه چه بدعتي د ځان نه نوی دين جوړ که يا ئی ځان د شارع په شان گنړلی دی او داسې ځيز دين گنړي چه د هغې حکم الله تعالی نه دی کړی. لکه مونځ او صدقې (خيراتونه ) او د قرآن تلاوت وغيره ټول کارونه د شارع نه نقل دي او جائز دي خو چه بدعتي ورله يو وصف سيوا کړي نو بيا بدعت گرځي لکه د رغائب مونځ ، د قضاء عمری مونځ ، د جمعې په شپه او د خلوينتئ نه پس صدقه کول ، او د جمعې په شپه سورة ملک لوستل .

او " حقيقي بدعات " هغه ټول افعال او اقوال دی چه د هغې شريعت کښې هيڅ اصل ( بنياد) نه وي لکه شرکيه وسيلې نو څنگه چه مونږ د حقيقي او اضافی بدعاتو نه منع کړی شوي يو نو دارنگه د رسمونو نه هم منع شوي يو.

امام شاه ولی الله الدهلویؒ وائی چه د دې خلقو څه عادتونه دی چه په هغې کښې افراط او تفريط کوي. نو په دې دواړو (افراط او تفريط) کښې زياتې او مخ اړول د الله تعالی نه راځی لکه چه يو سړی په لباس کښې ډير تکلف کوي او بل سړی بالکل بربنډوي. يا يو سړی ډيره غوښه اوخوري او بل سړی دا بالکل پريږدي. نو مصلحت تقاضا اوکړه چه داسې طريقه متعين کړی شي چه خلق د هغې نه تجاوز اونه کړي. دغه شان د جائز او ناجائز په مينځ کښې راتلونکې نور کارونه هم دی چه د هغې په وجه د دۀ دين او مال ته يا بل کس ته ضرر (نقصان) رسي . نو دلته هم د حکمت تقاضا دا شوه چه خلقو له داسې عبادتونه مقرر کړی شي چه هغه به يو اعتبار بعينه د سزاگانو کار کوي .

او بل ځائی کښې وائی چه د خلقو بعضې ناکاره اخلاق دي چه هغه د فساد

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


بنيادونه دي نو د هغې دفع كول او د هغې مقابله كښې بنه صفات حاصلول واجب (لازم) دي.

امام احمدؒ د سيدنا عمرؓ روايت نقل كړيدى چه هغې ته ابن حبانؒ او ابن حزيمه صحيح وئيلي دي. هغه روايت دا دى چه الله تعالى په رخصت باندې عمل كول خوښوي لكه څنگه چه نافرماني نه كول خوښوي.

او بل روايت كښې (آخري فقره داسې ده: كما يحب ان توتى عزائمه.

"يعني رخصت باندې عمل كول دومره خوښوي څومره چه لازمي احكامو باندې عمل كول خوښوي".

علامه ابن قيمؒ په "الاغاثه" كښې وائى چه سيدنا انسؓ وائى چه مونږ د عمرؓ سره ناست وو نو ما د هغه نه واوريدل چه هغه وئيل. مونږ د تكلف نه منع كړى شوي يو.[١]

نو په يو مباح عمل كښې په نيت د التزام سره دننه كيدل په داسې شان چه په دې عمل هميشگيري اوكړى شي نو بنده ستومانه كوي، (نو دغه عمل مناسب ده) چه مكروه شي ځكه چه ديكښې ډير نقصات دي. (١) يو د هغې نه دا چه دغه سړى آسانتيا نه گرانتيا جوړوي او الله تعالى فرمائى: ﴿ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ﴾ [البقرة:١٨٥]

"الله تعالى غواړي په تاسو آسانتيا اونه غواړي په تاسو گرانتيا".

(٢) دويم نقصان دا چه رسم او رواج عاجز كيدو، د مال كموالي او تنگدستئ ته مفضي كيږي.

(٣) دريم نقصان دا دى چه بعض د دې په وجه يو مسنون كار يا خو

[١]- الاغاثة ص ١٥٩ ج ١

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



پرېښودی شي او یا روستو کولی شي . لکه (د ماشوم) سنت او وادهٔ . چه کله د دوئ طاقت نه وي په هغه کارونو چه ځان باندې لازم کړېدی یعنی د خوراکونو، د جامو او تحفو وس (طاقت) ئی نه وي نو دا ( سنت ، واده) روستو کوي یا ئی پرېږدي.

(٤) څلورم نقصان دا دی چه داسې کول په دین کښې زیاتې دی . څکه چه دوئ دا ( رسمونه) لکه د دین په ځان لازم کړځولی دی. نو ناجائز کارونه د جائز کارونو سره یو ځائی کولی شي.

(٥) پنځم نقصان دا دی چه رسم د فسق وفجور او د تکبر او د ریاء جرړه ده .

(٧) اووم نقصان دا چه د " رسم" دپاره تکلفات کولی شي . امام احمد بن حنبل رح چه د سیدنا عمر رض نه کوم روایت نقل کړېدی چه د هغې تصحیح ابن حزیمه او ابن حبان هم کړېده هغه مونږ ذکر که .

په فتاوی بزازیه : ٥٤ ج ١ کښې دی چه کوم څیز لازم نه وي ( د شریعت د طرف نه ) نو د هغې دپاره التزام تکلف کول نامناسب خبره ده .

شاطبي رح په کتاب الاعتصام کښې وائی د هغې حاصل دا دی چه داسې یو کار کښې چه هغه د عادت د قبیلې نه وي ، شروع کول په التزام سره چه کله په هغې همیشوالې اوکړی شي نو د هغې نه ستړې والی او ستومانتیا پیدا کیږي . نو پکار دا ده چه بالکل د ابتداء (شروع) نه دغه عمل د لاندې ذکر کړی شوؤ وجو نه مکروه اوګنړلې شي.

دوهم وجه : دا ده چه الله تعالی دین انتهائی آسان کړېدی او دا التزام کونکې دین ګرانوي.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


دویمه وجه : د غلطو رسمونو په وجه دیني کار نه ځان عاجز او کوتاهه کول دي.

دریمه وجه : دا ده چه ځان باندې د لازم کړی شوي عمل په وجه زړه کښ د ستومانتیا یره وي.

څلورمه وجه : دا ده چه دا عمل خپله انسان خوښ نه وي او کله کله دا عمل پرېښودی شي نو د دې په وجه هغه وعده ماتېږي چه دهٔ کړې وي.

پنځمه وجه : دا ده چه دین کښې د زیاتي او د حد نه د تېرېدو یره وی ( چه هغه هر حال کښې ممنوع کار دی).

او کوم عمل باندې چه د همیشوالي ترغیب راغلې دی نو د هغې نه مراد لږ عمل دی چه بوجهـ کېږي نه او اسلافو کښې چه چا په داسې (مباح یا مستحب) اعمالو همیشکیري کړیده نو هغوئ د دې طاقت لرهٔ په هغوي دا عمل نه بوجه کیده.

نو د دې تفصیل نه دا معلومه شوه چه مباح کارونه چه کله عام شي او د هغه عباداتو په شان اوګرځي چه د ځان نه جوړ کړی شوي وي او امت کښې جاري وي او عمل پرې دیر شوی وي نو دغه (مباح کارونه ) د بدعاتو په شان ناجائز ګرځي. عادي امور کله هم بدعات نه شي کیدی خو چه د دې التزام اوکړی شي(نو بیا بدعات ګرځي) او دا منع کونکې روایاتو په ذیل کښې داخلیږي لکه څنګه چه مونږ دیارلسمه قاعده کښې د دې بیان کړیدی.

مونږ چه څه ذکر کړل د هغې نه معلومه شوه چه " رسم " هغه قول او فعل ته وائي چه په خلقو کښې د دوئ د عباداتوچه په خلقو کښې د دوئ د

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے


عباداتو په حواله پیدا شوي دي. او دوئ دا د خپلو مشرانو نه زده کړې وي تر دې پورې چه دا نسل درنسل او پیړۍ په پیړۍ بو دائمي طريقه اوګرځي. بیا خلق دا التزام سره کوي تر دې پورې چه څوک ئې نه کوي یا ئې خلاف کوي نو هغه ته بدرد وئيلې شي او د دې (رسم) نه کونکي ملامته کوي. نو که دا دوئ دین ګنړي نو دا بدعت وصفی دی او که دین ئې نه ګنړي نو بیا رسم او رواج دی. او ټول هغه مباح کارونه چه ځان باندې لازم کړې شي نو هغه خراب رسمونه دي. په دیباندې رد کول واجب دي. او د دې وضاحت اوس مونږ په یو څو مثالونو سره کوؤ.

بعضې د دې ( رسمونو) نه د مختلف قسم دیني منصبونو او عهدو مثلاً قضاء ، خطابت او امامت بطور میراث حاصلول . نو که دا ( عهدې حاصلول بطور میراث) دین ګنړي نو دا بدعت دی لکه څنګه چه د مشائخو په اولاد کښ دا مصیبت دی . او که دا دین نه ګنړي نو بیا د هغه کارونو نه دي چه شریعت ترینه منع کړیده. د دې حدیث د لاندې دغه کارونه داخل دي(نبی عَلَیْهِالسَّلَامْ فرمائی) چه" خلق به جاهلان مشران کړې نو دوئ به بې د علم نه فتوې ورکوي خپله به هم ګمراه وي او نور خلق به هم ګمراه کوي) .

او بعضې د دینه دا ( رسم ) هم دی. چه ټول کارونه د معاش (ګزران) لکه په طب (ډاکټرائ) ، هندسه (انجینئرنګ) ، علم د هیئت او د ژبو زده کول بنیادي طور باندې مباح کارونه دي خو کله چه دا دین اوګنړلې شي نو بیا بدعات ګرځي. نو څوک چه دې فنونو پوهه د عالمانو د دین نه شمیري نو دهٔ بدعت جوړ که . او دارنګه منطق او فلسفه هم دي که خلق ئې دین ګنړي

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نو بدعت دی او عالم د فلسفې او منطق عالم د دین نه دی.

شیخ شهید مجاهد امام مولانا محمد اسماعیل په "ایضاح الحق": ۹۳ کښې وائی چه او څوک چه علوم د فلسفې د علومو د اسلام نه شمیري نو دا حقیقي بدعت دی .او د دې وجې نه د دې علومو لوستل په جماتونو کښې حرام دي او دیکښې مشغولیدل حرام دي. او مونږ په "ضیاءالنور" کښې د دې علومو د حراموالی باره کښې اقوال د ائمؤ ذکر کړیدی.(۱)

امام شاه ولی الله الدهلوی وائی چه ځان بچ کړه د توجه کولو نه اقوالو د هغه خلقو نه چه ځان ته فلسفیان وائی . دا هغه خلق دی چه الله تعالی سره دعلم نه گمراه کړیدی او دوئ ئی د تباهۍ په ځائی کښې بند کړیدی چه دوئ د هغې نه ځائی د خلاصې نه مومي. (۲)

او بعضې د دې (رسمونو) نه . نظمونه او نعتونه وئیل جائز او مباح دي. خو په دیکښې د حد نه تجاوز کول یا دا دین گنړل د بدعاتو نه دي. ( او د نظمونو ، نعتونو دپاره) د بی گیرې هلکانو په ممبرونو (استیجونو ) باندې اودرول ، د عرس ، میلاد او د وعظ په محفلونو کښې په ښائسته آواز نظمونه او نعتونه وئیل ، ډیر بدترین دي. په دیباندې رد پکار دی او کومو محفلونو کښې چه دوئ او د دوئ دعوت وي نو د هغې نه ځان بچ کول پکار دي.

او بعضې د دینه . هغه څه دي چه فلاسفه ئی په "الهیاتو" کښې ذکر کوي یعنی ترکیب عقلي ، عینیت ، د صفاتو زیادت ، د عقولو اثبات ، صورت ،

---

۱- والتفصیل فی ضیاءالنور ۲۶۶ ج ۱

۲- الخیر الکثیر : ۱۳

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



نفوس او تنزلات خمسه وغيره كه دوئ دا دين گنړي نو دا بدعاتِ حقيقيه دي. او بعضې د دينه . د خاص لباس التزام كول لكه څنگه چه د پيرانو او مشائخو دپاره جوړولې شي . يا كار كسب كښې شرم كول لكه چه دا كار په اولاد د زاهدانو او عالمانو كښې موجود دی. او دارنگه هغه ټول كارونه چه د ماشوم د پيدائش په موقع كولی شي يعنی تحفې تقسيمول ، ډولكي غږول ، د ښځو تخنيک كول ( چه كهجوره او ژوی او ماشوم له ئې وركړی نو دا كار سړو له پكار دی) . او په يو خاص ورځ كښې د ماشوم د مور پاڅيدل او په دغه ورځ د ښځو جمع كيدل ، ماشوم څخه چارهٔ يا اوسپنه كيخودل د وجې د يرې ضرر د پيريانو نه وغيره دا ټول خراب رسمونه دی. په ديكښې په زركونو روپئ الوزولې شي . دارنگه د ماشوم د سنت په موقع دعوت كول چه د هغې نه بغير هډو ماشوم نه سنتوي (١).

دارنگه په دغه موقع خلق جمع كول . د كور د مالک ځت گانړه وي څو بورې چه زركونه ئې نه وي لگولې. او فقهاء كرامو چه كوم د ختنې د دعوت ذكر كړيدی نو د هغې مطلب دا دی چه كله ماشوم ښه شي او زخم ئې جوړ شي نو د الله تعالى د شكر ئې په طور د خلقو دعوت اوكړي.

دارنگه په كوژدن او وادهٔ كښې چه كوم كارونه په خان لازمی گنړلې شي ( نو هغه هم رسمونه دي ) لكه د كېږو زباتوالې ، د ښځو او سړو تيل تال ، د نكريزو استعمالول وغيره چه ديكښې هم زركونه لگي.

---

١- د ماشوم د سنت په موقع خلق جمع كول او ديته حاضريدل بدعت دی لكه مدخل : ٤٣ ج ٤ او امداد المفتين : ١٢١ : ١٧٢ او فتاوی ديوبند : ١١٨ او مدخل : ٢٨٩ ج ٣ كښې ذكر كوي.

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے



او غم کښې چه کوم کارونه لازم ګڼرلي شي نو هغه اکثر بدعات دي او کم تر رسمونه دي.(دا مجموعه) د پنځوسو نه زیاتیږي لکه مړي باندې ویر ( په تیزه تیزه ژړا) کول ، د مړي خښولو کښې روستووالي ،او په اجنبي (پردی) باندې مړي ته غسل ورکول ، او کله چه مړی لامبولو له واغستې شي نو هغه وخت ژړا کول او چه کله مقبرې ته اوړې شي نو هغه وخت ژړا کول، دارنګه د مړي نه د جامو اوښکلو په وخت کښې، کفن کښې فضول خرچي کول او د کفن ټکړې دپاره د اغستلو ، د جنازې نه پس دعا کول ، په لامبولو د مړي اجرت اغستل ، هلته پیسې غرځول، د جنازې په وخت د حاضرینو خوشحالی کول او ځان غمژن نه ښکاره کول، د مړي د کټ نه روستو خبرې کول ، او په جنازه کښې فدیه تقسیمول ، یو بل ته ښنل را ښنل ، د یتیمانو مالونه تقسیمول او خوړل ، د دفن په موقع د قرآن مجید تلاوت کول ، په قبرونو باندې د بل ځائې نه خاورې اچول ، د قبرونو چونه کول (پخول) ، په قبرونو ګلونه اچول ، د قبرونو قسما قسم نقش ونګار کول ، په قبرونو تختې لګول ، او په هغې د مړي نوم او د هغه د مرګ تاریخ لیکل ، د نمر د ډوبیدو نه مخکښې په قبر ډیوې بلول ، د مړي کور کښې میلمستیا ، د مړي د غسل په ځائې کښې ډیوه کیخودل ، په دریمه ورځ د مړي جامې وینځل ، د مړي د دفن نه مخکښې خوراک نه کول ، کار کسب نه کول، دریو ورځو نه زیات غم کول ، په جمعه او اخترونو کښې د غم تازه کول ، د کلیزې په موقع غم تازه کول ، په مړي ژړا کول ، په کفن فخر او لوئ کول ، د مړو دپاره (په اجرت باندې) ختمونه کول ، په قبر کښې اذان کول ، د پردو ښځو راتلل ، دارنګه د نفاس ، د حیض او د جنابت والا خلقو

Scanned by CamScanner

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے




Scanned by CamScanner